بسم الله الرحمن الرحيم

القراءة الراشدة

لتعليم اللغة العربية والثقافة الاسلامية

بطرز جديد

الجزء الثاني (٢)

پښتو مترجم

مع الحواشي والتعليقات

تأليف

ابي الحسن علي الحسني الندوي رحمه الله تعالى

ژباړه، تشريح او تصحيح

د ډېرو كتابونو مؤلف، ژباړونكى، تصحيح كوونكى او تعليقات او حاشيه كوونكى او د كريميې مدرسې مهتمم او د دار الافتاء خادم مناظر اهل السنة والجماعة ابو الاخلاص مولوي مفتي نيك محمد صاحبزاده الفقهي الحنفي النقشبندي الكريمي

مكتبة الحراء ارگ بازار كندهار



Maktaba Tul Ishaat



تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

maktaba.tul.ishaatofficial@gmail.com

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

د کتاب پېژندنه

نوم: **القراءة الراشدة** لتعليم اللغة العربية والثقافة الاسلامية **الجزء الثاني**

مؤلف: **ابي الحسن علي الحسني الندوي رحمه الله تعالى**

ژبـــــاړه، **ابو الاخلاص مولوي مفتي نیک محمد صاحبزاده حنفي نقشبندي كريمي**

تشريح او **فاضل المدرسة النورية دار العلوم علامه ابو الفيض كندهار**

تصحيح: **سابقه مدرس: المدرسة الحسنية في جامعة الحبشية**

فعلاً مهتمم: المدرسة الكريمية دار العلوم قندهار لمفتي أبي الاخلاص

۹ ناحيه، لويه وياله د ډبرو پُل كندهار افغانستان

د اړیکو شمېرې: **اداره: ۰۷۱۱۱۱۰۷۶۹**

مهتمم: ۰۷۰۴۲۷۵۳۳۵

دارالافتاء ۰۷۰۷۸۰۳۳۰۴

تصحيح: **پخپله مؤلف**

د چاپ شمېر: **۱۱۰۰ یو زر او سل ټوکه**

د چاپ کال: **۱۴۰۳ ه ش. مطابق ۱۴۴۶ ه ق.**

کمپیوټري چاري: **محمدنبي حقدوست (۰۷۰۷۴۲۸۱۱۶)**

چاپ چاري: **مكتبة الحراء**، ارگ بازار كندهار افغانستان

د لاسته راوړلو پتې:

د کندهار ښار ارگ بازار، مکتبه الحراء، مکتبه ودودية، مکتبه غفارية، د عبد الحي کتابخانه او کريميه مدرسه او د قلات بازار، خيرخواه کتب خانه

د قراءة الراشده له سختو لغاتونو څخه موږ عجیب ډېر ستړي وو، ډېري زیاتي پوښتني کېدلې، نو ځکه مو دا کار وکړ چي د قراءة الراشده موږ پښتو ته وژباړئ، تر څو نفعه یې عامه سي.

مفتي أبو الاخلاص صاحب



بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ



محترمو مسلمانانو ورونو! په دې قراءة الراشدة باندې مو تر خپله وسعه پوري خواري وکښله، اللّٰه تعالی دې یې قبول کړي او اللّٰه رب العزت دې د نور خدمت توفیق هم راکړي، آمین ثم آمین

والسلام

ابو الاخلاص

فهرست

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(١)

شَهَامَةُ الْيَتِيْمِ (١)

د يتيم شجاعت (زړورتيا)

تَـرَوْنَ اَمَامَكُمْ صُوْرَةَ مَسْجِدٍ، هٰذَا مَسْجِدُ
تاسو خپل مخي ته د يوه مسجد انځور وينئ. دا د رسول الله ﷺ
النَّبِيِّ ﷺ فِي الْمَدِيْنَةِ الْمُنَوَّرَةِ، هَـلْ تَعْرِفُوْنَ
مسجد دئ په مدينه منوره کي، ايا تاسو پوهېږئ
مِنْ خَبَرِ هٰذَا الْمَسْجِدِ شَيْئًا؟ اِنَّ لَـهُ تَارِيْخًا
د دي مسجد په اړه په يو شي؟ دا مسجد داسي تاريخ لري
يَغْتَبِطُ بِــهِ كُلُّ طِفْلٍ مُّسْلِمٍ. لَمَّا دَعَا رَسُوْلُ اللّٰهِ
چي هر ماشوم پري خوشحاله کيږي. کله چي رسول الله صلی الله عليه وسلم
ﷺ النَّـاسَ اِلَى اللّٰهِ فِيْ مَكَّةَ، وَنَادٰى فِي النَّاسِ
په مکه کي خلک الله تعالی ته راوبلل او په خلکو کي يې آواز وکړ چي
(لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ) غَضِبَتْ قُرَيْشٌ
له الله تعالی پرته بل د عبادت لائق نشته او محمد د الله رسول دئ، نو قريش په غوسه سول

---

(١) له دي درس څخه شاګردان بايد شجاعت (زړورتيا) زده کړي او د ځان عادت يې وګرځوي. ١٢ ن

وَكَانَتْ تَعْبُدُ الْأَصْنَامَ، وَكَانَتْ فِي الْكَعْبَةِ الَّتِيْ

او هغوی د بتانو عبادت کاوه او په هغه کعبه کي چي

بَنَاهَا إِبْرَاهِيْمُ وَإِسْمَاعِيْلُ عَلَيْهِمَا الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ

ابراهيم او اسماعيل عليهما الصلوة والسلام جوړه کړي وه

لِعِبَادَةِ اللّٰهِ وَحْدَهُ: كَانَ فِيْ تِلْكَ الْكَعْبَةِ ثَلَاثُ

چي يوازي د الله تعالی عبادت پکښي وسي، په همدې کعبه کي درې

مِائَةٍ وَّسِتُّوْنَ صَنَمًا، فَاشْتَعَلَتْ قُرَيْشٌ غَضَبًا

سوه او شپېته (۳۶۰) بتان وه، نو قريشو سخت مخالفت وکړ

وَّآذَوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ وَعَذَّبُوا الْمُسْلِمِيْنَ، فَصَبَرَ

رسول الله صلی الله عليه وسلم او مسلمانانو ته يې تکليفونه ورکول نو رسول

رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَصَبَرَ الْمُسْلِمُوْنَ وَثَبَتُوْا لَهُمْ

الله صلی الله عليه وسلم او مسلمانانو صبر وکړ او داسي ثابت ورته ودريدل

كَالْجِبَالِ. وَلٰكِنَّ قُرَيْشًا كَانُوْا يَمْنَعُوْنَ النَّاسَ

لکه غرونه، ليکن قريشو به خلک منعه کوله

عَنِ الْإِسْلَامِ وَيَحُوْلُوْنَ بَيْنَ الْمُسْلِمِيْنَ وَعِبَادَةِ

له اسلام څخه او د مسلمانانو او د الله تعالی د عبادت تر منځ به يې مشکلات

اللّٰهِ، فَأَذِنَ اللّٰهُ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ بِالْهِجْرَةِ،

جوړول، نو الله تعالی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته د هجرت اجازه ورکړه

فَهَاجَرَ إِلَى الْمَدِيْنَةِ وَهَاجَرَ الْمُسْلِمُوْنَ، وَكَانَتِ

نو رسول الله صلی الله عليه وسلم او مسلمانانو و مديني ته هجرت وکړه او

اَلْمَدِيْنَةُ اَرْضًا طَيِّبَةً لِّلْاِسْلَامِ، فِيْ اَهْلِهَا لِيْنٌ
او مدينه منوره د اسلام لپاره يوه ډېره غوره مځکه وه، په اوسېدونکو کي يې نرمي
وَّرِقَّةٌ، قَدْ اَسْلَمَ مِنْهُمْ كَثِيْرٌ قَبْلَ الْهِجْرَةِ.
او مهرباني وه، چي ډېرو يې د هجرت ترمخه لا اسلام منلى وو.
وَلَمَّا انْتَقَلَ النَّبِيُّ ﷺ مِنْ مَّكَّةَ اِلَى الْمَدِيْنَةِ
او کله چي رسول الله صلى الله عليه وسلم له مکې څخه مدينې ته انتقال سو
وَسَكَنَ هُنَالِكَ اَحَبَّ اَنْ يَّبْنِيَ مَسْجِدًا، لِاَنَّ
او هلته استوګن سو، نو ويې غوښتل چي يو مسجد جوړ کړي ځکه چي
اَلْمَسْجِدَ لَازِمٌ لِلْمُسْلِمِيْنَ، وَهُوَ قُطْبٌ يَدُوْرُ
د مسلمانان لپاره مسجد اړين دئ، او مسجد مدار او مرکز
حَوْلَهُ رَحَى الْحَيَاةِ الْاِسْلَامِيَّةِ. وَكَانَ النَّبِيُّ
ګېڼل کيږي د اسلامي ژوندانه لپاره، او رسول الله صلى الله عليه وسلم
ﷺ نَازِلًا فِيْ بَيْتِ اَبِيْ اَيُّوْبَ الْاَنْصَارِيِّ رَضِيَ
د ابو ايوب انصاري رضي الله عنه په کور کي مېشت وو
اللهُ عَنْهُ وَكَانَ ضَيْفًا عَلَيْهِ، وَكَانَ قَرِيْبًا مِنْ
او د هغه رضي الله عنه مېلمه وو او د هغوى کور ته نږدې
بَيْتِهِ مِرْبَدٌ، فَاَرَادَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَنْ يَّبْنِيَ
يوه خالي ميداني وه، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وغوښتل چي
اَلْمَسْجِدَ فِيْ ذٰلِكَ الْمَكَانِ، قَالَ رَسُوْلُ اللهِ
په همدې ځاى کي مسجد جوړ کړي، رسول الله صلى الله عليه وسلم

ﷺ: لِمَنْ هٰذَا الْمِرْبَدُ؟ قَالَ رَجُلٌ مِنَ
وويل: دا ميداني د چا ده؟ له انصارو څخه يوه سړي
الْاَنْصَارِ اسْمُهُ مُعَاذُ بْنُ عَفْرَاءَ: هُوَ يَا رَسُوْلَ
چي نوم يې معاذ بن عفراء وو، وويل: اې رسول الله صلى الله عليه وسلم
اللهِ! لِيَتِيْمَيْنِ، اِسْمُ اَحَدِهِمَا سَهْلٌ وَاسْمُ
دا د دوو يتيمانو ده چي د يوه نوم سهل دئ او د
الثَّانِيْ سُهَيْلٌ(١). طَلَبَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ سَهْلًا
بل نوم يې سهيل دئ. رسول الله صلى الله عليه وسلم سهل او سهيل
وَّسُهَيْلًا، وَهُمَا وَلَدَانِ يَتِيْمَانِ، فَلَمَّا حَضَرَا،
راوغوښتل، هغوی دواړه يتيمان هلكان وه، نو كله چي هغوی حاضر سول
كَلَّمَهُمَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فِيْ اَمْرِ الْمِرْبَدِ وَثَمَنِهٖ.
رسول الله صلى الله عليه وسلم له هغو سره د ميدانۍ او د هغې د قيمت په اړه خبري وكړې
قَالَ سَهْلٌ وَسُهَيْلٌ: هُوَ يَا رَسُوْلَ اللهِ! لِلّٰهِ،
سهل او سهيل وويل: اې د الله تعالى رسوله! دا ميداني د الله تعالى لپاره ده
لَا نَشْتَرِيْ بِهٖ ثَمَنًا، فَابْنِ الْمَسْجِدَ وَقَدْ طَابَتْ
موږ يې په پيسو نه سو خرڅولای، تاسو مسجد پرې جوړ كړئ او موږ به
بِهٖ اَنْفُسُنَا، وَلٰكِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ اَبٰى
په دې ډېر خوشحاله سو. مګر رسول الله صلى الله عليه وسلم دا كار ونه كړ

(١) نومونه يې لا آسانه دي او په دي نومونو سره نيک فالي هم كول كيږي. ١٢ ن

وَاشْتَرٰى مِنْهُمَا الْمَكَانَ، وَدَفَعَ الثَّمَنَ. وَبَنَى
او له هغوى څخه يې دغه ځاى رانيوى او پيسې يې وركړې او بيا مسلمانانو
الْمُسْلِمُوْنَ الْمَسْجِدَ، وَرَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَعْمَلُ
مسجد جوړ كړئ، او رسول الله صلى الله عليه وسلم هم كار كاوه
بِيَدِهِ وَيَنْقُلُ اللَّبِنَ، فَقَالَ قَائِلٌ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ:
په خپل لاس مبارك يې خښتې وړلې، له مسلمانانو څخه يوه وويل:
لَئِنْ قَعَدْنَا وَالنَّبِيُّ يَعْمَلُ
كه چيرې موږ ناست يو او پيغمبر صلى الله عليه وسلم كار كوي
لَذَاكَ مِنَّا الْعَمَلُ الْمُضَلِّلُ
نو دا به خامخا زموږ لپاره د ګمراهۍ (او شرم) عمل وي
وَكَانَ الْمُسْلِمُوْنَ يَبْنُوْنَهُ وَيَقُوْلُوْنَ:
او مسلمانانو به مسجد جوړاوه او ويل به يې:
اَللّٰهُمَّ لَا عَيْشَ اِلَّا عَيْشُ الْاٰخِرَةِ
اي الله! اصلي ژوند خو د آخيرت دئ
فَارْحَمِ الْاَنْصَارَ وَالْمُهَاجِرَةَ
نو پر انصارو او مهاجرينو باندې رحم وكړه.
وَقَدْ زَادَ فِيْ هٰذَا الْمَسْجِدِ اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ
او بيا پراخې وكړه په دې مسجد كې امير المؤمنين

عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَالْمُلُوْكُ
عثمان بن عفان رضي الله عنه، او تر هغه وروسته
بَعْدَهُ، حَتّٰى تَرَوْنَهُ فِيْ هٰذَا الشَّكْلِ.
نورو باچاهانو، تر دې چې تاسو يې په دې شکل کې وينئ.

الاسئلة [1]

(۱) اين يقع المسجد النبوی؟

(۲) الی ای شیء دعا رسول الله ﷺ الناس؟

(۳) کيف واجه المسلمون عذاب المشرکين؟

(۴) اذکر مراحل بناء المسجد النبوی فی المدينة المنورة؟

(۵) من وسع المسجد النبوی؟

حدد الخبر فيما يلی:

ان المسجد لازم للمسلمين، وهو قطب يدور حوله رحی الحياة الاسلامية.

(۱) محترم استاذ دې له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کې ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(٢)

كِسْرَةٌ مِّنَ الْخُبْزِ (١)

د ډوډۍ ټوټه

مَرَّةً اَخَذْتُ كِسْرَةً مِّنَ الْخُبْزِ لَاٰكُلَهَا فَقَالَتْ:
يو ځل ما د ډوډۍ يوه ټوټه را واخيسته چي ويې خورم، نو هغې راته وويل:
مَهْلًا يَا سَيِّدِىْ! اِنَّكَ غَيْرُ جَائِعٍ، وَقَدْ اَكَلْتَ
مه بېرېږه اې صاحبه! ته وږى نه يې، او تا زما ډېري خوندي
اَخَوَاتِيْ، اَفَلَا تُحِبُّ اَنْ اَقُصَّ عَلَيْكَ قِصَّتِيْ،
خوړلي دي، نو ايا ته نه غواړې چي زه مي خپل قصه درته وکړم؟
فَاِنَّهَا غَرِيْبَةٌ وَاِنَّهَا لَذِيْذَةٌ. قُلْتُ: بَلٰى اُرِيْدُ
ځکه هغه ډېره عجيبه او په زړه پوري ده؟ ما ورته وويل، هو، زه غواړم
اَنْ اَسْمَعَ قِصَّتَكِ، فَلَا اٰكُلُكِ حَتّٰى اَسْمَعَ مِنْكِ.
چي ته خپله قصه را ته واوروې. تر څو چي زه ستا ښخه قصه اورم نه دي خورم.
قَالَتْ: هَلْ تَظُنُّ يَا سَيِّدِىْ! اَنِّىْ خُلِقْتُ هٰكَذَا؟
هغې وويل: اې صاحبه! ايا ته فکر کوې چي زه همدا سي پيدا سوې يم؟

(١) عجيبه ښه له حکمت ښخه ډکه واقعه ده، فافهم ان كان الفهم والا فلا. ١٢ ن

هَلْ سَمِعْتَ اَنَّ الْخُبْزَ يَنْبُتُ فِى الْحَقْلِ اَوْ يَنْزِلُ
ايا تا اورېدلي دي چي ډوډۍ په كرونده كي شنه كيږي او يا دا چي
مِنَ السَّمَاءِ؟ اِنَّكَ تَـاْكُلُ مُسْتَرِيْحًا يَـاْتِيْكَ
له آسمانه را كښته كيږي؟ ته په ډېري آرانۍ سره خپل خوراك كوې او تا ته
رِزْقُكَ رَغَـدًا، وَلٰكِنِّىْ لَمْ اَزَلْ اَتَحَمَّلُ الْمَشَاقَ
تيار رزق راځي، مګر ما ستا لپاره ډېري تكليفونه پر ځان
لِاَجْلِكَ، وَاَخْرُجُ مِنْ مُّصِيْبَةٍ اِلٰى مُصِيْبَةٍ وَمِنْ
تېر كړي دي او ره به يوه مشكل څخه وبل مشكل ته او له
مَّحْبِسٍ اِلٰى مَحْبِسٍ حَـتّٰى وَصَلْتُ اِلٰى يَدِكَ. كَانَ
يوه زندانه وبل زندان ته راغلي يم تر دې چي ستا لاس ته رسيدلي يم. زما
مِنْ خَبَرِىْ اَنِّىْ كُنْتُ حَبَّةَ حِنْطَةٍ مَعَ شَقِيْقَاتِىْ
قصه دا سي وه، چي زه د غنم يوه دانه وم له خپلو ملګرو سره
فِىْ غِرَارَةٍ، فَجَاءَ اِلَيْنَا رَجُلٌ، فَـاَخَذَنِىْ مَـعَ
په يوه بوجۍ كي وم، نو موږ ته يو سړى راغلى، نو زه يې راو اخيستم
رَفِيْقَاتِىْ، فَبَذَرَنَا فِى التُّرَابِ. هُنَالِكَ فِى الْحَقْلِ
له خپلو ملګرو سره او موږ يې په خاورو كي وپاشلو، هلته په كرونده كي
اَبْـصَرْتُ الدُّنْيَا وَاَصَابَتْنِى الشَّمْسُ وَكُنْتُ
ما دنيا وليدله پر ما باندي لمر ولګېدى او زه

مَسْرُوْرَةً جِدًّا، وَلٰكِنْ نَزَلَ الْمَطَرُ، وَدَخَلْتُ

ډېره خوشحاله وم، مګر باران واورېدی او زه يې د خاورو

اِلٰى بَاطِنِ التُّرْبَةِ، وَبَقِيْتُ مَدْفُوْنَةً اَيَّامًا،

نس ته کښته کړم او زه څو ورځي همداسي ښخه پاته سوم

وَاَخَذَ جِسْمِىْ يَكْبُرُ وَجِلْدِىْ يَضِيْقُ عَلَيَّ،

زما صورت په غټېدو شروع وکړم او پوست مي را باندي تنګ سو

حَتّٰى انْشَقَّ جِلْدِىْ، وَخَرَجَ مِنْهُ جُذَيْرَاتٌ

تر دې چي زما پوست وچاودی او له هغه څخه کوچنۍ ريښې راووتلې

كَالشَّعْرِ، ثُمَّ خَرَجَتْ وُرَيْقَاتٌ شَفَتِ التُّرْبَةَ،

لکه وريښتان، وروسته کوچنۍ پاڼي راووتلې چي خاوره يې څنډله

وَظَهَرَتْ فَوْقَ الْاَرْضِ، فَكُنْتُ يَا سَيِّدِىْ!

او د مځکي پر سر ښکاره سوې، نو اې صاحبه زه يو

سُنْبُلَةٌ قَائِمَةٌ عَلٰى سَاقٍ. ثُمَّ اَصْبَحْتُ سُنْبُلَةً

وږی وم، پر تنه ولاړ وم، وروسته يوه ورځ زه يو وږی سوم

صَفْرَاءَ فِيْ حَرَارَةِ الشَّمْسِ، وَكُنْتُ اَرٰى

چي د لمر په ګرمۍ کي ژړ سوم، ما به مي خپلي

صَدِيْقَاتِيْ وَكُنَّا نَتَحَدَّثُ وَنَهْتَزُّ طَرَبًا، وَكَانَتْ

ملګري ليدلې او موږ به خبري سره کولې او په خوښي مو سروه خوځول وا دا

اَيَّامًا جَمِيْلَةً. وَمَا طَالَتْ تِلْكَ الْمُدَّةُ فَقَدْ جَاءَ
يو څو ښکلي ورځي وې، خو دغه مده ډېره اوږده نه سوه، يو ځل
رِجَالٌ يَحْمِلُوْنَ الْمَنَاجِلَ، فَحَصَدُوْا وَحَمَلُوْا،
خلګ راغلل چي لوورونه ورسره وه، نو موږ يې ورېبلو او يو يې وړلو
وَانْتَقَلْتُ اِلٰى بَيْدَرٍ وَمَكَثْتُ اَيَّامًا وَكَانَ مِنْ
او زه يې درمند ته يوړم او څو ورځي هلته وم او دا پر ما
اَشَدِّ الْاَيَّامِ فَقَدْ جَاءَ ثِيْرَانٌ فَدَاسَتْنَا
هغه ډېري سختي ورځي وې، بيا غوايان راغلی او موږ يې په خپلو
بِاَقْدَامِهَا، وَفَارَقْتُ السُّنْبُلَةَ، وَكُنْتُ طَرِيْحًا
پښو سره وکوټلو او زه يې له وږی څخه جلا کړم او زه کمزوري
ذَلِيْلًا. ثُمَّ اَخَذَنَا رِجَالٌ وَذَرَوْنَا فِي الرِّيْحِ،
او خواره سوم، وروسته خلګو موږ واخيستلو او موږ يې هوا (باد) ته پرېښوولو
فَطَارَ الْقِشْرُ وَبَقِيَ الْقَمْحُ. وَكَانَ اَشَدَّ مِنْ ذٰلِكَ
نو پروړ والوتی او خالص غنم پاته سوه او تر دي ټولو ډېره سخته
كُلِّهٖ: اَنَّ رَجُلًا حَمَلَنِيْ اِلٰى شَيْءٍ مُّدَوَّرٍ مِّنَ
هغه وه چي يو سړی زه په يوه ګردي شي کي چي له ډېري جوړ وو
الْحَجَرِ، فِيْهِ ثَقْبٌ، وَكُنْتُ اَسْمَعُ لَهٗ صَوْتًا
واچولم، په هغه کي سوری وو، او ما به د هغه ږغ اورېدی

شَدِيْدًا كَرِيْهًا وَجَعْجَعَةً، فَأَلْقَانِيْ فِيْهِ

چي ډېر سخت، بد او غرغرک بږغ وو، زه يې په هغه کي واچولم

فَطَحَنَنِيْ طَحْنًا. هَلْ تَعْرِفُ اسْمَهُ يَا سَيِّدِيْ؟.

نو زه يې ټوټه ټوټه (ميده ميده) کړم، اې صاحبه! ايا ته پوهېږې چي د هغه نوم څه وو؟

ذٰلِكَ هُوَ الطَّاحُوْنُ اَوِ الرَّحٰى. فَلَمَّا صِرْتُ دَقِيْقًا

دا هغه د غنمو ژرنده يا مېچن وه، نو کله چي زه وړه وګرځېدم

اَخَذَنِيْ الْخَبَّازُ وَوَضَعَنِيْ فِيْ مِعْجَنَةٍ، وَغَمَرَنِيْ

نانوای زه واخيستم او د اړو په کاسه کي يې واچولم او زه يې په پاکو

بِالْمَاءِ النَّقِيِّ، وَعَمَزَنِيْ، حَتّٰى صِرْتُ عَجِيْنًا،

اوبو سره خيشته کړم او ويې اغږلم، تر دې چي زه خيشته وړه سوم

فَصَنَعَ مِنِّيْ كُرَةً. هُنَالِكَ جَاءَتِ الْمُصِيْبَةُ،

نو زما څخه يې يوه غوټه جوړه کړه، همدلته نو پر ما باندي سخت مشکل راغلی

فَقَدْ دَحَانِيْ عَلٰى حَدِيْدٍ مُّحْمًى تُسَمُّوْنَهُ

زه يې پر يوه پهاور سره سوي وسپنه باندي کښېښودلم چي تاسو هغه ته

الطَّابَقَ، لَا تَسْئَلْ يَا سَيِّدِيْ! عَنْ اَلَمِيْ

تنور واياست، اې صاحبه! زما د درد پوښتنه مه کوه،

وَاحْتِرَاقِيْ فَقَدِ الْتَوَيْتُ وَانْكَمَشْتُ، وَلٰكِنَّ

او زه سوځل کېدم، راتولېدلم او تپېدلم مګر

الْخَبَّازَ لَمْ يَرْحَمْنِيْ وَلَمْ يَرِقَّ لِيْ، حَتّٰى كُنْتُ
نانوای پر ما هيڅ رحم نه کاوه او نه يې زړه رابانديسوځاوه، تردې چې زه
رِقَاقًا. كُلُّ ذٰلِكَ فِيْ سَبِيْلِكَ يَا سَيِّدِيْ! كُنْتُ
ډوډۍ سوم. نو اې صاحبه! دا هر څه ستا په لار کې (ستا لپاره) وه. زه
اَشْقٰى لِنَعِيْمِكَ وَاَتْعَبُ لِلَذَّتِكَ، وَاَنْتَقِلُ مِنْ
ستا د نعمت لپاره وځورېدلم او ستا د خوند لپاره وځوکلېدلم، او زه انتقال سوه
طَوْرٍ اِلٰى طَوْرٍ، لِتَاْكُلَ هَنِيْئًا وَتَشْبَعَ، اَفَلَا
له يوه حالته بل حالت ته، ترڅو ته مې په خوند وخورې او موړ سې، نو ايا
يَحْسُنُ بِكَ اَنْ تَقُوْلَ: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ
ته دا غوره نه ګڼې چې ووايې: ټولې ستاينې هغه الله تعالى لره دي
اَطْعَمَنِيْ وَسَقَانِيْ وَجَعَلَنِيْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ.
چې په ما يې ډوډۍ وخوړله او زه يې اوبه کړم او زه يې له مسلمانانو څخه وګرځولم.

الاسئلة [۱]

(۱) اين ينبت القمح؟

(۲) بأى شيء يحصد الفلاح سنابل القمح الصفراء؟

(۳) اين يطحن القمح؟

(۴) اين يخبز الدقيق المعجون بالماء؟

(۵) ماذا تقول اذا شبعت؟

استخرج الضمائر المتصلة فيما يلى:

جاء رجال يحملون المناجل فحصدوا وحملوا.

اخذنى الخباز ووضعنى فى معجنة وغمزنى بالماء النقى

(۱) محترم استاذ دي له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کې ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ۱۲ ن

(۳)

عِيَادَةُ الْمَرِيْضِ[۱]

د ناروغ پوښتنه

ذَهَبَ حَامِدٌ اِلَى الْمَدْرَسَةِ يَوْمَ السَّبْتِ فَوَجَدَ
حامد د شنبې په ورځ مدرسې ته ولاړی، نو ويې موندله
اَنَّ صَدِيْقَهُ حُسَيْنًا مَا حَضَرَ فِي الْمَدْرَسَةِ،
چې ملګری يې حسين مدرسې ته نه دې راغلی
فَسَئَلَ اَخَاهُ عَلِيًّا عَنِ السَّبَبِ، فَقَالَ: اِنَّهُ
نو له خپل ورور علي څخه يې د علت پوښتنه وکړه. هغه ورته وويل: هغه
مَحْمُوْمٌ مِّنْ يَوْمِ الْخَمِيْسِ، فَعَزَمَ حَامِدٌ
د پنجشنبې له ورځې څخه تبه لري، نو حامد پرېکړه وکړه
عَلٰى اَنْ يَّعُوْدَهُ فِي الرُّجُوْعِ مِنَ الْمَدْرَسَةِ. ذَهَبَ
د دې چې له مدرسې څخه په ستنېدو کې به د هغه پوښتنه وکړي، نو حامد
حَامِدٌ اِلٰى بَيْتِ حُسَيْنٍ فَسَلَّمَ وَاسْتَأْذَنَ،
د حسين و کور ته ورغلی سلام يې ورته وواييه او اجازه يې وغوښته

(۱) د ناروغ پوښتنه له يوه اړخه د پيغمبر عليه الصلوة والسلام سنت طريقه ده او له بله اړخه وصله رحمي ده او له بله اړخه له ښو اخلاقو څخه شمېرل کيږي، د انسانيت يوه لازمي دنده ده او داسې نورې مهمې برخې هم لري. ۱۲ ن

فَخَرَجَ اَبُـو حُسَيْنٍ، قَالَ حَامِدٌ: اِنِّيْ اُرِيْـدُ اَنْ
نو د حسين پلار راووتی، حامد وويل: زه غواړم چي
اَعُوْدَ صَدِيْقِيْ حُسَيْنًا فَقَدْ اَخْبَرَنِيْ عَلِيٌّ اَنَّـهُ
د خپل ملګري حسين د ناروغۍ پوښتنه وکړم، علي راته وويل چي هغه
مَرِيْضٌ، قَالَ اَبُوْهُ: نَعَمْ! اِنَّهُ اَصَابَتْهُ الْحُمّٰى
ناروغ دئ. د هغه پلار وويل: هو، د هغه تبه ده
يَوْمَ الْخَمِيْسِ، وَيُمْكِنُكَ اَنْ تَعُوْدَهُ. صَعِدَ
د پنجشنبي څخه، او ته کولای سې د هغه پوښتنه وکړې، حامد
حَامِدٌ اِلَى السَّطْحِ، وَدَخَلَ غُرْفَةَ حُسَيْنٍ،
بام ته پورته سو او د حسين کوټې ننوتی
فَرَاٰى حُسَيْنًا مُضْطَجِعًا، فَسَلَّمَ عَلَيْهِ بِلُطْفٍ،
حسين يې وليدی چي پر اړخ پروت وو، نو په نرمۍ سلام ورته وواپه
وَدَنَا مِنْهُ[1] وَقَالَ لَهُ: كَيْفَ حَالُكَ يَا اَخِيْ عَافَاكَ
او پوښتنه يې وکړه او ورته يې وويل: ته څنګه يې، اې وروره! الله تعالی دي
اللهُ. قَالَ حُسَيْنٌ: قَدْ اَصَابَتْنِي الْحُمّٰى يَـوْمَ
صحت دي کړي. حسنين وويل: زما تبې کيږي د پنجشنبې له

(۱) و ناروغ ته ښه ور نژدې کېدل او د هغه پر تندي لاس ور ايښوول مستحب طريقه ده، له دې سره بايد ځانونه عادت کړو. ۱۲ ن

الْخَمِيْسِ، وَكَانَتْ شَدِيْدَةً يَّوْمَ الْجُمُعَةِ،
ورځي شخه، او د جمعې په ورځ مې تبه سخته وه
وَخَفَّتْ فِي اللَّيْلِ، وَلٰكِنِّيْ أَشْكُو الصُّدَاعَ
او د شپې ځه سپکه سوه، مګر د سر درد او ګنګستيا
وَالدُّوَارَ، وَقَدْ ضَعُفْتُ كَثِيْرًا، كَأَنِّيْ مَرِيْضٌ
مې په تکليفوي، او زه ډېر کمزوری سوی یم، لکه زه چې له څو ورځو شخه
مُنْذُ أَيَّامٍ، وَلَا أَشْتَهِي الطَّعَامَ. قَالَ حَامِدٌ:
ناروغ یم، د خوراک اشتها نه لرم. حامد وويل:
لَا بَأْسَ طَهُوْرٌ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ، وَهَلْ عَادَكَ طَبِيْبٌ؟
پروا نه لرې، ان شاء الله تعالی روغ به سې. او ایا ډاکټر درته راغلی وو؟
قَالَ حُسَيْنٌ: نَعَمْ قَدْ عَادَنِيْ طَبِيْبٌ أَمْسِ،
حسين وويل: هو ! پرون ډاکټر راغلی وو
وَمَوْعِدُهُ الْآنَ. وَلَمْ يَجْلِسْ حَامِدٌ إِلَّا قَلِيْلًا،
او اوس يې همد راتګ وخت دئ. او حامد لا دومره وخت نه وو کښېنستلی
حَتّٰى حَضَرَ الطَّبِيْبُ فَجَسَّ يَدَ حُسَيْنٍ، وَقَاسَ
چې ډاکټر راغلی، نو د حسين د لاس نبض يې وکتی او تبه يې
الْحَرَارَةَ، وَامْتَحَنَ الصَّدْرَ بِالسَّمَّاعَةِ،
اندازه کړه، او د سينې معاينه يې ورته وکړه

وَاَبْدَى الْاِرْتِيَاحَ، وَغَيَّرَ فِي الْوَصْفَةِ قَلِيْلًا،
ډاکټر خوښي وښوده او په نسخه کي يې څه تغير راوستی
وَقَالَ: اِنَّهُ بَارِئٌ بِحَمْدِ اللهِ، وَاَوْصٰى اَبَاهُ بِاَنْ
او ويې ويل: دی ښه کېدونکی دئ الحمد لله، او د هغه پلار ته يې توصيه وکړه چي
يَّحْمِيَ حُسَيْنًا الْمَاءَ الْبَارِدَ وَالزَّيْتَ وَالْخُرُوْجَ
بايد حسين له يخو اوبو، غوړو خوراکونو او زيات چکر وهلو
فِي الْهَوَاءِ وَالتَّعَبِ، وَيَسْقِيَهُ اللَّبَنَ وَمَاءَ
او ستړيا څخه وساتل سي او ورته شيدې، د وربشو
الشَّعِيْرِ وَمَاءَ الْفَوَاكِهِ. وَجَلَسَ حَامِدٌ قَلِيْلًا،
اوبه، او د مېوو جوس ورکړئ. حامد لږ وخت نور هم کښېنستی.
وَقَالَ: اِنَّ الْعَائِدَ اِذَا اَطَالَ الْجُلُوْسَ عِنْدَ
او ويې ويل: کله چي پر ناروغ پوښتنه کوونکی له ناروغ سره زيات وخت
الْمَرِيْضِ، شَقَّ عَلَيْهِ وَعَلٰى اَهْلِ بَيْتِهِ،
کښېني نو پر هغه او د هغه پر کورنۍ باندي تکليفيږي
فَاَسْتَاْذِنُ وَاَنْصَرِفُ، وَاَعُوْدُ اِنْ شَاءَ اللهُ غَدًا.
زه اجازه غواړم، بيرته ځم، ان شاء الله سبا به بيا راسم.

الاسئلة [1]

(١) لِمَ لَمْ يَأْتِ حسين الى المدرسة؟

(٢) على اى شيء عزم حامد؟

(٣) باى شيء اصيب حسين؟

(٤) ماذا يقول زائر المريض للمريض؟

(٥) كيف نتخلص من المرض؟

اشر الى المفعول به فى الجمل التالية:

حضر الطبيب فجس يد حسين، وقاس الحرارة، وامتحن الصدر بالسماعة.

ابدى الارتياح، وغير الوصفة، واوصى حسينا بالحمية.

---

(١) محترم استاذ دې له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کې ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(۴)

اَلْكِيْمِيَاءُ[۱]

کېمياء

كَانَ	الْاَوْلَادُ	يَتَحَـــدَّثُـــوْنَ	فِي اللَّــيْلِ
ماشومانو به د شپې خبرې سره کولې			
وَيَــتَسَامَرُوْنَ،	وَكَانَ	اَكْثَرُ	حَـدِيْثِهِمْ
او ساتېرى به يې کاوه، د هغوى زياتې خبرې به			
عَنِ الْكِيْمِيَاءِ،	وَكَانَ	اِسْمَـاعِيْلُ	يَقُـوْلُ:
د کيمياء په اړه وې. او اسماعيل به ويل چې			
سَمِــعْتُ	اَنَّ	شَيْخًا	يُحَــوِّلُ	التُّرَابَ ذَهَـبًا،
ما اورېدلي دي چې يو شيخ خاورې په سرو زرو بدلوي			
وَيَجْعَلُ	نُقُوْدَ	النِّيْكَلِ	وَالرَّصَاصِ: دَنَانِيْرَ
او د نيکل او د ږېړې سکې په طلايي ديناروනو			
ذَهَــبِيَّةً	وَجُـنَيْهَاتٍ.	وَصَـدَّقَهُ مَحْـمُوْدٌ،	وَقَالَ:
او ګونجي سره بدلوي. محمود يې خبره ومنله او وېې ويل:			

(۱) يوه ظاهري کېميا ده، په جامع العلوم او مصطلح العلوم او داسې نورو کتابونو کې سته خو حقيقي کېميا د امام غزالي رحمه الله تعالى په کيمياى سعادت کې ليکلې ده، هغه بايد عملي کړل سي. ۱۲ ن

نَعَمْ! اِنَّهُ فَنٌّ كَانَ النَّاسُ يَعْرِفُوْنَهُ، وَلٰكِنِ

بلې هو، دا يو هنر وو چې خلک په هغه پوهېدل مګر

انْقَرَضَ عُلَمَاءُ هٰذَا الْفَنِّ، وَطُوِيَ ذٰلِكَ

د دې هنر پوهان له منځه تللي دي او دا د علم ځادر نور

الْبِسَاطُ . فَتَأَسَّفَ الْاَوْلَادُ كَثِيْرًا، وَحَزِنُوْا،

ټول سوی دئ. ماشومانو ډېر افسوس وکړ او غمجن سول

وَقَالُوْا: لَوْ وَجَدْنَا اَحَدًا يَعْرِفُ هٰذِهِ الصَّنَاعَةَ،

او ويې ويل: که چيري موږ يو کس پېژندلای په دغه مهارت پوهيږي

لَتَعَلَّمْنَاهَا مِنْهُ، وَصِرْنَا اَغْنِيَاءَ بِدُوْنِ تَعَبٍ

نو موږ به خامخا دا هنر ځني زده کړی وای، او موږ به پرته له ستړيا او تکليفه

وَّمَشَقَّةٍ. وَكَانَ اَبُوْهُ بِمَسْمَعٍ مِّنْهُمْ، فَقَالَ:

شتمن سوي وای. د هغوی پلار چي د دوی خبري يې اورېدی، وويل:

لَا تَتَأَسَّفُوْا يَا اَوْلَادِيْ فَاِنِّيْ اَعْرِفُ الْكِيْمِيَاءَ،

اې ماشومانو! تاسو مه غمجن کېږئ، ځکه چي زه په کيمياء پوهېږم

وَاَنْتُمْ اَعَزُّ النَّاسِ عِنْدِيْ، اَنَا اُعَلِّمُكُمْ غَدًا،

او تاسو ما ته تر ټولو زيات ګران ياست، زه به سبا تاسو ته هغه در زده کړم

وَاُخْبِرُكُمْ بِصِنَاعَةِ الْكِيْمِيَاءِ. فَرِحَ الْاَوْلَادُ

او تاسو ته به د کيمياء هنر در زده کړم، نو ماشومان ډېر خوشحاله

كَثِيْرًا، وَنَظَرَ بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضٍ وَّشَقَّ عَلَيْهِمْ

سول او څينو وځينو نورو ته وكتل او پر دوى باندي سخته سوله

اَنْ يَّنْتَظِرُوْا اِلَى الصَّبَاحِ، فَاسْتَطَالُوا اللَّيْلَ،

چي تر سهاره پوري انتظار وكړي، نو شپه ورباندي ډېره اوږده سوه

وَلٰكِنَّ وَالِدَهُمْ قَالَ لَهُمْ: لَا يُمْكِنُ تَعْلِيْمُ

مګر پلار يې دوى ته وويل: د كيمياء زده يوازي

الْكِيْمِيَاءِ اِلَّا فِي النَّهَارِ، فَاِنَّ ذٰلِكَ فَنٌّ دَقِيْقٌ.

او يوازي په ورځ كي كول كيږي. ځكه چي دا يو دقيق هنر دئ.

نَامَ الْاَوْلَادُ، وَانْتَبَهُوْا مُبَكِّرِيْنَ، وَلَمْ يَزَلْ

ماشومان ويده سول، او وختي راويښ سول، او لا هم...

اِسْمَاعِيْلُ وَمَحْمُوْدٌ يَرَيَانِ الْكِيْمِيَاءَ فِي

اسماعيل او محمود كيميا په خوب كي

الْمَنَامِ، رَاٰى هَاشِمٌ اَنَّهُ فِيْ قَصْرٍ شَامِخٍ وَلِبَاسٍ

وليده، هاشم وليدل چي دى په يو ښكلي ماڼۍ او ويارمنو

فَاخِرٍ، وَقَدْ بَنَى الْقَصْرَ، وَصَنَعَ اللِّبَاسَ

جامو كي دى، هغه ماڼۍ جوړه كړي وه، او جامي يې جوړي كړي وې،

بِالْمَالِ الَّذِىْ حَصَلَ لَهُ بِالْكِيْمِيَاءِ. فَصَلُّوا

په هغه مال سره چي د كيميا له لاري يې ترلاسه كړى وو، نو دوى

الصُّبحَ، وَجَلَسُوْا حَوْلَ اَبِيْهِمْ يَنْتَظِرُوْنَ
د سهار لمونځ ادا کړ، او د خپل پلار شاوخوا کښېنستل، انتظار يې کاوه،
فَرَاغَهُ مِنْ تِلَاوَةِ الْقُرْاٰنِ، وَاَتَمَّ اَبُوْهُمْ
تر څو پلار يې د قرآن له تلاوته فارغ سي، او د دوی پلار د يوه حزب تلاوت
حِزْبَهُ، وَقَالَ: هَلُمُّوْا يَا اَبْنَائِیْ! فَخَرَجُوْا
پوره کړنو ويې ويل: راسئ، ای زما زامنو! نو دوی له هغه سره
مَعَهُ، وَقَدْ اَعْجَلَهُمُ الْاِشْتِيَاقُ اِلَی الْكِيْمِيَاءِ
ووتل، او دوی و کيميا ته دومره شوقمن وه چي له ډېره تلواره يې
مِنْ اَنْ يُّفْطِرُوْا. لَمْ يَزَلْ اَبُوْهُمْ يَسِيْرُ بِهِمْ
سبا ناری (د سهار ناشته) هم ونه کړه، پلار يې همداسي دوی روان کړي وه
طَرِيْقًا بَعْدَ طَرِيْقٍ، حَتّٰی وَقَفَ بِهِمْ عَلٰی حَقْلٍ
له يوې لارې څخه بلې لارې ته تر دې چي دوی پر يوه کرونده باندې ودرېدل
يَّحْرُثُهُ الْفَلَّاحُ، وَفِیْ يَدِهِ السِّكَّةُ، فَقَالَ
چي يو بزګر کرونده کوله او په لاس يې بيلچه وه، نو پلار
الْوَالِدُ: الْكِيْمِيَاءُ يَا اَوْلَادِیْ تَحْتَ سِكَّةِ
وويل: اې ماشومانو! کيمياء تر دغه بيلچې لاندې
الْمِحْرَاثِ. فَتَعَجَّبَ الْاَوْلَادُ، فَاسْتَفْسَرُوْا
ده ، ماشوما حيران سول، نو له خپل پلار څخه يې

اَبَــاهُمْ، فَقَالَ الْوَالِدُ: اَلَمْ اَسْمَعْكُمْ تَقُوْلُوْنَ:
پوښتنه وکړه. پلار يې وويل: ايا تاسو زما څخه نه دي اورېدلي چې ويل کېږي
اَلْكِيْمِيَاءُ يُحَوِّلُ التُّرَابَ ذَهَبًا؟ اَلَا يَتَحَوَّلُ
کېميا خاور په سرو زرو بدلوي؟ ايا دغه خاوره
هٰــذَا التُّرَابُ ذَهَبًا بَعْدَ اَيَّــامٍ بَلْ اَغْـلٰى مِـنَ
تر څو ورځو وروسته په ذرو نه بدلېږي؟ بلکې دا تر زور
الذَّهَــبِ؟ وَمَــا يُغْنِى الذَّهَبُ اِذَا لَمْ يَكُنْ مَا
غوره ده. او سره زر به څه ارزښت ولري چې کله
يَاْكُلُهُ النَّاسُ؟ فَهٰذِهِ الْبُذُوْرُ الَّــتِىْ بَذَرَهَا
خلک خواړه ونه لري؟ نو همدا هغه تخمونه دي چې بزګر
الْفَلَّاحُ، وَاجْتَهَدَ فِيْهَا اَيَّــامًا سَتَـاْتِىْ بِحَاصِلٍ
کرلي دي او په هغه کې يې په ورځو ورځو خواري کښلې ده، چې ژر زيات حاصل
كَبِيْرٍ، وَسَيَرُدُّ اللهُ اِلَيْهِ بِهٰذَا الْعَمَلِ اَضْعَافَ مَا
ترلاسه کړي. او الله به ورته د دې عمل بدل (عوض) څو چنده
بَذَلَ. ثُمَّ مَــرَّ بِهِمْ اَبُوْهُمْ عَلٰى مَصْنَعٍ كَانَ
ورکړي. بيا يې پلار هغوی يوې کارخانې ته بوتلل چې
النَّاسُ فِــيْهِ عَاكِفِيْنَ عَلٰى اَعْمَالِهِمْ، وَالْعَـرَقُ
په هغه کې خلک په خپلو کارونو بوخت وه. او د هغوی له

يَسِيْلُ مِنْ جِبَاهِهِمْ، وَصَنَعُوْا اَشْيَاءَ مُفِيْدَةً

تندیو څخه خولې بهېدلې، او هغوی ډېر ګټور شيان

جِدًّا تُثْمِرُ لَهُمْ مَالًا كَثِيْرًا، وَتَقْضِيْ لِلنَّاسِ

جوړول چې دوی ته به ډېره ګټه وکړي، د خلکو لويې اړتياوې

حَاجَاتٍ كَبِيْرَةً، فَقَالَ الْوَالِدُ: اَلْكِيْمِيَاءُ يَا

ورپوره کړي، نو پلار وويل: اې ماشومانو ! کيميا

اَوْلَادِيْ عَرَقُ الْجَبِيْنِ، وَكَدُّ الْيَمِيْنِ، ثُمَّ مَالَ

د تندي خوله او د راسته لاس زحمت دئ، وروسته يې دوی

بِهِمْ اِلٰى حَلْقَةِ مُعَلِّمٍ، وَاِلٰى مَجْلِسِ وَاعِظٍ،

د يوه معلم (استاذ) ټولګۍ او د يوه نصيحت کوونکي مجلس ته بوتلل

وَقَالَ: يَا اَوْلَادِيْ! اَلْاِنْسَانُ اَغْلٰى شَيْءٍ

او ويې ويل: اې ماشومانو ! انسان په موجوداتو کې ډېر ارزښتانکه

فِي الْوُجُوْدِ، وَتَثْقِيْفُهُ وَاِصْلَاحُهُ اَفْضَلُ

شی دئ، او د هغه روزنه او اصلاح يې ډېره غوره ده

مِنْ تَحْوِيْلِ التُّرَابِ ذَهَبًا. فَاِذَا تَعَلَّمَ هٰؤُلَاءِ

تر دې چې خاورې په زرو بدلې سي، کله چې دغه ماشومان زده کړه

الْاَوْلَادُ، وَاِذَا اهْتَدٰى هٰؤُلَاءِ النَّاسُ، كَانَ

وکړي او کله چې دغه خلک هدايت ومومي نو دا

لِلْمُعَلِّمِ وَالْوَاعِظِ صَدَقَةٌ جَارِيَةٌ، لَهُ أَجْرُ كُلِّ مَا
د استاذ او واعظ لپاره صدقه جاريه ده، ده ته به د هر هغه نېک او غوره
يَعْمَلُ هٰؤُلَاءِ مِنْ خَيْرٍ وَّبِرٍّ، وَلِذٰلِكَ قَالَ النَّبِيُّ ﷺ
کار ثواب ورکول کيږي چې دوی يې کوي، پر همدې اساس رسول الله ﷺ حضرت
لِسَيِّدِنَا عَلِيٍّ كَرَّمَ اللّٰهُ وَجْهَهُ: (يَا عَلِيُّ! لَأَنْ يَّهْدِيَ اللّٰهُ
علي کرم الله وجهه ته وفرمايل: که چيرې الله تعالى ستا په وسيله يو سړي ته
بِكَ رَجُلًا خَيْرٌ لَّكَ مِنْ حُمْرِ النَّعَمِ) فَاقْتَنَعَ الْأَوْلَادُ،
هدايت وکړي، نو دا ستا لپاره تر سرو اوښانو غوره دئ، ماشومان قانع سول او
وَشَكَرُوْا أَبَاهُمْ، وَرَجَعُوْا وَقَدْ تَعَلَّمُوا الْكِيْمِيَاءَ.
د خپل پلار شخه يې مننه وکړه بيرته په داسې حال راوګرځېدل چې کيميا يې زده کړې وه.

الاسئلة [1]

(١) كيف علم الاب اولاده الكيمياء؟

(٢) هل صحيح ان علم الكيمياء يحول التراب ذهبا؟

(٣) ما تعريف الكيمياء من وجهة نظر الاب؟

(٤) ما فضل هداية الناس، وتعليمهم، ووعظهم، وارشادهم؟

(٥) ما اغلى شيء في الوجود؟

حدد المبتدأ والخبر فيما يلي:

الانسان اغلى شيء في الوجود. تثقيف الانسان واصلاحه افضل من تحويل التراب ذهبا.

(١) محترم استاذ دې له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کي ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(٥)

يَوْمٌ صَائِفٌ(١)

يوه ګرمه ورځ

مَا اَشَدَّ الْحَرَّ يَا لَطِيْفُ ! النَّاسُ فِيْ بُيُوْتِهِمْ
څومره سخته ګرمي ده اې لطيفه! خلګ په خپلو کورونو کې دي
لَا يَخْرُجُوْنَ خَوْفَ السَّمُوْمِ، وَقَدِ اتَّخَذُوْا
او د سختې تودوخې له بېرې نه وزي، او هغوى له وښو څخه
سُتُوْرًا مِنَ الْحَشِيْشِ يَرُشُّوْنَ عَلَيْهَا الْمَاءَ،
پردې جوړې کړې دي او پر هغو باندې اوبه شيندي
وَيُحَرِّكُوْنَ الْمَرَاوِحَ، وَقَدْ سَدُّوا النَّوَافِذَ،
پيکونه خوځوي او کړکۍ يې تړلې دي
لِئَلَّا تَدْخُلَ مِنْهَا السَّمُوْمُ، وَمَعَ ذٰلِكَ يَتَقَلَّبُوْنَ
چې تودوخه ترې رانه سي، سره له دې بيان هم تاوېږي
عَلٰى مِثْلِ الْجَمْرِ، هٰذَا، وَاَهْلُ الْاَكْوَاخِ الْحَقِيْرَةِ
لکه پر سکروټو چې وي، د کوچنيو کورونو، د واښو جوړو

(١) تر ټولو ګرمه، خطرناکه او هيبت ناکه ورځ خو نو د قيامت ورځ ده. ١٢ ن

وَالْخُصَصِ وَالْبُيُوْتِ الْمَبْنِيَّةِ مِنَ اللَّبِنِ اَنْـعَمُ

خونو او د خټو جوړو ودانيو خلک په دوبي کي

فِيْ الصَّيْفِ مِنْ اَهْلِ الْقُصُوْرِ الْمَبْنِيَّةِ مِنَ الْجَصِّ

تر هغو خلګو ډېر خوشحاله وي چي د ګچو او خښتو

وَالْاٰجُرِ، فَاِذَا رَشُوا الْمَاءَ عَلَى الْاَرْضِ وَالْجُدْرَانِ،

ماڼی لري. کله چي دوی پر مځکه او دېوالونو اوبه وشيندي

وَهَبَّتْ نَفْحَةٌ مِّنْ سُمُوْمٍ تَحَوَّلَتْ نَفْحَةٌ مِّنْ نَسِيْمٍ

او يو لږ باد راولګيږي، نو دا ګرمي په يخو نسيمونو بدليږي.

وَحَسِبُوْا اَنَّهُمْ فِيْ جَنَّةٍ وَّنَعِيْمٍ. اِرْتَفَعَتْ دَرَجَةُ

دوی فکر کوي چي دوی په جنت او نعمت کي دي. د حرارت درجه

الْحَرَارَةِ اِلٰى مِائَةٍ وَّثَمَانِيَ عَشَرَةَ نُقْطَةً. فَعِيْلَ صَبْرُ

يو سل او اتلس (۱۱۸) ته لوړه سوه، د خلګو صبر

النَّاسِ، وَسَافَرَ الْاَغْنِيَاءُ اِلٰى قُلَلِ الْجِبَالِ حَيْثُ

تمام سو، شتمن خلک غرونو ته لاړل، چيري چي

يَصْطَافُوْنَ وَيَقْضُوْنَ شَهْرَىْ مَايُوْ وَيُوْنِيَهْ حَتّٰى

دوی دوبی تېروي. هغوی د مې او جون مياشتي هلته تيروي، ترڅو چي

اِذَا نَزَلَتِ الْاَمْطَارُ، وَلَطُفَ الْحَرُّ هَبَطُوْا اِلَى الْمُدُنِ

بارانونه وسي او ګرمي نرمه سي، بيرته ښارونو

وَالسُّهُولِ. وَبَقِيَ اَوْسَاطُ النَّاسِ، وَاَهْلُ الْاَشْغَالِ
او دښتو ته راکوزسي. متوسط خلک او کاريګران پاته کيږي
يَتَحَمَّلُوْنَ الْحَرَّ وَيَصْبِرُوْنَ لِلسَّمُوْمِ. اَلْاٰنَ رَكَدَتِ
هغوی ګرمي زغمي او پر تودوخي صبر کوي. اوس تودوخه
السَّمُوْمُ، وَمَالَتِ الشَّمْسُ، وَطَابَ الْخُرُوْجُ،
کمه سوې ده، لمر د لويدو په حال کي دی، او د باندې وتل خوندور سوي.
وَانْتَشَرَ النَّاسُ فِي الْبَسَاتِيْنِ وَالْمَيَادِيْنِ
او خلک باغونو، ميدانونو او د سيندونو غاړو ته
وَشَوَاطِئِ الْاَنْهَارِ يَتَرَوَّحُوْنَ وَيَتَنَزَّهُوْنَ،
تللي دي، چيري چي دوی د يخي هوا څخه خوند اخلي او سير کوي.
فَلَا تَجِدُ فِي الْبَيْتِ اِلَّا شَيْخًا هَرِمًا اَوِ امْرَاَةً اَوْ
په کورونو کي يوازي کمزوري بوډا ګان، يا ښځي، يا کمزوري کسان،
عَاجِزًا، وَمَنْ حَبَسَهُ شُغْلٌ اَوْ مَرَضٌ اَوْ حَاجَةٌ،
او هغه څوک پاتي دي چي په کارونو مصروف وي، يا ناروغ وي، يا کومه اړتيا ولري.
وَقَدْ تَسْتَمِرُّ السَّمُوْمُ اِلَى اللَّيْلِ، فَلَا يَسْتَرِيْحُ
ځيني وختونه دا ګرمي تر شپې دوام کوي، نو خلک آرام نه سي
النَّاسُ وَيَتَقَلَّبُوْنَ عَلَى الْفِرَاشِ، وَقَدْ
کولای او په بسترو کي سره اوړي را اوړي، او کله

يَحْتَبِسُ	الْهَوَاءُ،	فَيَسِيْلُ	الْعَرَقُ،	وَتَتَحَرَّكُ
هوا بنده سي، خوله بهيږي، پيکونه				
الْمَــرَاوِحُ،	وَيَطِـيْرُ	النَّـوْمُ.		
خوځول کيږي، او خوب وتښتيږي.				

الاسئلة [۱]

(۱) ماذا يتخذ الناس فى الصيف ليدفعوا الحر عن انفسهم؟

(۲) هل سكان الاكواخ انعم فى الصيف من سكان القصور؟ ولماذا؟

(۳) الى اين يسافر الاغنياء فى فصل الصيف؟

(۴) ماذا يحس الانسان عند اشتداد الحر؟

(۵) عدد اسماء بعض الفواكه التى تنضج فى الصيف؟

استخدم الكلمات التالية من خلال اسلوب التعجب، على شاكلة ما اشد الحر!

(الصيف، الخوف، الجمر، القصور، الجنة)

---

(۱) محترم استاذ دي له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کي ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ۱۲ ن

(٦)

اَلنِّظَافَةُ (١)

پاکوالی

طَاهِرٌ اِبْنُ فَـلَّاحٍ، يَسْكُنُ اَبُـوْهُ فِي الْقَرْيَةِ
طاهر د يو بزګر زوی دی، پلار يې په کلي کې اوسيږي.
وَيُرْسِلُ اِلٰى طَاهِرٍ قَلِيْلًا مِّنَ النُّقُوْدِ كُلَّ شَهْرٍ.
پلار يې هره مياشت طاهر ته لږې پيسې ليږي.
وَلٰكِنَّ طَـاهِرًا وَلَـدٌ مُّدَبِّرٌ عَـاقِلٌ، ثِـيَابُهُ
خو طاهر يو هوښيار او ځيرک هلک دی. د هغه جامې
مُتَوَاضِعَةٌ، وَلٰكِنَّهَا دَائِـمًا نَظِـيْفَةٌ مُّـرَتَّبَةٌ
ساده وي، خو تل پاکې او منظمې وي.
لَاتَرٰى فِيْهَا وَسَخًا، يَغْسِلُهَا بِيَدِهِ كُلَّ جُمُعَةٍ،
ته به هيڅکله په جامو کې چټلي ونه وينې، هره جمعه يې په خپل لاس مينځي.
وَعِنْدَهُ اِبْرَةٌ وَّخَيْطٌ، فَاِذَا تَخَرَّقَ ثَـوْبٌ خَاطَهُ
د هغه سره ستن او تار سته، کله چې يې جامې څيرې سي، نو پخپله يې

(١) نظافت د ايمان جزء دئ، نظافت لازمي دئ، نظافت مهم دئ، موږ او تاسو بايد په ټولنه کې نظافت مراعت کړو او له دې درس څخه بايد ډېره زده کړه وکړو. ١٢ ن

بِالْاِبْرَةِ اَوْ رَقَعَهُ بِنَفْسِهِ. وَلَا يَخْجَلُ اِذَا خَرَجَ

ګنډي او پينه کوي يې. او هغه نه شرميږي کله چي

فِيْ ثَوْبٍ مَّرْقُوْعٍ، وَلٰكِنَّهُ يَخْجَلُ اِذَا خَرَجَ

په پينه سوو جامو کي وزي، مګر هغه وخت شرميږي چي کله

فِيْ ثَوْبٍ وَسِخٍ، وَمَا رَاٰهُ اَصْدِقَاؤُهُ فِيْ ثِيَابٍ وَسِخَةٍ

په چټلو جامو کي وزي. د هغه ملګرو هيڅکله هغه په چټلو جامو کي

اَبَدًا، فَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُ غَنِيٌّ، عِنْدَهُ ثِيَابٌ

نه دئ ليدلی. نو هغوی فکر کوي چي هغه شتمن دئ او ډېري جامي

كَثِيْرَةٌ، وَلَا يَمْلِكُ اِلَّا اَرْبَعَ بِذْلَاتٍ. وَاِذَا

لري. حال دا چي هغه يوازي څلور بدلي جامي لري. او کله چي

دَخَلْتَ فِيْ حُجْرَتِهِ رَاَيْتَهَا نَظِيْفَةً مُّنْتَظِمَةً

ته د هغه کوټې ته ننوزې، نو هغه به پاکه او منظمه ووينې.

وَرَاَيْتَ كُلَّ شَيْءٍ فِيْ مَحَلِّهِ، فَلَا يَضِيْعُ وَقْتُهُ

هر شی به په خپل ځای کي ووينې. نو هغه خپل وخت د شيانو په ورکېدلو

فِيْ تَفَقُّدِ الْاَشْيَاءِ وَالْتِمَاسِهَا، وَاِذَا دَخَلَ

او پيدا کېدلو کي نه ضايع کوی. کله چي په تياره کي

فِي الظَّلَامِ قَدَرَ عَلٰى اَنْ يَّاْخُذَ مَا يُرِيْدُهُ لِاَنَّهُ

ورننوزي، کولای سي هغه شی را واخلي چي غواړي يې ځکه چي

فِيْ مَحَلِّهٖ. وَكُتُبُهٗ فِيْ نِظَامٍ دَائِمًا، وَهِيَ نَظِيْفَةٌ

هغه په خپل ځای کي وي، د هغه کتابونه تل منظم او پاک وي.

لَا تَرٰى عَلَيْهَا غُبَارًا وَلَا تُرَابًا، وَلَا تَرٰى فِيْهَا

ته پر هغو باندي نه دوړي ووينې او نه به خاوري، او نه به چټلي پرې ښکاري.

اَثَرَ دُهْنٍ وَّمِسْحَةَ يَدٍ، وَلَا كِتَابَةً وَّتَمْرِيْنًا،

نه به د غوړيو داغونه پرې وي او نه د لاسونو نښې. نه به خطونه پرې وي او چټل نويسي

كَاَنَّهٗ اشْتَرَاهَا الْيَوْمَ، وَلَا يَكْتُبُ اسْمَهٗ اِلَّا

داسي ښکاري لکه همدا نن چي يې رانيولي وي. او هغه خپل نوم هم يوازي پر يوه

فِيْ مَكَانٍ وَاحِدٍ بِخَطٍّ جَيِّدٍ. وَاِذَا قَامَ طَاهِرٌ

يو ټاکلي ځای په ښکلي خط ليکلی وي. کله چي طاهر سهار پاڅي،

فِي الصَّبَاحِ تَوَضَّاَ لِصَلٰوةِ الصُّبْحِ وَاسْتَاكَ، وَنَظَّفَ

د سهار د لمانځه لپاره اودس کوي. او مسواک وهي او خپل غاښونه

اَسْنَانَهٗ. وَيَغْتَسِلُ طَاهِرٌ كُلَّ يَوْمٍ فِي الصَّيْفِ

پاکوي. او طاهر په دوبي کي هره ورځ غسل کوي

وَاَكْثَرَ مِنْ مَّرَّةٍ فِيْ اُسْبُوْعٍ فِي الشِّتَاءِ، لِذٰلِكَ

او په ژمي کي هم لږ تر لږه په اوونۍ کي دوه ځله غسل کوي. په همدې وجه

تَرَاهُ يَمْرَضُ قَلِيْلًا، وَهُوَ قَوِيٌّ نَشِيْطٌ. وَفِيْ

به ته ډېر لږ هغه ناروغ ووينې. او هغه روغ او تکړه دی. او

فَصْلٍ طَاهِرٍ وَلَــدٌ غَـنِيٌّ اِسْمُهُ شَاهِدٌ، وَهُوَ ضِدٌّ

د طاهر په ټولګي کي يو شتمن هلک دی چي نوم يې شاهد دی. هغه په پاکوالي

طَاهِرٍ فِي النَّظَافَةِ وَالنِّظَامِ، فَثِيَابُهُ غَــالِيَةٌ

او نظم کي د طاهر برعکس دئ، د هغه جامې ګرانې

جَمِيْلَةٌ وَلٰكِنَّهَا فِي الْغَالِبِ وَسِخَةٌ دَنِسَةٌ، وَهُوَ

او ښايسته دي. خو اکثره وخت چټلي او ناولي وي. او هغه

يُغَيِّرُ مَلَابِسَــهُ سَرِيْــعًا، وَلٰكِنَّهُ يُوَسِّخُهَا

ژر ژر خپلي جامې بدلوي. خو همدومره ژر ژر يې

سَرِيْعًا. وَكَذٰلِكَ كُتُــبُهُ دَائِــمًا فَجِـلْدُهَا

چټلوي. د هغه کتابونه هم همدا سي وي، د هغو پوښونه

مَشْقُوْقٌ، وَوَرَقُهَا مَخْرُوْقٌ، كَاَنَّ طِفْلًا عَبَثَ

شلېدلي وي، او پاڼې يې څيرې سوي وي. لکه دا چي ماشوم پرې

بِهَا اَوْ مَشَتْ عَلَيْهَا سِكَّةُ الْفَلَّاحِ اَوْ دَاسَتْهَا

لوبې کړې وي. يا بزګر پر هغه باندي يېلچه چلولې وي. او يا د موټر ټاير پرې

مَرْكَبَةٌ. وَكُتُبُهُ وَدَفَاتِرُهُ مَعْرِضٌ، اَوْ مَتْحَفٌ،

پرې تېر سوی وي. د هغه کتابونه او کتابچې داسي دي لکه نندارتون يا موزيوم

تَرٰى فِيْهَا رُسُوْمًا وَّصُوَرًا، وَتَوْقِيْعَاتٍ وَتَمْرِيْنَاتٍ

ته به پکښې رسمونه، انځورونه، لاسليکونه، بې ځايه تمرينونه، رياضي شکلونه

وَاَشْكَالًا رِّيَاضِيَّةً وَخَرَائِطَ جُغْرَافِيَّةً. وَاِذَا قُلْتُ
او جغرافيايي نقشې وويني. او کله چي ته و شاهد ته
لِشَاهِدٍ: لِمَاذَا لَا تُحَافِظُ عَلَى النَّظَافَةِ وَالنِّظَامِ؟
ووايې: "ولې نظافت او نظم نه مراعتوې؟"
قَالَ: اِنَّهُ يَضِيعُ فِيْ ذٰلِكَ وَقْتٌ كَثِيْرٌ، وَالْوَقْتُ شَيْءٌ
هغه وايي: "په دې کار کي ډېر وخت ضايع کيږي." "او وخت ډېر ارزښتمن
غَالٍ! وَتَرَاهُ يُضَيِّعُ وَقْتًا طَوِيْلًا فِيْ تَفَقُّدِ الْاَشْيَاءِ
شی دئ!" خو بيا هم هغه ډېر وخت د شيانو په ورکېدو
وَتَغْيِيْرُ الْمَلَابِسِ بِسُرْعَةٍ، وَلَا يَفْطَنُ لِذٰلِكَ.
او د چټلو جامو بدلولو کي ضايع کوي خو دې ته هيڅ توجه نه کوي.

الاسئلة (١)

(١) ما صفات طاهر ابن الفلاح؟

(٢) من اى شيء يخجل طاهر؟

(٣) كيف يحافظ طاهر على وقته؟

(٤) كم مرة يغتسل طاهر فى الصيف والشتاء؟

(٥) كيف تحافظ على النظافة؟

استخرج من العبارات التالية الحرف المشبه بالفعل، واذكر اسمه وخبره:

لكن طاهرا ولد مدير عاقل.

انه غنى. كأنه شمس فى النظافة والتألق.

---

(١) محترم استاذ دې له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کې ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(٧)

اَلْحَنِيْنُ اِلَى الشَّهَادَةِ [١] (١)

و شهادت ته لېوالتيا (لومړی برخه)

لَـمَّا اَرَادَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ الْخُـرُوْجَ اِلٰى بَـدْرٍ
کله چي رسول الله صلی الله عليه وسلم د بدر غزا ته د تلو اراده وکړه،
لِيُقَاتِلَ الْمُشْرِكِيْنَ وَخَرَجَ غُلَامٌ اِسْمُهُ عُمَيْرُ
چي له مشرکينو سره وجنګېږي، يو هلک چي نوم يې عمير وو، راووت،
بْنُ اَبِيْ وَقَّاصٍ عُمُرُهُ سِتَّ عَشَرَةَ سَنَةً. وَكَانَ
د ابو وقاص زوی وو، او عمر يې شپاړس (١٦) کاله وو. او
عُمَـيْرٌ يَخَـافُ اَلَّا يَقْبَلَهُ الـنَّبِيُّ ﷺ، لِاَنَّهُ
عمير وېرېدی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم به يې ونه مني، ځکه چي هغه
صَغِيْرٌ، فَكَانَ يَجْتَهِدُ اَلَّا يَـرَاهُ اَحَـدٌ، وَكَانَ
کوچنی وو، نو هڅه يې کوله چي کوم څوک يې ونه ويني، او
يَتَوَارٰى. وَلٰكِنْ رَآهُ اَخُوْهُ الْاَكْبَرُ سَعْدُ بْنُ
ځان به يې پټاوه. خو د هغه مشر ورور سعد بن ابي وقاص

(١) شهادت ته ځان متوجي کول، په ځان کي د شهادت شوق پيدا کول او و شهادت ته لېوالتيا ښوول د کاميابۍ او نېکمرغۍ ستره نښه ده، الله رب العزة دي يي و هر مسلمان ته ور نصيب کړي. ١٢ ن

اَبِيْ وَقَّاصٍ فَقَالَ لَهُ: مَا لَكَ يَا اَخِيْ؟ لِاَيِّ شَيْءٍ
هغه وليد، نو هغه ته يې وويل: اې وروره! ته په تا څه سوي دي؟ د څه لپاره
تَتَوَارٰى؟ قَالَ عُمَيْرٌ: اَخَافُ اَنْ يَّرُدَّنِيْ رَسُوْلُ
ځان پټوې؟ عمير وويل: زه وېرېږم چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به مې
اللّٰهِ ﷺ فَاِنِّيْ صَغِيْرٌ، وَاَنَا اُحِبُّ الْخُرُوْجَ، لَعَلَّ اللّٰهَ
بېرته واستوي، ځکه زه کوچنی يم، خو زه جګړې ته د وتلو مينه لرم، ښايي الله تعالى
يَرْزُقُنِيَ الشَّهَادَةَ. وَكَانَ كَمَا خَافَ عُمَيْرٌ، فَلَمَّا نَظَرَ
ماته شهادت را نصيب کړي. همداسي وسول لکه څنګه چې عمير وېرېده، کله چې
اِلَيْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ رَاٰى اَنَّهُ صَغِيْرٌ، وَالْحَرْبُ
رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه ته وکتل، وې ليدل چې هغه کوچنی دی، او جګړه
لَيْسَتْ مِنْ شُغْلِ الْاَطْفَالِ وَالْغِلْمَانِ، وَمَا
د ماشومانو او هلکانو کار نه دی، او هغوی به
يَصْنَعُوْنَ فِي الْحَرْبِ، وَاِنَّهَا لَكَبِيْرَةٌ عَلَى الرِّجَالِ؟
په جګړه کې څه وکړي؟ ځکه چې دا جګړه پر لويانو هم سخته ده؟
وَلٰكِنَّ عُمَيْرًا مَا اَحَبَّ اَنْ يَّنْصَرِفَ، وَيَقْعُدَ
خو عمير دا نه خوښول چې بيرته ستون سي، او په کور کې
فِي الْبَيْتِ، اَوْ يَلْعَبَ مَعَ اَتْرَابِهِ، وَاَصْدِقَائِهِ
کښېني، يا په مدينه کې د خپلو همزولو او ملګرو سره

فِي الْمَدِيْنَةِ، وَاِنَّهُ لَيُرِيْدُ الشَّهَادَةَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ.

لوبي وكړي، بلكي هغه غوښتل چي د الله تعالى په لاره كي شهيد سي.

وَلٰكِنَّ عُمَيْرًا لَا يَعْصِيْ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ، وَلَا يُعَانِدُ

خو عمير د رسول الله صلى الله عليه وسلم نافرماني نه كوله، او نه يې خپه كاوه

فَاِنَّهُ لَا يُرِيْدُ اِلَّا رِضَاءَ اللهِ، وَهَلْ يَنَالُ رِضَاءَ اللهِ

ځكه چي هغه يوازي د الله تعالى رضا غوښتله، او ايا د الله تعالى رضا ترلاسه كېداى سي

اِذَا عَصٰى رَسُوْلَ اللهِ؟ اَبَدًا. كَانَ عُمَيْرٌ فِيْ حَيْرَةٍ

كله چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم نافرماني وسي؟ هيڅكله نه! عمير سخت غمجن

وَّحُزْنٍ شَدِيْدٍ، هُوَ لَمْ يَبْلُغْ سِنَّ الْقِتَالِ، وَلٰكِنَّهُ

او ډېر حيران وو، هغه د جګړې عمر ته نه وو رسېدلى، خو هغه

يَحِنُّ اِلَى الشَّهَادَةِ، وَاِلَى الْمَوْتِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ، وَيَحِنُّ

شهادت ته او د الله تعالى په لاره كي مرګ لېواله وو او د جنت ته تللو

اِلَى الْجَنَّةِ، وَيَرَاهَا غَيْرَ بَعِيْدَةٍ، وَلٰكِنْ كَيْفَ

هيله يې لرله، او جنت ورته ليري نه ښكارېدى، خو مګر څنګه به

يَصِلُ اِلَيْهَا، وَهُوَ لَمْ يَبْلُغْ سِنَّ الْقِتَالِ!؟ كُلُّ ذٰلِكَ

هغه ته ورسېږي، حال دا چي هغه د جګړې عمر ته نه وو رسېدلى؟ دا هر څه

ثَقُلَ عَلٰى عُمَيْرٍ، وَكَانَ قَلْبُهُ صَغِيْرًا فَبَكٰى، وَلَمَّا

پر عمير درانه سول. او د هغه زړه كوچنى وو، نو هغه وژړل، او كله چي

بَكٰى عُمَيْرٌ رَقَّ لَـهُ قَلْبُ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ وَكَانَ
عمير وژړل، د رسول الله صلى الله عليه وسلم زړه ورته نرم سو، او
رَسُوْلُ اللهِ ﷺ رَقِيْقًا رَفِيْقًا فَاَجَازَهُ. لَاتَسْئَلُوْا
رسول الله ﷺ ډېر مهربان او نرم زړی وو، نو اجازه يې ورکړه. نو تاسو د عمير
عَنْ فَرَحِ عُمَيْرٍ وَسُرُوْرِهٖ لَـمَّا اَجَازَهُ النَّـبِيُّ ﷺ،
د خوشحالۍ پوښتنه مه کوئ، کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم اجازه ورکړه،
فَكَاَنَّمَا نَالَ تَذْكِرَةَ الْجَنَّةِ. وَخَرَجَ عُمَيْرٌ مَعَ اَخِيْهِ
لکه هغه چې د جنت ټکټ ترلاسه کړی وي. عمير د خپل ورور او نورو
وَمَعَ الْمُسْلِمِيْنَ، وَكُلُّهُمْ كِبَارٌ وَاَقْوِيَاءُ، وَكَانَ كَمَا
مسلمانانو سره ووتی، حال دا چې هغوس ټول لوی او قوي خلک وه، او هما غسي وسول
اَرَادَ، فَقَدْ قُتِلَ شَهِيْدًا فِى الْغَزْوَةِ، وَسَبَقَ كَثِيْرًا
څنګه چې عمير غوښتل، هغه په غزوه کي شهيد کړب سو، او تر ډېرو ځوانانو
مِنَ الشُّبَّانِ وَالشُّيُوْخِ. رَضِىَ اللهُ عَنْ عُمَيْرٍ وَاَرْضَاهُ.
او سپين ږيرو مخکي سو، الله دي له عمير څخه راضي سي او هغه دي راضي کړي.

الاسئلة(١)

(١) كم كان عمر عمير بن ابي وقاص الله عندما خرج الى غزوة بدر.

(٢) لم خاف عمير الا يقبله النبى ﷺ بين المجاهدين؟

(٣) الى اى شيء كان يحن عمير؟

(٤) كيف استطاع عمير ان يشارك فى المعركة؟

(٥) ما مصير عمير فى غزوة بدر؟

املأ الفراغات التالية بالكلمة المناسبة مستعينا بالنص:

خرج ...... مع اخيه ومع ...... وكلهم كبار..... وكان

كما اراد فقد قتل فى الغزوة، وسبق .... من ..... و ....

---

(١) محترم استاذ دي له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کې ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(٨)

اَلْحَنِيْنُ اِلَى الشَّهَادَةِ [٢] (١)

و شهادت ته لېوالتيا (دوهمه برخه)

وَلَمَّا خَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِلٰی اُحُدٍ لِقِتَالِ قُرَيْشٍ
کله چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د احد غزا ته د قريشو سره د جګړې لپاره راووت،
خَرَجَ مَعَهُ مِنَ الْمَدِيْنَةِ غِلْمَانٌ يُّحِبُّوْنَ الْجِهَادَ
له مديني څخه له هغه سره ځو هلکان راووتل، چي د الله په لاره کي يې
فِيْ سَبِيْلِ اللهِ، وَكَانُوْا صِغَارًا، لَمْ يَتَجَاوَزُوا
جهاد خوښوي، خو هغوی کوچنيان وه، د هغوی عمر تر
الْخَامِسَةَ عَشَرَةَ مِنْ عُمُرِهِمْ، فَرَدَّهُمْ رَسُوْلُ اللهِ
پنځلسو (١٥) کلونو نه زيات نه وو، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی
ﷺ، لِاَنَّهُمْ صِغَارٌ لَمْ يَبْلُغُوْا سِنَّ الْقِتَالِ،
بېرته واستول، ځکه چي هغوی کوچنيان وه، او د جګړې عمر ته نه وه رسېدلي،
فَيَكُوْنُوْنَ كَالْمَتَاعِ، وَيَشْغَلُوْنَ الْكِبَارَ اَيْضًا
نو هغوی د سامان په څېر وو، او لويان به يې هم مصروفه کول،
يُرَاقِبُوْنَهُمْ وَيَحْرِسُوْنَهُمْ. وَكَانَ فِيْ هٰؤُلَاءِ الْغِلْمَانِ
چي د هغوی ساتنه به يې کوله او پام به يې ورسره وو، په دغو هلکانو کي يو

(١) چي هر درس د شهادت اړوند ويل کيږي خوند يې ډېرېږي، که مشارع الاشواق وغيره وګورئ، ډېر څه به پکښې زده کړئ. ١٢ ن

وَلَدٌ، اِسْمُهٗ رَافِعُ بْنُ خَدِيْجٍ، وَهُوَ دُوْنَ الْخَامِسَةَ
هلک وو، چي نوم يې رافع بن خديج وو، او هغه تر پنځلسو
عَشَرَةَ مِنْ سِنِّهٖ، وَكَانَ يَتَطَاوَلُ مِنْ شِدَّةِ الشَّوْقِ
کالو کم وو. هغه به له ډېره شوقه ځان جګ ښوده،
لِيَظُنَّ النَّاسُ اَنَّهٗ كَبِيْرٌ، قَدْ بَلَغَ سِنَّ الْقِتَالِ، فَلَا
تر څو خلک فکر وکړي چې دی لوی دئ، او د جګړې عمر ته رسېدلی، نو
يُفْطَنُ لِصِغَرِ سِنِّهٖ وَضُعْفِهٖ. وَلٰكِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ
څوک يې کوچني والي او کمزورتيا ته متوجې نه سي. خو رسول الله صلى الله عليه وسلم
رَدَّهٗ، لِاَنَّهٗ عَرَفَ اَنَّهٗ صَغِيْرٌ، وَاَنَّهٗ يَتَطَاوَلُ، فَشَفَعَ
هغه رد کړ، ځکه هغه پوهېدی چي دی کوچنی دی، او قصداً ځان جګ ښيي، نو د هغه
لَهٗ اَبُوْهُ، وَقَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! اِنَّ ابْنِيْ رَافِعًا رَامٍ،
پلار يې شفاعت وکړ، او ويې ويل: اې د الله رسوله! زما زوی رافع ښه ويشتونکی دی
فَاَذِنَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ. فَفَرِحَ رَافِعٌ كَثِيْرًا لَمَّا اَذِنَ
نو رسول الله صلى الله عليه وسلم اجازه ورکړه. نو رافع ډېر خوشحاله سو، کله چي رسول
رَسُوْلُ اللهِ ﷺ، وَخَرَجَ مَعَ الْمُجَاهِدِيْنَ، وَهُوَ
الله صلى الله عليه وسلم اجازه ورکړه، او له مجاهدينو سره ووتی، او هغه
اَكْثَرُ سُرُوْرًا مِّنْ غِلْمَانٍ يَخْرُجُوْنَ اِلَى الْمُصَلّٰى
تر هغو هلکانو هم زيات خوشحاله وو، چي د اختر په ورځ په نويو

اَكْثَرُ يَوْمَ الْعِيْدِ فِيْ لِبَاسٍ جَدِيْدٍ. وَكَانَ وَلَدٌ اٰخَرُ
جامو کې د اختر لمانځه ته وزي، او يو بل هلک وو
اِسْمُهُ سَمُرَةُ بْنُ جُنْدُبٍ فِيْ سِنِّ رَافِعٍ، فَعُرِضَ
چې نوم يې سمره بن جندب وو، د رافع په عمر وو، نو هغه تر رافع
عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ بَعْدَ رَافِعٍ فَرَدَّهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ
وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وړاندې يو، خو رسول الله صلى الله عليه وسلم
لِصِغَرِهٖ اَيْضًا، فَقَالَ سَمُرَةُ: لَقَدْ اَجَزْتَ رَافِعًا
هغه هم د کوچنيوالي په وجه رد کړ، نو سمره وويل: تا رافع ته اجازه ورکړه،
وَرَدَدْتَنِيْ، وَلَوْ صَارَعْتُهٗ لَصَرَعْتُهٗ. فَاَمَرَ رَسُوْلُ
خو زه دې رد کړم، که زه له هغه سره مقابله وکړم، هغه به غوځار کړم. نو رسول الله ﷺ
اللّٰهِ ﷺ سَمُرَةَ وَرَافِعًا بِالْمُصَارَعَةِ فَصَرَعَ سَمُرَةُ
سمره او رافع په مقابله کولو امر کړل، نو سمره رافع غوځار
رَافِعًا كَمَا قَالَ، وَاسْتَحَقَّ اَنْ يُّسْمَحَ لَهٗ بِالدُّخُوْلِ
کړ لکه څنګه چې يې ويلي وه، نو دی مستحق سو، چې د مجاهدينو
فِيْ صَفِّ الْمُجَاهِدِيْنَ. فَاَجَازَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ سَمُرَةَ
په صف کې ومنل سي، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم سمره ته هم د وتلو
لِلْخُرُوْجِ، فَخَرَجَ سَمُرَةُ وَقَاتَلَ يَوْمَ اُحُدٍ فِيْ سَبِيْلِ
اجازه ورکړه، نو سمره ووتی او د احد په ورځ يې د الله په لاره کې

اللهِ. رَضِىَ اللهُ عَنْ رَافِعٍ وَّسَمُرَةَ،
جګړه وکړه، الله تعالی دې له رافع او سمره څخه راضي سي،
وَرَزَقْنَا اتِّبَاعَهُمَا.
او موږ ته دې د هغوی پیروي نصیب کړي.

الاسئلة [1]

(۱) لم رد رسول الله ﷺ الذين لم يتجاوزوا الخامسة عشرة من عمرهم؟

(۲) كيف استطاع رافع بن خديج ان يشارك فى غزوة احد على الرّغم من صغر سنه.

(۳) ما شعور رافع عند ما قبل مجاهدا بين المجاهدين؟

(۴) ما وجه اعتراض سمرة بن جندب؟

(۵) كيف اجاز رسول الله ﷺ سمرة، وسمح له بالاشتراك فى القتال؟

استخدم «يا» حرف النداء قبل الكلمات التالية، واضبط بالشكل:

رسول الله، ولد، سمرة، جهاد، عبد الله

(۱) محترم استاذ دي له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کي ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ۱۲ ن

(٩)

كُنْ اَحَدَ السَّبْعَةِ [١] (١)

يو له اوو څخه سه! (اوله برخه)

كَانَ الْيَوْمُ الْخَامِسَ عَشَرَ مِنْ شَهْرٍ يُوْنِيُو يَوْمًا
د جون د مياشتي پنځلسمه ورځ وه
شَدِيْدَ الْحَرِّ، وَكَانَ يَوْمَ عُطْلَةٍ، فَكَانَ مَحْمُوْدٌ
سخته ګرمي وه، او د رخصتۍ ورځ وه، نو محمود
وَاَحْمَدُ وَعُثْمَانُ فِي الْبَيْتِ، وَكَانُوْا مَعَ اَبِيْهِمْ
او احمد او عثمان په کور کي او دوی له خپل پلار سره
فِي السَّاعَةِ الثَّانِيَةِ فِي النَّهَارِ، وَكَانُوْا يَتَاَفَّفُوْنَ
د ورځي په دوهم ساعت کي وه او دوی له ګرمۍ څخه
مِنَ الْحَرِّ، وَيَتَقَلَّبُوْنَ عَلَى الْفِرَاشِ كَاَنَّهُمْ عَلَى الْجَمْرِ
شکايت کاوه، او دوی پر خپلو بسترو سره اوښتل را اوښتل لکه پر سکروټو چي وي
قَالَ مَحْمُوْدٌ: يَا لَطِيْفُ! مَا اَشَدَّ الْحَرَّ! قَالَ اَبُوْهُمْ
محمود وويل: اې لطيفه! څومره سخته ګرمي ده. د دوی پلار سليمان

(١) له دغه اوو کسانو څخه لومړی هغه امام دئ چي عادل وي، د امام لفظ دلته عام دئ، هر سلطان او واکمن ته وايي، که څه هم د خپل کور مشر وي، هغه بايد عادل وي، تر څو د قيامت په ورځ د الله تعالى د رحمت تر سايې لاندي سي. ١٢ ن

سُلَيْمَانُ: أَتَعْرِفُ يَا مَحْمُوْدُ! كَمْ تَبْعُدُ الشَّمْسُ

وويل: اې محموده! ايا ته پوهېږې چې لمر له مځکې څخه څومره

مِنَ الْأَرْضِ؟ مَحْمُوْدٌ: لَا يَا أَبِيْ! وَلٰكِنِّيْ أَعْرِفُ

ليرى دئ؟ محمود وويل: يا پلاره، مګر په دې پوهېږم

أَنَّهَا بَعِيْدَةٌ جِدًّا. سُلَيْمَانُ: سَتَقْرَأُ فِي الْمَدْرَسَةِ

چې هغه ډېر ليرې دئ. سليمان وويل: ته به ژر په مدرسه کې ولولې

أَنَّ الشَّمْسَ تَبْعُدُ مِنَ الْأَرْضِ أَكْثَرَ مِنْ تِسْعِيْنَ

چې لمر له مځکې څخه تر نيوي ميليونه ميله

مِلْيُوْنًا مِّنَ الْأَمْيَالِ، وَالْحَرُّ كَمَا تَرٰى، فَكَيْفَ

زيات ليرې دئ، او ګرمي داسې ده لکه څنګه چې يې ته وينې، نو څنګه به وي

إِذَا دَنَتِ الشَّمْسُ حَتّٰى تَكُوْنَ مِقْدَارَ مِيْلٍ؟ مَحْمُوْدٌ:

کله چې لمر نږدې سي تر دې چې د يوه ميل په اندازه سي؟ محمود وويل:

اَلْعِيَاذُ بِاللهِ! وَمَتٰى هٰذَا يَا أَبِيْ؟ سُلَيْمَانُ: ذٰلِكَ يَا بُنَيَّ

العياذ بالله! دا به څه وسي اې پلاره! سليمان وويل: اې زويه! دا به

يَوْمَ الْقِيَامَةِ، يَوْمَ يَقُوْمُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ.

د قيامت په ورځ وي، هغه ورځ چې خلک د عالميانو پالونکي ته ولاړ وي

أَحْمَدُ: وَكَيْفَ النَّاسُ يَوْمَئِذٍ يَا أَبَتِ؟ سُلَيْمَانُ:

احمد وويل: اې پلاره! هغه ورځ به خلک څنګه وي؟ سليمان وويل:

يَكُوْنُ النَّاسُ عَلٰى قَدْرِ اَعْمَالِهِمْ فِي الْعَرَقِ، فَمِنْهُمْ
خلک به د خپلو عملونو له مخي په خولو کې ډوب وي. ځيني به يې
مَنْ يَّكُوْنُ اِلٰى كَعْبَيْهِ، وَمِنْهُمْ مَنْ يَّكُوْنُ اِلٰى
تر بجلکو پوري ډوب وي، ځيني به يې تر ځنګنونو
رُكْبَتَيْهِ، وَمِنْهُمْ مَنْ يَّكُوْنُ اِلٰى حَقْوَيْهِ، وَمِنْهُمْ
پوري ډوب وي، ځيني به يې تر ورنونو پوري ډوب وي، ځيني به يې
مَنْ يُّلْجِمُهُ الْعَرَقُ اِلْجَامًا. عُثْمَانُ: اَوَ لَيْسَ
هغه وي چي خولې تر خولو پوري رسيږي. عثمان وويل: ايا هلته
هُنَالِكَ ظِلٌّ اَوْ مَكَانٌ يَّسْتَظِلُّ بِهِ النَّاسُ؟ سُلَيْمَانُ:
به سايه (سيورى) نه وي يا داسي ځاى چي چې خلک پکښي ځان وساتي؟ سلميان وويل:
بَلٰى يَا وَلَدِىْ فَهُنَالِكَ ظِلٌّ لَا يَنْعَمُ بِهِ اِلَّا سَبْعَةٌ
هو، اې زويه! هلته به سيورى وي، خو په هغه کي به يوازي اووه کسان
مِّنَ الرِّجَالِ. اَلْاَوْلَادُ: وَمَنْ اُوْلٰئِكَ السُّعَدَاءُ
خوندي وي. ماشومانو وويل: او هغه نېکبختان به څوک وي؟
يَا اَبَانَا؟ لَعَلَّنَا نَجْتَهِدُ اَنْ نَّكُوْنَ مِنْهُمْ. سُلَيْمَانُ:
اې پلاره! ښايي موږ هم کوښښ وکړو چي له هغو څخه سو. سليمان وويل:
يَا اَوْلَادِىْ يَنْبَغِىْ لِكُلِّ مُسْلِمٍ اَنْ يَّجْتَهِدَ اَنْ يَّكُوْنَ
اې اولادونو! د هر مسلمان لپاره لازمه ده چي کوښښ وکړي تر څو يو له

اَحَدَ السَّبْعَةِ، وَاَنَا اَعُدُّ لَكُمْ اُولٰئِكَ السَّبْعَةَ:
او و شخه سي، او زه تاسو ته هغه اووه کسان شمارمه:
(١) اِمَامٌ عَادِلٌ. وَقَطَعَ عَلَيْهِ اَحَدُ الْاَوْلَادِ، وَقَالَ:
اول: عادل امام، يو ماشوم يې خبري پرې کړې او ويې ويل:
وَمَنْ هُوَ الْاِمَامُ، اَهٰذَا الَّذِيْ يُصَلِّيْ بِالنَّاسِ؟
امام څوک دئ؟ ايا هغه شخص دئ چي خلګو ته لمونځ ورکوي؟
سُلَيْمَانُ: هُوَ اَيْضًا عَلٰى خَيْرٍ، لٰكِنَّ الْمُرَادُ هُنَا اَمِيْرُ
سلمان وويل: هغه هم ښه دئ، مګر دلته له امام څخه مراد د مسلمانانو
الْمُسْلِمِيْنَ. وَابْتَدَرَ الْاَوْلَادُ، وَقَالُوْا: قَدْ فَهِمْنَا، هٰذَا
مشر دئ. ماشومانو په خوښۍ سره وويل: موږ پوه سوو، دا
كَالْخُلَفَاءِ الْاَرْبَعَةِ، وَعُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيْزِ، وَقَدْ
لکه څلور خليفه ګان، او عمر بن عبد العزيز. او
سَمِعْنَا كَثِيْرًا مِّنْ حِكَايَاتِهِمْ مِنْ اُمِّنَا.
موږ د هغوی ډېري قصې له خپلي مور څخه اورېدلي دي.

الاسئلة [1]

(١) تعجب محمود من شدة الحر ، فماذا قال؟

(٢) كم تبعد الشمس عن الارض؟

(٣) متى تدنو الشمس من الناس بمقدار ميل؟

(٤) كيف يكون الناس فى العرق يوم القيامة؟

(٥) من هم السعداء يوم القيامة؟

سم الخلفاء الراشدين الاربعة، اولهم :

ابو بكر الصديق

....

....

....

(١) محترم استاذ دي له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کي ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(۱۰)

كُنْ اَحَدَ السَّبْعَةِ [۲] (۱)

يو له اوو څخه سه! (دوهمه برخه)

قَالَ سُلَيْمَانُ: (۲) وَالثَّانِيْ يَا اَوْلَادِيْ! شَابٌّ نَشَاَ
سليمان وويل: او دوهم اې اولادونو هغه ځوان دئ چې د الله تعالى
فِيْ عِبَادَةِ اللهِ تَعَالٰى. هُنَالِكَ وَقَفَ الشَّيْخُ، وَقَالَ:
په عبادت کې لوی سي. همدلته شيخ ودرېدی او ويې ويل:
يُمْكِنُ كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْكُمْ يَا اَوْلَادِيْ اَنْ يَّكُوْنَ ذٰلِكَ
اې اولادونو! ستاسو څخه هر يو، کولای سي چې د غه ډول نېکبخته
الشَّابَّ السَّعِيْدَ وَلٰكِنْ اِذَا ضَيَّعْتُمْ فُرْصَةَ الشَّبَابِ،
ځوان واوسي، خو مګر کله چې تاسي د ځوانۍ فرصت له لاسه ورکړئ
فَلَيْسَ لَكُمْ اِلَّا الْحَسْرَةُ وَالنَّدَامَةُ. (۳) رَجُلٌ
نو بيا به تاسو ته يوازې غم او پښېماني در په برخه وي. دريېم: هغه سړی دئ
قَلْبُهٗ مُعَلَّقٌ فِي الْمَسَاجِدِ. قَالَ الْاَوْلَادُ: هُوَ كَالشَّيْخِ
چې زړه يې په مسجدونو کې تړلی وي. ماشومانو وويل: هغه لکه شيخ

(۱) هر ځوان بلکې هر انسان بايد هڅه او کوښښ وکړي چې د قيامت په ورځ د الله تعالى د رحمت تر سيوري لاندې راسي او دا راتګ يې په دې سره دئ چې خپل ټول ژوند د الله تعالى په رضا کې تېر کړي. ۱۲ ن

عَبْدِ الْغَنِيّ فِيْ حَيِّنَا، فَإِنَّهُ لَا يَرْتَاحُ اِلَّا اِلَى الْمَسْجِدِ

عبد الغني زموږ په كلي كي. ځكه هغه يوازي په مسجد كي آرام كوي

وَلَا تَفُوْتُهُ جَمَاعَةٌ، وَلَا نَظُنَّهُ يَبِيْتُ اِلَّا فِي الْمَسْجِدِ.

او هيڅ جماعت نه قضاء كوي، او موږ گمان كوو چي هغه به شپې هم په مسجد كي تېروي

قَالَ سُلَيْمَانُ: لَا يَا اَوْلَادِيْ! وَلٰكِنَّهُ مُحَافِظٌ

سليمان وويل: داسي نه ده، اولادونو! مگر هغه د جماعت

عَلَى الصَّلٰوةِ وَالْجَمَاعَةِ، وَقَدْ اَخْبَرَنِيْ اَنَّهُ مَا فَاتَتْهُ

د لمانځه ډېر پابنده دئ، او هغه ما ته ويلي دي چي هغه له لسو يا ډېرو

صَلٰوةٌ فِيْ جَمَاعَةٍ مُّنْذُ عَشْرِ سَنَوَاتٍ اَوْ اَكْثَرَ.

كلونو څخه يو لمونځ هم بې له جماعته نه دئ كړى.

(۴) رَجُلَانِ تَحَابَّا فِي اللهِ، اِجْتَمَعَا عَلَيْهِ، وَتَفَرَّقَا

څلورم: هغه دوه كسان چي د الله لپاره محبت سره كوي، د هغه لپاره يو ځاى كيږي او د هغه

عَلَيْهِ. وَاِذَا اَرَدْتُّمْ اَنْ تَرَوْهُمَا، فَانْظُرُوْا اِلَى الشَّيْخِ

لپاره سره جلا كيږي. او كه تاسو غواړئ چي دا ډول كسان ووينئ، نو شيخ صالح او شيخ

صَالِحٍ وَالشَّيْخِ حَمْزَةَ، فَهٰذَا مِنَ الْهِنْدِ، وَذٰلِكَ

حمزه ته وگورئ، هغه يو د هندوستان دئ او هغه بل يې

مِنْ بُخَارٰى، وَهُمَا اَخَوَانِ فِي اللهِ. وَيُمْكِنُ كُلَّ وَاحِدٍ

د بخارى دئ، او دواړه د الله لپاره سره ورونه دي، او ستاسو څخه هر يو

مِّنْكُمْ اَنْ يَّنَالَ هٰذِهِ الْفَضِيْلَةَ، وَذٰلِكَ بِاَنْ يَّخْتَارَ

كولاى سئ چي د غه فضيلت ته ورسيږي، او دا داسي كيږي چي په خپل صنف

مِنْ صَفِّهٖ وَرُفْقَتِهِ الصَّالِحَ مِنَ الْاَوْلَادِ فَيُصَادِقَهٗ،

او په خپل محل کي صالح ماشومان غوره کړي او ملګريتوب ورسره وکړي

وَيَجْتَهِدَ اَنْ تَكُوْنَ صَدَاقَتُهٗ لِلدِّيْنِ. (۵) وَرَجُلٌ

او کوښښ وکړل سي چي ملګرتيا يې د دين لپاره وي. او پنځم هغه سړی دئ

اِقْتَدٰى بِيُوْسُفَ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ فِي الْعِفَّةِ وَالْاَمَانَةِ

چي پاکلمنۍ او امانت کي په حضرت يوسف عليه السلام پسي اقتدا وکړي.

وَقَدْ سَمِعْتُمْ قِصَّتَهٗ. قَالَ الْاَوْلَادُ: نَعَمْ!

او تاسو د هغه قصه اورېدلې ده. ماشومانو وويل: هو!

(٦) وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَاَخْفَاهَا حَتّٰى لَا تَعْلَمَ

شپږم: هغه سړی چي صدقه ورکوي او هغه پټوي تر داسي چي د هغه چپه لاس

شِمَالُهٗ مَا تُنْفِقُ يَمِيْنُهٗ. وَذٰلِكَ مِثْلُ جَدِّكُمْ، فَاِنَّا

پوه نه سي چي راسته لاس څه ورکړي دي. او دا ستاسو د نيکه په شان دئ، ځکه موږ

لَمْ نَعْرِفْ بِرَّهٗ وَاِحْسَانَهٗ اِلَى الْمَسَاكِيْنِ وَالضَّعَفَةِ

له ضعيفو او اړمنو مسلمانانو سره د هغه په نېکۍ او احسان

مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ اِلَّا بَعْدَ وَفَاتِهٖ فَقَدْ جَاءَتِ الْعَجَائِزُ

پوه نه سوو مګر وروسته د هغه تر وفات، سپين سري ښځي او کونډې

وَالْاَرَامِلُ يَبْكِيْنَهٗ، وَيَذْكُرْنَ خَيْرَهٗ وَبِرَّهٗ، وَقَدْ

راغلې او ژړله يې او د هغه د خير او نېکۍ يادونه يې کوله. او

اَخْبَرَنِيْ اَشْرَافٌ مِّنْ اَهْلِ هٰذَا الْحَيِّ اَنَّهٗ كَانَ يُوَاسِيْهِمْ

ما ته د دغه کلي شريفو خلکو وويل چي هغه په هره مياشت کي زموږ سره

وَيَصِلُهُمْ بِمَعْرُوْفٍ كُلَّ شَهْرٍ، وَلَمْ نَعْلَمْ ذٰلِكَ
مرسته او احسان کاوه، او موږ د هغه کورنۍ په دې
اَهْلَ الْبَيْتِ. (٧) وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ
نه وو خبر. اووم: هغه سړی چې په يوازې والي کې د الله تعالی ذکر کوي او د هغه سترګې
عَيْنَاهُ.⁽¹⁾ قَالَ الْاَوْلَادُ: اَمَّا نَحْنُ فَنَجْتَهِدُ جَمِيْعًا
اوښکې وڅڅوي. ماشومانو وويل: موږ ټول هڅه کوو چې
اَنْ نَّكُوْنَ شُبَّانًا نَّشَؤُوْا فِيْ عِبَادَةِ اللهِ تَعَالٰى،
داسې ځوانان واوسو چې د الله تعالی په عبادت کې لوی سوي وي
وَنَجْتَهِدُ فِيْ غَيْرِ ذٰلِكَ مِنَ الْفَضَائِلِ اَيْضًا، وَلَعَلَّنَا
او همداسې د نورو فضيلتونو په ترلاسه کولو کې هم هڅه کوو. موږ ته ښايي
يَا اَبَانَا اِذَا جَمَعْنَا مِنْهَا خِصَالًا نَنَالُ بِهَا مَكَانًا
اې پلاره! چې موږ ځيني ځانګړني ترلاسه کړو، نو موږ به په هغه سيوري کې
خَاصًّا فِيْ ذٰلِكَ الظِّلِّ اَيْضًا، فَفَرْقٌ بَيْنَ مَنْ يَّأْتِيْ
يو ځانګړی ځای ولرو. نو د هغ کسانو په منځ کې فرق سته چې څوک
بِفَضِيْلَةٍ، وَبَيْنَ مَنْ يَّأْتِيْ بِفَضَائِلٍ. سُلَيْمَانُ: هُوَ
يو فضيلت ولري او هغه څوک چې څو فضائل ولري. سليمان وويل: دا
كَذٰلِكَ ﴿اِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ﴾،
همداسې ده، بېشکه الله تعالی د نېکي کوونکو اجر نه ضائع کوي

(١) ډېر زيات کوښښ به کوو چې په دغه اوو کسانو کې ځانونه راولو. ١٢ ن

﴿وَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا﴾.

او پر هيڅ يو نفس باندې هيڅ ظلم نه کيږي.

الاسئلة [۱]

(۱) عدد السبعة الذين يظلهم الله فى ظله يوم القيامة؟

(۲) اتصلى صلواتك في البيت ام فى المسجد؟ ولماذا؟

(۳) كيف تدخل تحت قوله ﷺ: (ورجلان تحابا فى الله)؟

(۴) كيف تساعد فقراء حيك؟

(۵) هل تتعاون مع اصدقائك لحضور دروس الوعظ والارشاد؟

استخرج الافعال المضارعة من الجمل التالية:

نجتهد جميعًا ان نكون شبانًا نشؤوا فى عبادة الله تعالى.

نحاول جهدنا ان نفعل الخير ونحظى برضا المولى سبحانه

(۱) محترم استاذ دې له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کې ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ۱۲ ن

(۱۱)

اَلْعَيْنُ [۱]

سترګه (اوله برخه)

اَلْعَيْنُ مِنْ عَجَائِبِ صُنْعِ اللهِ تَعَالىٰ، فَقَدْ خَلَقَهَا
سترګي د الله تعالى له حيرانوونکو جوړښتونو څخه دي. الله تعالى هغه داسي
اللهُ تَعَالىٰ مِرْاٰةً صَافِيَةً تَتَحَرَّكُ يَمِيْنًا وَّشِمَالًا، وَفَوْقُ
يوه آله جوړه کړې ده چي پاکه او شفافه ده، چي راسته او چپه او پورته او لاندي خوا ته
وَتَحْتُ، يَنْظُرُ بِهَا الْاِنْسَانُ اِلىٰ جَمِيْعِ الْجِهَاتِ،
حرکت کولای سي، انسان په همدې سترګي سره و هر لوري ته ګوري.
ثُمَّ وَضَعَهَا فِيْ مِحْجَرٍ صُلْبٍ مِّنَ الْعَظْمِ، وَجَعَلَ
بيا يې دا سترګه په يوه سخت استخواني هډوکي کي ځای پر ځای کړې ده، او د سترګو
عَلَيْهَا مِنَ الْجُفُوْنِ غِطَاءً يَحْفَظُهَا مِنَ الْاَذٰى،
پر سر يې پرده ايښې ده چي دا سترګه له زيان څخه خوندي وساتي.
وَحَاطَهَا بِاَهْدَابٍ مِنَ الشَّعْرِ لِتَكُوْنَ سِيَاجًا يَّذُبُّ
او د سترګو د پردو پر سر يې ويښتان چاپېره کړي دي تر څو د دې سترګي څخه
عَنْهَا الذُّبَابَ وَالْبَعُوْضَ وَالْغُبَارَ الَّتِيْ تَدْخُلُ الْعَيْنَ
دهغه مچانو او غوماشو او دوړو مخه ونيسي چي سترګي ته داخليږي
فَتُسَبِّبُ لَهَا الْاَلَمَ وَالْمَرَضَ، وَسَلَّطَ عَلَيْهَا مَاءً
او د سترګي د درد او ناروغۍ سبب ګرځي. او پر سترګي باندي يې رواني اوبه

جَارِيًا يَغْسِلُ مَا يَدْخُلُ فِيْهَا مِنَ الْاَوْسَاخِ. وَالْعَيْنُ

چاپيره کړي دي چي هغه خيري په پرطولي چي ورداخليږي. او سترګه

عُرْضَةٌ لِكَثِيْرٍ مِنَ الْاَمْرَاضِ، كَالرَّمَدِ وَقِصَرِ النَّظَرِ

د ډېرو ناروغيو لکه پاړسوب او کمزوري ليد په وړاندي حساسي دي

وَقَدْ عَمَّ هٰذَا الْمَرَضُ الْاَخِيْرُ فِيْ هٰذَا الزَّمَانِ

او اوس مهال دا وروستۍ ناروغي پراخه سوې ده

فَلَجَاَ النَّاسُ حَتَّى الْاَطْفَالُ اِلَى اسْتِعْمَالِ مِنْظَرَةٍ،

نو خلک يې مجبور کړي دي تر دې چي ماشومان هم د عينکو استعمال ته اړ دي.

وَلِلْاِجْتِنَابِ عَنْ هٰذِهِ الْاَمْرَاضِ يَحْسُنُ الْاِعْتِزَالُ

د دې ناروغيو مخنيوي لپاره، غوره ده چي له دوړو

عَنِ الْغُبَارِ وَالْاَتْرِبَةِ، وَيَحْسُنُ التَّجَوُّلُ فِي الْاَمَاكِنِ

او خاورو ځان ليري وساتو، او په پراخو ځايونو کي ګرځېدل

الْفَسِيْحَةِ وَكَثْرَةُ غَسْلِ الْوَجْهِ بِالْمَاءِ الصَّافِيْ، فَاِنَّهُ

غوره دي، او مخ هره ورځ په پاکو اوبو سره پرېولل ښه دي، ځکه چي

يَجْلُو الْعَيْنَ، وَيُنَقِّيْهَا مِنَ الْاَوْسَاخِ وَالْقَذٰى،

سترګو ته ګټه رسوي، او له خيرو او کچرو يې پاکوي.

وَلِذٰلِكَ كَانَ الْوُضُوْءُ خَمْسَ مَرَّاتٍ كُلَّ يَوْمٍ خُصُوْصًا

په همدې وجه هره ورځ پنځه واره اودس کول په خاصه توګه

فِي الصَّبَاحِ عِنْدَ الْقِيَامِ نَافِعًا جِدًّا وَمُوَاصَلَةُ الْقِرَاءَةِ

په سهار کي د راپورته کېدو پر وخت ډېر ګټور دي، او په شپه کي کمزوري

لَيْلًا فِي النُّوْرِ الضَّعِيْفِ تُؤَثِّرُ فِي النَّظَرِ تَأْثِيْرًا
رڼا کي مطالعه کول د سترګو په ديد کي ډېره کمزوري
كَبِيْرًا، وَتَضُرُّ بِهٖ ضَرَرًا عَظِيْمًا. فَعَلٰى مَنْ اَلْجَاَتْهُ
راولي، او په دې سره ستر زيان ورته رسيږي، پر هغه چا چي مجبور وي
الضَّرُوْرَةُ اِلٰى ذٰلِكَ اَنْ يَّسْتَعْمِلَ مِنَ الْمَصَابِيْحِ
دا لازمه ده چي دا دول ډيوې (څراغونه) استعمال کړي
مَا كَانَ ذَا نُوْرٍ رَائِقٍ مُعْتَدِلٍ غَيْرِ سَاطِعٍ وَلَا ضَعِيْفٍ.
چي معتدله (برابره) رڼا ولري، نه ډېره تېزه وي او نه ډېره کمزورې.
وَالْعَيْنُ جَوْهَرَةٌ غَالِيَةٌ لَا يُمْكِنُ اَنْ تُشْتَرٰى بِالْمَالِ
او سترګي يو داسي قيمتي جوهر دئ چي هغه په پيسو نه اخيستل کيږي
وَبِهَا يَتَمَتَّعُ الْاِنْسَانُ بِجَمَالِ الطَّبِيْعَةِ وَيَقْضِيْ بِهَا
په هغو سره انسان د طبيعت ښکلا ويني او خپل ځاني ضرورتونه
حَاجَاتٍ فِيْ نَفْسِهٖ، وَيَكُوْنُ عُضْوًا عَامِلًا مُفِيْدًا
ورباندي پوره کوي، سترګي د انسان د بدني غړو له کورنۍ څخه
مِنْ اَعْضَاءِ الْاُسْرَةِ الْاِنْسَانِيَّةِ، وَاِذَا فَقَدَ الْاِنْسَانُ
يو ډېر کار کوونکی غړی دئ. او کله چي يو انسان خپل ليد (نظر)
بَصَرَهٗ حُرِمَ شَيْئًا كَثِيْرًا مِّنْ نِعَمِ الدُّنْيَا وَمَحَاسِنِهَا
له لاسه ورکړي نو د دنيا له ډېرو نعمتونو او ښيګڼو څخه به بې برخي سي
فَكَاَنَّمَا اَظْلَمَ لَهُ الْعَالَمُ، وَكَانَ كَلًّا عَلٰى غَيْرِهٖ، وَرُبَّمَا
نو لکه ده چي دا نړۍ تياره سي، او پر نورو باندي بوج سي، او ډېری وختونه

كَانَ عِيَالًا عَلٰى عَصًا حَقِيْرَةٍ لَّا يَمْشِىْ بِغَيْرِهَا.

هغه د يوې كمزورې لكړې محتاج سي چې له هغې پرته نه سي تلاى.

الاسئلة (١)

(١) ما فوائد العين؟

(٢) اذكر ثلاثه اقسام تتألف منها العين؟

(٣) ما فائدة الاهداب؟

(٤) كيف نحافظ على العين؟

(٥) لِمَ كان الوضوء نافعا ومفيدًا؟

استخرج الصفة من العبارتين التاليتين:

مواصلة القراءة المستمرة ليلا فى النور الضعيف تؤثر فى النظر تأثيرا كبيرًا، وتضر به ضررًا عظيمًا.

العين جوهرة غالية وهى عضو مفيد فى الجسم الانسانى.

---

(١) محترم استاذ دې له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو كې ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(١٢)

اَلْعَيْنُ [٢]

سترګه (دوهمه برخه)

وَلِذٰلِكَ كَانَتِ الْعَيْنُ ثَمِيْنَةً غَالِيَةً وَنِعْمَةً جَلِيْلَةً
له همدې امله، سترګه يوه ارزښتناکه، قيمتي او ستر نعمت دی.
حَتّٰى قَالَ النَّبِيُّ ﷺ: اِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ قَالَ: اِذَا
آن تر دې چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله عزوجل فرمايي: کله چې
ابْتَلَيْتُ عَبْدِیْ بِحَبِيْبَتَيْهِ فَصَبَرَ، عَوَّضْتُهُ
زه خپل بنده د ده د دوو محبوبو (سترګو) په ازموينه کې واچوه او هغه صبر وکړ، نو په بدل
مِنْهُمَا الْجَنَّةَ. يُرِيْدُ عَيْنَيْهِ. وَلَا يَلْزَمُ اَنْ يَّكُوْنَ
کې به هغه جنت ورکړم. مراد يې د هغه سترګې دي. او دا لازمه نه ده چې
الْاِنْسَانُ اِذَا فَقَدَ بَصَرَهُ عَاطِلًا ضَائِعًا فَلَقَدْ فَاقَ
کله يو انسان خپل نظر له لاسه ورکړي، نو هغه بې کاره او بې ګټې دئ، ځکه چې ډېر
كَثِيْرٌ مِّنَ الْعُمْيَانِ كَثِيْرًا مِّنْ اَهْلِ الْبَصَرِ فِي الْعِلْمِ
نابينايان په علم کې تر ډېرو بينايانو مخکې دي
وَاَقَرَّتْ لَهُمُ الدُّنْيَا بِالْفَضْلِ، كَالْمُفَسِّرِ قَتَادَةَ،
او دنيا د هغوی د فضيلت (غوراوي) اقرار کړی دئ، لکه مفسير قتاده

وَالْمُحَدِّثِ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ وَالْفَقِيْهِ زُبَيْرِ الْبَصْرِيِّ
او محدث حماد بن زيد او فقيه زبير البصري
وَالنَّحْوِيِّ اَبِيْ جَعْفَرٍ، وَالْاَدِيْبِ اَبِي الْعَلَاءِ الْمَعَرِّىْ،
او نحوي ابو جعفر، او اديب ابو العلاء المعري
وَالشَّاعِرِ بَشَّارِ بْنِ بُرْدٍ، وَاِمَامِ التَّجْوِيْدِ الْاِمَامِ
او شاعر بشار بن برد او د تجويد امام
الشَّاطِبِيِّ. وَمِنْ حَقِّ هٰذِهِ النِّعْمَةِ اَنْ يُّحَافِظَ
شاطبي، د دې نعمت حق دا دئ چي انسان د هغه
عَلَيْهَا الْاِنْسَانُ وَاَنْ يَّضِنَّ بِهَا عَنْ مَّحَارِمِ اللهِ
ساتنه وکړي. او دا چي په هغه سره ځان د الله تعالى د حرامو څخه وساتي.
فَاِنَّهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى قَالَ: ﴿يَعْلَمُ خَآئِنَةَ الْاَعْيُنِ
ځکه الله سبحانه وتعالى فرمايي: "الله تعالى د سترګو په خيانت پوهيږي
وَمَا تُخْفِي الصُّدُوْرُ﴾ وَمِنْ حَقِّهَا اَنْ يَّسْتَعْمِلَهَا
او هغه څه چي زړونه يې پټوي." او د هغو حق دا دئ چي د الله تعالى په اطاعت کي
فِيْ طَاعَةِ اللهِ، وَاَنْ يُّرِيْقَ دَمْعَهَا فِيْ خَشْيَةِ اللهِ
استعمال کړل سي، او دا چي اوښکي د الله تعالى له ېېري وبهيږي.
وَقَدْ جَاءَ فِي الْحَدِيْثِ الشَّرِيْفِ: لَيْسَ شَيْءٌ اَحَبَّ
او په حديث شريف کي راغلي دي: هيڅ شی الله تعالى ته تر دوو ثاڅکو

اِلَى اللّٰهِ مِنْ قَطْرَتَيْنِ وَاَثَرَيْنِ: (قَطْرَةِ دُمُوْعٍ مِّنْ
او دوو قدمونو غوره نه دي: د اوښکو هغه څڅکي چي
خَشْيَةِ اللّٰهِ، وَقَطْرَةِ دَمٍ تُهْرَاقُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ، وَاَمَّا
د الله تعالى له ېېري څخه وي او د وينو هغه څڅکي د الله په لاره کي وبهيږي. او کوم
الْاَثَرَانِ: فَاَثَرٌ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ، وَاَثَرٌ فِيْ فَرِيْضَةٍ
چي دوه قدمونه دي: نو يو هغه قدم دئ چي د الله په لاره کي وي او بل هغه قدم دئ چي د
مِّنْ فَرَائِضِ اللّٰهِ). وَكَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَقُوْلُ فِيْ دُعَائِهٖ:
الله تعالى د فرائضو اداء کول لپاره وي، او رسول الله ﷺ به په دعاء کي ويل:
اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ عِلْمٍ لَّا يَنْفَعُ، وَمِنْ قَلْبٍ
"اې الله! زه په تا سره له داسي علم څخه پناه غواړم چي ګټه نه لري، او له داسي زړه څخه
لَّا يَخْشَعُ وَمِنْ نَّفْسٍ لَّا تَشْبَعُ، وَمِنْ عَيْنٍ لَّا تَدْمَعُ،
چي خشوع نه لري، او له داسي نفس څخه چي نه مړيږي، او له داسي سترګي چي نه ژاړي
وَمِنْ دُعَاءٍ لَّا يُسْمَعُ، وَمِنْ دَعْوَةٍ لَّا يُسْتَجَابُ لَهَا.
او له داسي دعاء څخه چي نه اوريدل کيږي او له داسي بلني څخه چي نه قبليږي.

الاسئلة [1]

(۱) اذكر حديثًا يُبيِّن عظيم ثواب من فقد نور عينيه؟

(۲) عدد بعض اسماء العميان المتفوقين فى العلم.

(۳) ما حق نعمة العين على الانسان؟

(۴) تعوذ النبى ﷺ من العين التى لا تدمع. فماذا قال؟

(۵) الله تعالى يعلم خائنة الاعين. اذكر اٰية فى ذلك؟

اكمل الفراغات التالية بالكلمة المناسبة مستعينا بالنص:

قال رسول ﷺ: (ليس شىء احب الى .... من ...... و ...... قطرة دموع من ...... الله، وقطرة دم .... فى سبيل الله. واما الاثران: فاثر فى سبيل .... واثر فى .... من فرائض الله).

(۱) محترم استاذ دي له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه څيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کي ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ۱۲ ن

(۱۳)

اَدَبُ الْمُعَاشَرَةِ

د ژوندي (زندگی) ادب

اُسْلُكْ مَعَ النَّاسِ الْاَدَبْ	تَرَ مِنَ الدَّهْرِ الْعَجَبْ
له خلکو سره ښه چلند وکړه،	ته به د زماني حيرانونكي حالات ووينې.
وَلَا تُطَاوِلْ بِنَشَبْ	وَلَا تُفَاخِرْ بِنَسَبْ
په شتمنيو ځان لوړ مه بوله،	او په نسب فخر مه کوه.
الْعِزُّ فِي الْاَمَانَةْ	وَالْكَيْسُ فِي الْفَطَانَةْ
عزت په امانتداری کې دی،	او زيرکتيا په هوښياری کې ده.
لَا تُغْضِبِ الْجَلِيْسَا	لَا تُوْحِشِ الْاَنِيْسَا
خپل ملګری مه غوسه کوه،	او خپل يار مه خپه کوه.
لَا تُكْثِرِ الْعِتَابَا	تُنَفِّرِ الْاَصْحَابَا
ډېره ملامتيا پر چا مه وايه	چي دوستان در څخه ليري کوي.
فَكَثْرَةُ الْمُعَاتَبَةْ	تَدْعُوْ اِلَى الْمُجَانَبَةْ
نو زياتي ملامتياوي،	د اړيکو پرې کېدو ته بلل کوي
وَاِنْ حَلَلْتَ مَجْلِسَا	بَيْنَ سَرَاةٍ رُؤَسَا
که ته په مجلس کي کښېنې،	د مشرانو او هوښيارانو تر منځ،

فَاقْصِدْ رِضَا الْجَمَاعَةْ	وَكُنْ غُلَامَ الطَّاعَةْ
د ټولو خوښي وساته،	او منونکی مريی واوسه
وَقُلْ مِنَ الْكَلَامِ	مَا رَاقَ بِالْمَقَامِ
او داسې خبري کوه،	چي له ځای سره مناسبي وي.
كَرَائِقِ الْأَشْعَارِ	وَطَيِّبِ الْأَخْبَارِ
لکه ښکلي شعرونه،	او غوره خبرونه.
وَاتْرُكْ كَلَامَ السَّفَلَةْ	وَالنُّكَتَ الْمُبْتَذَلَةْ
د بې ادبانو خبري پرېږده،	او سپکې ټوکې (مه کوه).
وَلَا تَكُنْ مِلْحَاحَا	وَاجْتَنِبِ الْمِزَاحَا
ډېره ستومانې مه کوه،	او له بې ځایه ټوکو ډډه وکړه.
فَكَثْرَةُ الْمُجُوْنِ	نَوْعٌ مِّنَ الْجُنُوْنِ
ځکه ډېره بې باکي،	د لېونتوب یوه بڼه ده

الاسئلة [١]

(١) ما الطريق السليم لمعاشرة الناس؟

(٢) اين يمكن العزة والكياسة؟

(٣) ما آداب المجلس بين الناس؟

(٤) كيف يكون الكلام مفيدًا؟

(٥) لم يدعو الشاعر الناس الى ترك الالحاح؟

اكمل البيتين التاليين:

اسلك مع ...... الادب تر من الدهر ....

ولا تكن .... واجتنب ....

(١) محترم استاذ دي له شاگردانو څخه د دې سوالونو تر څنگه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاگردانو کي ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(۱۴)

عِيۡدُ الۡاَضۡحٰى

دقربانۍ اختر (لوی اختر)

كَانَ الۡيَوۡمُ الۡاَخِيۡرُ مِنۡ شَهۡرِ ذِى الۡقَعۡدَةِ،
د ذوالقعدې مياشتې وروستۍ ورځ وه،
وَكَانَ الۡيَوۡمُ التَّاسِعُ وَالۡعِشۡرُوۡنَ مِنَ الشَّهۡرِ،
او دا د مياشتې نهه ويشتمه ورځ وه.
رَاٰى وَالِدِى الۡهِلَالَ، وَكَانَ دَقِيۡقًا جِدًّا،
زما پلار سپوږمۍ وليده، هغه ډېره نرۍ وه
وَمَا رَاَيۡتُهُ اِلَّا بِاجۡتِهَادٍ وَّبَحۡثٍ، وَرَاَيۡتُ
ما هم تر زيات کوښښ او پلټنې وروسته وليده، او ما مې خپل پلار
وَالِدِىۡ يَقُوۡلُ وَيَدۡعُوۡ. قُلۡتُ لَهُ: مَاذَا تَقُوۡلُ
وليدب چې دعاء يې ويله. ما هغه ته وويل: ته په خپله دعاء کې
فِىۡ دُعَائِكَ يَا اَبِىۡ؟ قَالَ وَالِدِىۡ: اِنَّ النَّبِىَّ ﷺ
څه وايې؟ پلار جانه! پلار مې وويل: رسول الله صلى الله عليه وسلم
كَانَ اِذَا رَاَى الۡهِلَالَ قَالَ: (اَللّٰهُمَّ اَهِلَّهُ عَلَيۡنَا
چې به کله سپوږمۍ وليدله، نو ويل به يې: اې الله! دا مياشت پر موږ باندې

بِالْاَمْنِ وَالْاِيْمَانِ وَالسَّلَامَةِ وَالْاِسْلَامِ، رَبِّیْ
په امن، ايمان، سلامتيا او اسلام سره تېره کړه. زما رب
وَرَبُّكَ اللهُ، هِلَالَ رُشْدٍ وَّخَيْرٍ) فَتَعَلَّمْتُهُ مِنْ
او ستا رب الله دی، دا د ښېګڼې او خير سپوږمۍ ده. نو ما دا دعاء له خپل پلار څخه
وَّالِدِیْ وَحَفِظْتُهُ. وَظَنَنْتُ اَنَّ الْعِيْدَ غَدًا،
زده کړه، او ياد مې کړه. ما فکر وکړ چې اختر سبا دی،
فَاَخْبَرَنِیْ اَبِیْ اَنَّ الْعِيْدَ بَعْدَ تِسْعَةِ اَيَّامٍ،
خو پلار مې را ته وويل: اختر له نهو ورځو وروسته دی.
فَاِنَّ عِيْدَ الْاَضْحٰی الْيَوْمُ الْعَاشِرُ مِنْ شَهْرِ
ځکه چې د لوی اختر ورځ، د ذو الحجې د مياشتې
ذِیْ الْحِجَّةِ. وَفِیْ الْيَوْمِ الثَّامِنِ مِنَ الشَّهْرِ
لسمه ده. او د مياشتې د په اتمه ورځ،
عُطِّلَتِ الْمَدْرَسَةُ، وَاَخْبَرَنِی الْمُعَلِّمُ اَنَّ الْحُجَّاجَ
مدرسه رخصت سوه. زما استاذ راته وويل، چې حاجيان
يَذْهَبُوْنَ الْيَوْمَ اِلٰی مِنٰی حَيْثُ يَبِيْتُوْنَ، وَهٰذَا الْيَوْمُ
نن ورځ منی ته ځي او هلته شپه سبا کوي، او دا ورځ
يُسَمّٰی يَوْمَ التَّرْوِيَةِ. وَفِیْ صَبَاحِ الْيَوْمِ التَّاسِعِ،
د ترويه ورځ نوميږي. او د نهمې ورځې په سهار کې

وَهُوَ يَوْمُ عَرَفَةَ، يَذْهَبُ الْحُجَّاجُ اِلٰى عَرَفَاتٍ،
چي هغه د عرفات ورځ ده، حاجيان عرفات ته ځي،
وَيَظَلُّوْنَ هُنَالِكَ يَدْعُوْنَ وَيَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ،
او هلته دعاوي او د الله تعالى ذكرونه كوي.
وَيَذْهَبُوْنَ مِنْهَا اِلَى الْمُزْدَلِفَةِ وَيَبِيْتُوْنَ هُنَالِكَ،
بيا له عرفات څخه مزدلفې ته ځي، او هلته شپه تېروي.
وَفِيْ صَبَاحِ الْيَوْمِ الْعَاشِرِ يَرْجِعُوْنَ اِلٰى مِنٰى
او د لسمي ورځي په سهار كي بيرته منى ته ستنيږي،
وَيَنْحَرُوْنَ، وَذٰلِكَ يَوْمُ النَّحْرِ وَهُوَ يَوْمُ الْعِيْدِ.
او قرباني كوي، او دا د قربانۍ ورځ ده، او همدا د اختر ورځ ده.
وَكَانَ اَبِيْ اشْتَرٰى بَقَرَةً سَمِيْنَةً لِلذَّبْحِ، قَالَ:
زما پلار يوه چاغه غوا اخيستې وه، چي حلاله يې كړي، هغه وويل:
فِيْهَا سَبْعَةُ سِهَامٍ: اِثْنَانِ لِيْ وَلِاُمِّكَ، وَوَاحِدٌ
په دې كي شپږ برخي دي، دوې برخي زما او ستا د مور دي، او يوه برخه
لَّكَ، وَاَرْبَعَةٌ لِاَخَوَيْكَ وَاُخْتَيْكَ. وَكَانَ اَبِيْ يَعْلِفُهَا
ستا ده، او څلور برخي ستا د ورڼو او د خوندو دي، او زما پلار غوا ته واښه
وَيَسْقِيْهَا بِنَفْسِهِ، وَقَالَ: فِيْ ذٰلِكَ فَضِيْلَةٌ وَاَجْرٌ.
او اوبه خپله وركولې، او ويې ويل: په دې كي فضيلت او ثواب دى.

وَالْيَوْمَ الْعَاشِرَ غَيَّرْنَا اللِّبَاسَ، وَكَانَ اَبِيْ قَدْ اَعَدَّ

او په لسمه ورځ مونږ جامې بدلې کړې او زما پلار زما لپاره نوې جامې

لِيْ لِبَاسًا جَدِيْدًا، اَمَّا الْحِذَاءُ، فَكَانَ حِذَاءَ

چمتو کړې وې، او کوم چې بوټونه وه، نو هغه بوټونه

الْعِيْدِ، وَكَانَ نَظِيْفًا لَّمْ يَتَوَسَّخْ، كَاَنَّهُ جَدِيْدٌ،

د اختر وه چې پاک وه او چټل سوي نه وه، لکه هغه چې نوي وي

لِاَنِّيْ مَا كُنْتُ اَلْبَسُهُ اِلَّا قَلِيْلًا، وَتَطَيَّبَ اَبِيْ وَغَيَّرَ

ځکه چې هغه ما ډېر لږ وخت په پښو کړي وه، زما پلار خوشبويي ووهله، او جامې

اللِّبَاسَ، وَخَرَجْنَا مَعَ الْجَمَاعَةِ اِلَى الْمُصَلّٰى،

يې بدلې کړې، او مونږ له خلکو سره د اختر لمانځه (عيدګاه) ته ووتلو.

فَكَبَّرَ وَهَلَّلَ جَهْرًا، وَصَلَّى الْاِمَامُ بِالنَّاسِ

نو په لوړ آواز تکبيرونه او تهليلونه ويل کېدل، امام خلکو ته جماعت ورکړ

وَخَطَبَ، وَذَكَرَ اَحْكَامَ الْاُضْحِيَّةِ، وَرَجَعْنَا

او خطبه يې وويل: د قربانۍ احکام يې وښوول، او مونږ بيرته

مِنَ الْمُصَلّٰى بِطَرِيْقٍ اٰخَرَ، وَذَبَحَ اَبِي الْبَقَرَةَ، وَسَمَّى

پر يوه بله لاره راوګرځېدلو، زما پلار غوا حلاله کړه، د الله تعالى نوم يې

اللّٰهَ وَكَبَّرَ. وَوَزَّعَتْ اُمِّي اللَّحْمَ عَلَى الْمَسَاكِيْنِ

ياد کړ او تکبير يې وو ايه، زما مور غوښه پر مسکينانو او قريبانو

وَالْاَقَارِبِ وَالْاَصْدِقَاءِ، وَطَبَخَتْ لَنَا اَيْضًا. فَمَا
او ملګرو وويشله، او زموږ لپاره يې هم پخه کړه، نو
تَغَدَّيْنَا اِلَّا بِلَحْمِ اَضْحِيَّتِنَا. وَتَوَفَّرَ كَثِيرٌ
موږ د قرباني له غوښې څخه د غرمې ډوډۍ وخوړله. او ډېره غوښه
مِّنَ اللَّحْمِ، فَاحْتَفَظَتْ بِهِ اُمِّيْ وَاَيْبَسَتْهُ، وَلَمْ نَزَلْ
پاته وه، زما مور هغه وساتله او وچه يې کړله، او هر وخت
نَاْكُلُ مِنْ هٰذَا الْقَدِيْدِ مُدَّةً طَوِيْلَةً. وَكَانَتْ فِيْ اَيَّامِ
له همدې وچې غوښې څخه تر زياتې مودې خوراک کاوه، او د اختر په درو
الْعِيْدِ الثَّلَاثَةِ مَادِبُ كَثِيْرَةٌ، وَكَانَتْ اَيَّامَ اَكْلٍ
ورځو کې مېلمستياوې زياتې وې او دا د خوراک او څښاک
وَّشُرْبٍ، وَقَدْ دَعَا اَبِيْ لَيْلَةَ يَوْمِ الْعِيْدِ جَمَاعَةً
ورځې وې، زما پلار د اختر په يوه شپه، يوه ډله خلک له خپلو ملګرو
مِّنْ اَصْدِقَائِهِ وَجِيْرَانِهِ، وَصَنَعَتْ اُمِّيْ طَعَامًا
او ګاونډيانو څخه را وبلل، زما مور خوندور خواړه
مُلَوَّنًا، فَاَكْثَرَتْ وَاَطَابَتْ. وَالْيَوْمَ الثَّانِيْ كُنَّا
تيار کړل چې ډېر وه او خوندور وه، او په دوهمه ورځ موږ
ضُيُوْفًا عِنْدَ جَارِنَا الْكَرِيْمِ: اَلسَّيِّدِ حُسَيْنِ
زموږ د سخي ګاونډي سيد حسين طبيب کره

الطَّبِيْبِ، وَكَانَتْ مَأْدُبَةٌ عَظِيْمَةٌ، وَلَمْ اٰكُلْ
مېلمانه وو، او دا يوه لويه مېلمستيا وه، او موږ دومره غوښې
مِنَ اللَّحْمِ فِيْ طُوْلِ الشَّهْرِ مَا اَكَلْتُ فِيْ ثَلَاثَةِ
په پوره مياشت کې نه وې خوړلې څومره چې مو په دې درو ورځو کې
اَيَّامٍ وَلَمْ يَضُرَّ شَيْئًا. وَكُنْتُ اَسْمَعُ الْاِمَامَ
وخوړلې او هيڅ زيان يې ونه رساوه، او ما به له امام څخه اورېدل
مِنْ فَجْرِ يَوْمِ عَرَفَةَ اِلٰى عَصْرِ الْيَوْمِ الْاٰخِيْرِ
چې د عرفات د ورځې له سهار څخه د ايام التشريق د وروستۍ ورځې
مِنْ اَيَّامِ التَّشْرِيْقِ يَعْنِى الثَّالِثَ عَشَرَ مِنْ ذِى
تر ماخيګر پورې يعنې د ذو الحجې ديارلسمې پورې
الْحِجَّةِ يُكَبِّرُ وَيُهَلِّلُ دُبُرَ كُلِّ صَلٰوةٍ مَّكْتُوْبَةٍ.
يې تر هر فرضي لمانځه وروسته تکبيرونه او تهليلونه ويل.

الاسئلة (۱)

(۱) ماذا تقول اذا رايت الهلال؟

(۲) فى اى يوم واى شهر يكون عيد الاضحى؟

(۳) ماذا يفعل الحجاج يوم عرفات؟

(۴) ماذا يفعل الامام فى صلوة عيد الاضحى؟

(۵) ماذا يصنع الناس فى العيد؟

استخرج المضاف اليه فى المقطع التالى:

كنت اسمع الامام من فجر يوم عرفة الى عصر اليوم الاخير من ايام التشريق، يعنى الثالث عشر من ذى الحجة يكبر و يُهلل دبر كل صلوة مكتوبة.

(۱) محترم استاذ دي له شاګردانو ښخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کې ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ۱۲ ن

(١٥)

تَارِيْخُ الْقَمِيْصِ

د کميس تاريخ

اِنَّكَ لَبِسْتَ قَمِيْصًا جَدِيْدًا، فَاَبْلِ وَاَخْلِقْ وَلٰكِنْ
بېشکه ته نوی کميس اغوندې، نو الله دې دا در باندې زوړ کړي، مګر
هَلْ تَعْرِفُ مِنْ تَارِيْخِهِ شَيْئًا، هَلْ تَعْرِفُ كَمْ
ايا ته د دې کميس په تاريخ پوهېږې؟ ايا ته پوهېږې چې څو
عَمِلَ فِيْهِ مِنَ الْاَيْدِيْ، وَكَمِ اشْتَغَلَ بِهِ النَّاسُ،
لاسونه پکښې کار کړی؟ او څو کسانو پکښې زحمت ويستی؟
وَكَمْ تَعِبَ فِيْهِ الْعَامِلُوْنَ، وَكَيْفَ وَصَلَ اِلَيْكَ؟
څو کارګرو پکښې تکليف ګاللی؟ او دا څنګه تا ته در ورسېدی؟
كَانَ اَوَّلُ اَمْرِهِ اَنَّ الزَّرَّاعَ زَرَعَ الْقُطْنَ وَتَحَمَّلَ
د دې کميس پيل له هغه ځايه وو چې کروندګر پنبه وکرله، او زحمت يې وزغمی.
فِيْ زَرَاعَتِهِ عَنَاءً شَدِيْدًا، فَاِنَّ زِرَاعَةَ الْقُطْنِ فِيْهَا
هغه د پنبې په کرلو لپاره سخت تکليف وزغمه، ځکه چې د پنبې کرنه
تَعَبٌ عَظِيْمٌ، وَشُغْلٌ طَوِيْلٌ، حَرَثَ الْاَرْضَ
سخته، اوږده، او زحمت غوښتونکې وي. هغه ځمکه يوې کړله،

ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، أَوْ أَكْثَرَ، وَشَقَّ خُطُوطًا، وَمَلَأَهَا
درې يا زيات ځله، او کرښې يې پکښې جوړې کړې، او به يې پکښې
بِالْمَاءِ، وَتَرَكَهَا حَتّٰى جَفَّتْ، وَحَفَرَ فِيْ جَنْبِهَا
وبهولې، او پرې يې ښودې چې وچه سي، بيا يې د هغې تر څنګ کندې وکيندلې،
حُفَرًا، ثُمَّ بَذَرَ فِيْهَا بُذُوْرًا مِنَ الْقُطْنِ قَدْ نَقَعَهَا
بيا يې د پنبې تخمونه وکرل، چې له مخکې يې د شپې لپاره په اوبو کې
بِالْمَاءِ لَيْلَةً، وَلَمَّا نَجَمَ النَّبَاتُ عَزَقَ الْفَلَاحُ
لانده کړي وه، او کله چې بوټي راټوکېدل، کروندګر يې کرښې
الْخُطُوْطَ فَجَعَلَ بَاطِنَهَا ظَاهِرَهَا وَقَلَعَ الْحَشَائِشَ
هوارې کړې، ځمکه يې سره واړوله را واړوله، او ضررې واښه يې وايستل،
الَّتِيْ تَضُرُّ بِالْقُطْنِ، وَأَرْوَاهَا مِرَارًا، وَلَمْ يَزَلِ
هغه چې پنبې ته زيان رسوي، څو ځله يې اوبه ورکړې،
الْفَلَاحُ يَخْدُمُ الْحَقْلَ، وَيَتْعَبُ وَلَا يَسْتَرِيْحُ
کروندګر د پټي خدمت ته کاوه، ستړی کېده، او استراحت يې نه کاوه،
شُهُوْرًا، حَتّٰى ظَهَرَ فِيْهَا الْقُطْنُ، فَانْبَثَّ الْأَوْلَادُ
په مياشتو، تر دې چې پنبه رابنکاره سوه، بيا ماشومان پټي ته لاړل،
مِنَ الْبَنِيْنَ وَالْبَنَاتِ فِي الْحَقْلِ، وَجَنَوُا الْقُطْنَ. وَلَمَّا
هلکان او نجوني راټول سول، او د پنبې راټولولو ته يې دوام ورکړ.

جُمِعَ الْقُطْنُ اُرْسِلَ اِلَى الْحَلَّاجِ، فَحَلَجَهُ، ثُمَّ نُقِلَ

کله چې پنبه راټوله سوه، حلّاج ته واستول سوه، هغه پاکه کړه،

اِلٰى بَعْضِ الْمَصَانِعِ فَغُزِلَ، ثُمَّ اَخَذَهُ الْحَائِكُ،

بيا يې فابريکې ته واستوله، چيرته چې وشنل سول، بيا اوبدونکي واخيست،

وَمَدَّهُ خُيُوْطًا مُتَقَارِبَةً، وَلَمْ يَزَلْ يَشْتَغِلُ وَيَتْعَبُ

تارونه يې نږدې سره برابر کړل، او څو ورځې يې کار کړ، او ستړی سو

اَيَّامًا حَتّٰى نَسَجَهُ ثَوْبًا نَاعِمًا مَتِيْنًا وَاشْتَرٰى

تر دې چې يو نرم او قوي ټوکر يې ترې جوړ کړ. او يو سوداګر

تَاجِرٌ ذٰلِكَ الثَّوْبَ وَوَضَعَهُ فِيْ دُكَّانِهِ، فَذَهَبَ اِلَيْهِ

دغه ټوکر رانيوی، او دا په خپل دوکان کې يې کښېښود، نو ستا پلار هغه ته

اَبُوْكَ بِمَالِهِ الَّذِيْ اِكْتَسَبَهُ بِعَرَقِ الْجَبِيْنِ

ورغلی او په خپلو هغو پيسو يې رانيوی چې د خپلو خولو په تويولو يې کار کړی وو

وَتَعِبَ فِيْهِ اَيَّامًا، وَاَنْتَ مُسْتَرِيْحٌ فِي الْبَيْتِ تَاْكُلُ

او په ورځو يې ځان ستړی کړی وو، حال دا چې ته په کور کې هوسا وې، خوړل دي

وَتَنَامُ، وَذَهَبَ ذٰلِكَ الثَّوْبُ اِلٰى خَيَّاطٍ فَفَصَّلَ مِنْهُ

او خوب دي کوی، بيا دا ټوکر خياط ته ولاړی، نو هغه درته له دې کميس

لَكَ قَمِيْصًا، ثُمَّ خَاطَهُ لَيْلَةَ الْعِيْدِ وَهُوَ سَاهِرٌ،

جوړ کړ، او د اختر په شپه يې درته وګنډه، حال دا چې هغه بې خوبه وو

وَاَنْتَ فِيْ فِرَاشِكَ نَائِمٌ. وَجَاءَ اِلَيْكَ الْقَمِيْصُ
او ته په خپل بستر کي ييده وې. او دا کميس تا ته راغلی،
مِنْ غَيْرِ تَعَبٍ مِّنْكَ وَشُغْلٍ، اَفَلَا يَجِبُ عَلَيْكَ
پرته له دې چي ته پکښي کار وکړې او ستړی سې. نو ايا پر تا لازمه نه ده
اَنْ تَقُوْلَ اِذَا لَبِسْتَهُ: (اَللّٰهُمَّ اَنْتَ كَسَوْتَنِيْهِ،
چي کله دا کميس اغوندې، نو ووايې: اې الله! تا ما ته جامې راکړې
وَاَلْبَسْتَنِيْهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِّنِّيْ وَلَا قُوَّةٍ، اَسْئَلُكَ
او په ما دې واغوستلې، پرته زما له ګرځېدلو او قوته. زه ستا څخه سوال کوم
خَيْرَهُ، وَخَيْرَ مَا صُنِعَ لَهُ، وَاَعُوْذُ بِكَ
د دې د خير او د هغه څه د خير چي د هغه لپاره جوړ سوي دي او په تا سره پناه غواړم
مِنْ شَرِّهِ، وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهُ).
د دې له شر څخه د هغه څه له شر څخه چي د هغه لپاره جوړ سوي دي.

الاسئلة (١)

(١) اذكر مراحل صناعة القميص؟

(٢) كيف يخدم الفلاح الحقل؟

(٣) الى اين يُرسَلُ القطن بعد جمعه؟

(٤) من يخيط القميص؟

(٥) ماذا تقول اذا لبست قميصًا؟

هات مفردات الجموع التالية:

العاملون، الاراضى، الخطوط، الاولاد، المصانع

(١) محترم استاذ دي له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کې ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(١٦)

اَلْاَسَدُ

زمری

اَلْاَسَدُ مَلِكُ الْغَابَةِ، وَسَيِّدُ السَّبَاعِ، وَهَيْئَتُهُ
زمری د ځنګل پاچا او د ځناورو مشر دئ، او د هغه بڼه
تَدُلُّ عَلٰى ذٰلِكَ، فَلَهُ مَنْظَرٌ مُّهِيْبٌ، وَزَئِيْرٌ تُدَوِّى
پر همدې دلالت کوي، هغه يو درونډ او د بيرې وړ بڼه لري، او د هغه غړمبهار ټوله
لَهُ الْغَابَاتُ، وَيَطِيْرُ لَهُ قَلْبُ الشُّجَاعِ؛ قَوِىُّ الْبَاْسِ
ځنګل لړزوي، چې د زړور سړي زړه هم الوزوي. ډېر پياوړی
كَبِيْرُ الْجِسْمِ، يُحِيْطُ بِرَاْسِهِ شَعْرٌ كَبِيْرٌ يَّكَادُ
او د لوی بدن خاوند دی، د سر پر شاوخوا يې غټ وربښتان دي، چې نږدې ده
يَحْجُبُ رُكْبَتَيْهِ، اِذَا غَضِبَ تَجَعَّدَتْ جَبْهَتُهُ وَخَدَّاهُ،
ځنګونه يې پټ کړي. کله چې غوسه سي، نو تندی او مخ يې کش سي،
وَكَشَّرَ عَنْ اَنْيَابِهِ وَاَبْرَقَتْ عَيْنَاهُ، وَاخْتَلَجَ
خپل غاښونه ښيي، او سترګي يې پړقونه وهي. او باڼه يې
حَاجِبَاهُ وَوَقَفَ شَعْرُ بَدَنِهِ وَضَرَبَ بِذَنَبِهِ جَنْبَيْهِ
رپيږي، او د بدن وېښتان يې جګيږي، او په خپلي لکۍ يوه او بله خوا وهي

وَاَطْبَقَ عَيْنَيْهِ وَمَالَ اِلَى الْاَرْضِ وَوَثَبَ عَلٰى فَرِيْسَتِهٖ

سترګې پټې کړي، مځکې ته ټيټ سي، او پر ښکار داسي بريد وکړي

كَالصَّاعِقَةِ، حَتّٰى اِذَا ظَفِرَ بِهَا اَخَذَ فِيْ مُلَاعَبَتِهَا،

لکه برېښنا. تر هغو چي ښکار ونيسي، کله بريالى سي نو له هغه سره لوبې کوي،

ثُمَّ مَزَّقَهَا بِاَنْيَابِهٖ تَمْزِيْقًا. وَاِذَا كَانَ الْاَسَدُ مُقَيَّدًا

بيا يې په خپلو غاښونو ټوټې ټوټې کړي. او کله چي زمرى بندي وي

دَلَّتْ هَيْئَتُهٗ عَلَى الْهُدُوْءِ. فَاِذَا اُفْلِتَ وَهُيِّجَ اِنْدَفَعَ

بڼه يې د آرامۍ ښکارندويي کوي. خو که خلاص سي او قهرجن سي، د خپل ځايه

مِنْ عَرِيْنِهٖ، وَهُوَ اَكْثَرُ شَجَاعَةً فِي اللَّيْلِ مِنْهُ

په بېړه راوځي. او هغه په شپه ډېر زړور وي. نسبت

فِي النَّهَارِ، وَيَمُرُّ بِالْاِنْسَانِ، وَلَا يَتَعَرَّضُ لَهٗ

ورځي ته، د انسان خوا ته تېرېږي، او په هغه هيڅ کار نه لري،

اِلَّا اِذَا كَانَ ضَارِيًا اَوْ هَاجَهٗ اِنْسَانٌ. وَيَهْجُمُ

مګر کله چي ډېر وږى وي يا يې يو انسان په غوسه کړي. هغه پر حيواناتو

عَلَى الْحَيْوَانَاتِ كَالْخَيْلِ وَالْجِمَالِ وَالْبَقَرِ وَغَيْرِهَا،

لکه اسونو، اوښانو، غواوو او داسي نورو باندي بريد کوي.

وَيَصِيْدُ الظَّبْىَ وَيَاْكُلُهٗ بِرَغْبَةٍ، وَتَدْفَعُهُ الْجَرَاءَةُ

اوسۍ ښکار کوي او په لېوالتيا سره يې خوري. او د زړورتيا له امله

إِلَى اخْتِطَافِ الْإِنْسَانِ مِنْ بَيْنِ قَوْمِهِ. وَأُنْثَى الْأَسَدِ
كله ناكله انسان د خلګو له منځه وړي. د زمري ښځه
تُعْرَفُ بِاللَّبُوءَةِ، وَهِيَ أَصْغَرُ جُثَّةً، وَأَخَفُّ حَرَكَةً،
په لبوئې پېژندل کيږي. هغه د زمري په پرتله کوچنی بدن او چټک حرکت لري
وَأَشَدُّ غَضَبًا مِنْهُ، وَجَرْوُهَا يُعْرَفُ بِالشِّبْلِ،
او په قهر کي تر زمري سخته ده. او د هغې بچی شِبل نوميږي.
وَيَبْدَأُ فِي الْإِفْتِرَاسِ، وَيَهْتَمُّ بِقُوَّتِهِ إِذَا بَلَغَ
د زمري بچی د ښکار زده کړه پيلوي، او خپل قوت ته پام کوي کله چي
الثَّانِيَةَ مِنْ عُمُرِهِ. وَمُعَدَّلُ طُوْلِ الْأَسَدِ ثَلَاثُ
دوه کلن سي. د زمري اوسط قد درې ذرعې (شاوخوا ۱٫۵ متره)
أَذْرُعٍ، وَعُلُوُّهُ ذِرَاعٌ وَّرُبُعٌ، وَمُعَدَّلُ مَا يَعِيْشُ
دی. او د لوړوالي اوسط يې يو ذرع او ربع (نږدې يو متر) دی. او په اوسط ډول هغه
خَمْسٌ وَّعِشْرُوْنَ سَنَةً، وَقَدْ يَبْلُغُ فِيْ قَفَصِهِ
پنځه ويشت (۲۵) کاله ژوند کوي، او په قفص کي د هغه عمر
مِائَةَ سَنَةٍ أَوْ أَكْثَرَ.
سلو کالو ته رسيږي يا تر هغه هم زيات

الاسئلة [١]

(١) مَن ملك الغابة وسيد السباع؟

(٢) صف الاسد بسطرين؟

(٣) كيف يثب الاسد على فريسته؟

(٤) ما اسم انثى الاسد؟

(٥) ما معدل يعيش الاسد؟

استخرج التمييز من الجملتين التاليتين:

اللبوءة اصغر جثةً من الاسد، واخفُّ حركةً واشدُّ غضبًا منه.

الاسد اكثر شجاعةً فى الليل.

---

(١) محترم استاذ دي له شاگردانو څخه د دې سوالونو تر څنگه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاگردانو کي ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(۱۷)

غُرُورُ الدُّنْيَا

د دنيا تېر ايستنه

تَقُوْلُ لَيْسَ الْمَاجِدُ	اِلَّا الْقَنُوْعُ الزَّاهِدُ
وايي چي معزز شخص نسته	مگر قناعت كوونكى او پرهېزگاره
فَمَا اَعَزَّ مَنْ قَنِعْ	وَمَا اَذَلَّ مَنْ طَمِعْ
ځوک چي قناعت كوي خورا عزتمند دى،	او ځوک چي طمع كوي ډېر ذليل دى.
دُنْيَاكُمْ حَبِيْبَةْ	بِحُسْنِهَا وَالطَّيِّبَةْ
ستاسو دنيا ښكلي او خوږه ښكاري	په خپل جمال او لذت سره
لٰكِنَّهَا غَدَّارَةٌ	خَدَّاعَةٌ غَرَّارَةٌ
خو دا دنيا چالبازه ده،	فريبكار او غداره ده.
لَيْسَ لَهَا حَبِيْبٌ	زَوَالُهَا قَرِيْبٌ
د دې دنيا هيڅ حقيقي دوست نسته،	ځكه د هغې پاى ته رسېدل نږدې دي.
مَلُوْلَةٌ خَوَّانَةٌ	لَيْسَ لَهَا اَمَانَةٌ
بې وفا او خيانتكاره ده،	او هيڅ امانتداري نه لري

تُفَرِّقُ الْاَحْبَابَا	تُشَتِّتُ الْاَتْرَابَا
دوستان له يو بل څخه جلا کوي	همزولي سره پاشي
حَرْبٌ لِّمَنْ سَالَمَهَا	تَمَلُّ مَنْ لَّازَمَهَا
د هغه لپاره جګړه ده چي سوله ورسره کوي	څوک چي ورسره پاته کيږي خسته کوي يې
عَزِيْزُهَا ذَلِيْلُ	كَثِيْرُهَا قَلِيْلُ
د دې دنيا عزتمن خوار وي	د دې دنيا ډېر والى لږ وي
وِصَالُهَا عَنَاءُ	صُدُوْدُهَا بَلَاءُ
د دې يو ځاى والى درد دئ	د دې منعه کوونکي بلا وي ده
يَحْظٰى بِهَا الْجُهَّالُ	وَيَنْعَمُ الْاَنْذَالُ
په دې سره ناپوهان خوشحاله کيږي	او کمزوري خلګ پرې راحته کيږي
يَشْقٰى بِهَا اللَّبِيْبُ	وَيَتْعَبُ الْاَدِيْبُ
هوښيار په دې سره بدبخته کيږي	او اديبان په دې سره ستړي کيږي

(ابو العتاهية)

الاسئلة (١)

(١) من هو الماجد؟

(٢) بِمَ وصف الشاعر الدنيا فى البيت الرابع؟

(٣) من يشقى ويتعب فى الدنيا؟

(۴) من يحظى بالدنيا؟

(۵) كيف نستفيد من الدنيا لخير الآخرة؟

اكمل البيتين التاليين:

تَقُوْلُ ليس .... اِلَّا .... الزَّاهِدُ

فما اَعزَّ مَنْ .... وَمَا اَذَلَّ مَنْ ....

---

(١) محترم استاذ دې له شاګردانو ښخه د دې سوالونو تر ښنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کې ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(١٨)

رِسَالَةٌ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ

رسول الله صلى الله عليه وسلم ته پيغام

اِذَا جَاءَكَ قَرِيْبٌ اَوْ صَدِيْقٌ، وَقَالَ: اِنِّيْ مُسَافِرٌ
که ستا يو نږدې خپل يا ملګرى تا ته راغلى او ويې ويل: زه وطن ته
اِلَى الْوَطَنِ، وَسَاُقَابِلُ اَبَاكَ. فَهَلْ تُوْصِيْ بِشَيْءٍ؟
سفر کوم، او ستا له پلار سره مخامخ کېږم، نو آيا ته ورته څه وصيت لرې؟
وَهَلْ لَكَ رِسَالَةٌ اِلَيْهِ اَحْمِلُهَا مِنْكَ، وَاُبَلِّغُهَا اِلَيْهِ؟
او آيا ته ورته کوم پيغام لرې چې زه يې راسره واخلم او هغه ته يې ورسوم؟
فَلَا تَشُكُّ اَنَّهُ سَيَجْتَمِعُ بِاَبِيْكَ، وَرُبَّمَا يَسْئَلُ
نو ته شک مه کوه چې هغه به ستا له پلار سره ويني، او شايد ستا پلار
اَبُوْكَ عَنْكَ خَبَرًا سَارًّا وَبُشْرٰى صِحَّتِكَ. فَتَقُوْلُ:
له هغه څخه ستا د خوشحالۍ پوښتنه وکړي او ستا د روغتيا زيرى واخلي نو ته به ووايې:
تَقْرَاُ عَلٰى وَالِدِيْ مِنِّي السَّلَامَ، وَقُلْ لَهُ: اِنَّ ابْنَكَ
زما له طرفه زما پلار ته سلام ووايه، او ورته ووايه: ستا زوى

بِخَيْرٍ، وَكَمَا تُحِبُّ مِنْ صِحَّةٍ وَسُرُوْرٍ. كَذٰلِكَ كَانَ
ښه دی، او لکه څنګه چي يې ته خوښوې، روغ او خوشحاله دئ، همدغه ډول
الْمُسْلِمُوْنَ يَعْتَقِدُوْنَ اَنَّ الْمَوْتَ جِسْرٌ اِلَى الْاٰخِرَةِ
مسلمانان عقيده لري چي مرګ د آخرت پل دی
وَكُلُّ مَنْ عَبَرَ هٰذَا الْجِسْرَ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ وَصَلَ
او هر مسلمان چي پر دغه پُل تېر سي، نو هغه آخرت ته
اِلَى الْاٰخِرَةِ، وَاجْتَمَعَ هُنَالِكَ بِرَسُوْلِ اللهِ ﷺ،
رسيږي، او هلته به له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره يو ځای سي
وَتَشَرَّفَ بِزِيَارَتِهٖ، وَلَا بُدَّ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ
او د هغه په ليدلو به مشرف سي، هيڅ شک نسته چي رسول الله ﷺ به
سَائِلٌ عَنْ اُمَّتِهٖ. وَيُمْكِنُ اَلَّا يَصِلَ قَرِيْبُكَ اَوْ
د خپل امت پوښتنه کوي، او کېدای سي چي ستا خپل يا دوست
صَدِيْقُكَ اِلَى الْوَطَنِ لِمَانِعٍ اَوْ حَادِثَةٍ، اَوْ يَصِلَ
وطن ته ونه رسيږي د کوم خنډ يا پيښې له امله، يا شايد وطن ته
اِلَى الْوَطَنِ، وَلَا يَجْتَمِعَ بِاَبِيْكَ، وَلٰكِنَّ الْمُسْلِمِيْنَ
ورسيږي، خو ستا له پلار سره ونه ويني، خو مسلمانان

مَا كَانُوْا يَشُكُّوْنَ فِيْ وُصُوْلِ الْمَيِّتِ اِلٰى عَالِمِ
شک نه لري په دې کې چې مړی د آخرت عالم ته
الْاٰخِـرَةِ، وَاجْتِمَاعِ الشَّهِـيْدِ بِرَسُـوْلِ اللهِ ﷺ.
رسيږي، او دا چې شهيد له رسول الله ﷺ سره يو ځای کيږي
زَحَفَ الْمُسْلِمُوْنَ اِلَى الشَّامِ وَكَانَ النَّبِيُّ ﷺ اَخْبَرَهُمْ:
مسلمانان شام ته روان سول، او نبي ﷺ دوی ته خبر ورکړی وو چي
(لَتَفْتَحُنَّ كُنُوْزَ كِسْرٰى وَقَيْصَرَ) وَقَـدْ وَعَدَهُمَا
خامخا به تاسو د کسری او قيصر خزانې پرانيزئ. او الله تعالى دوی ته د نصرت
اللهُ بِالنَّصْرِ وَقَالَ: ﴿اِنَّـهُمْ لَهُمُ الْمَنْصُوْرُوْنَ. وَاِنَّ
وعده ورکړې وه، او ويې فرمايل: بېشکه له دوی سره نصرت سوی دئ او بېشکه
جُنْدَنَا لَهُمُ الْغَالِبُوْنَ﴾ وَكَانُوْا وَاثِقِيْنَ بِالنَّصْرِ
او زموږ لښکر برلاسی کېدونکی دئ. او دوی د بريا او فتحي پوره باور
وَالْفَتْحِ، وَكَذٰلِكَ كَانَ، فَـقَدْ فَتَحُوْا مَدِيْنَةً بَعْدَ
درلود، او همداسي وسول، دوی فتحه کاوه يو ښار وروسته
مَدِيْنَةٍ، وَهَزَمُوْا جُنْدًا بَعْدَ جُنْدٍ. وَجَاءَ رَجُلٌ
تر بل ښار، او ماتاوه يې يو پوځ وروسته تر بل پوځ، او د يرموک د جنګ

يَوْمَ الْيَرْمُوْكِ اِلٰى اَبِيْ عُبَيْدَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَائِدِ
په ورځ يو سړی حضرت ابو عبيده رضي الله عنه ته راغی چې د مسلمانانو
الْمُسْلِمِيْنَ فَقَالَ: اِنَّنِيْ قَدْ تَهَيَّأْتُ الْاَمْرِيْ اَيْ
مشر وو، ويې ويل: ما خپل ځان د شهادت لپاره
لِلشَّهَادَةِ فَهَلْ لَكَ مِنْ حَاجَةٍ اِلٰى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ؟ قَالَ
تيار کړی دئ، ايا ته رسول الله ﷺ ته کوم پيغام لرې؟ ابو عبيده رضي الله عنه
اَبُوْ عُبَيْدَةَ: نَعَمْ! تُقْرِئُهُ عَنِّي السَّلَامَ، وَتَقُوْلُ: يَا
وويل: هو! هغه ته زما له طرفه سلام ووايه، او ورته وايه: اې
رَسُوْلَ اللهِ ﷺ! اِنَّا قَدْ وَجَدْنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقًّا(١).
د الله رسوله ﷺ! بېشکه موږ هغه څه چې الله تعالی راته وعده کړې وه، په حق ومونده.

(١) (البداية والنهاية لابن كثير: ج ٧ / ص ١٢).

الاسئلة [١]

(١) شبه الكاتب الموت بجسر موصل الى الآخرة، ما موطن الجمال فى هذا التشبيه؟

(٢) ماذا قال رسول الله ﷺ فى فتح الشام ؟

(٣) جند الله تعالى هم المنصورون. اذكر آية قرآنية تؤكد هذا المعنى.

(٤) ما الحاجة التى طلبها ابو عبيدة من الذى هيّأ نفسه للشهادة؟

(٥) اكتب رسالة لا تتجاوز ثلاثة اسطر تؤكد فيها عزمك على الاجتهاد والاستقامة.

اجعل كلا من الكلامات التالية فى جملتين، على ان تكون فى الاولى ظرفا وفى الثانية غير ظرف:

ساعة، شمال، عشاء، وسط.

---

(١) محترم استاذ دي له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کي ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(۱۹)

حَادِثَةٌ

پېښه

زَارَنَا مَرَّةً ضَيْفٌ كَرِيْمٌ، وَبَاتَ عِنْدَنَا لَيْلَةً،
يوه ورځ زموږ کره يو عزتمند مېلمه راغی، او شپه يې زموږ سره تېره کړه.
وَفِي الصَّبَاحِ قُلْتُ لَهُ: أَتَسْتَحِمُّ يَا سَيِّدِي؟ وَكَانَ
په سهار کې ما هغه ته وويل: "صاحبه! ايا ته غسل کوې؟" او دا
يَوْمُ جُمُعَةٍ، قَالَ: نَعَمْ! قُلْتُ: هٰذَا مُغْتَسَلٌ، قَالَ:
د جمعې ورځ وه. هغه وويل: "هو"، ما ورته وويل: "دغه حمام دئ." هغه وويل:
بَلْ أَسْتَحِمُّ فِي النَّهْرِ. وَكَانَ الشَّيْخُ يَعْرِفُ السَّبَاحَةَ
"نه، زه به په وياله کې غسل کوم." د سپين ږيري آب بازي زده وه
إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَتَّفِقْ لَهُ أَنْ يَّسْبَحَ مِنْ مُّدَّةٍ طَوِيْلَةٍ،
مګر هغه له ډېره مودې راهيسې آب بازي نه وه کړې
وَسَمِعْتُ أَنَّ الْإِنْسَانَ لَا يَنْسَى السَّبَاحَةَ إِذَا تَعَلَّمَهَا
او ما اورېدلي وه چې کله يو شوک آب بازي زده کړي، بيا يې نه هېروي،
إِلَّا أَنَّهُ يَتْعَبُ سَرِيْعًا. وَكَانَ النَّهْرُ فَائِضًا وَكَانَ
مګر دا چې هغه ژر ستړی کېږي. وياله اوبو ډکه وه، او

يَجْرِىْ بِقُوَّةٍ، فَخَاضَ الشَّيْخُ النَّهْرَ، وَبَدَاَ

په ډېري تېزی بهېدله، سپين ږيرى ويالې ته ورکښته سو او په آب بازي يې

يَسْبَحُ، فَمَا لَبِثَ اَنْ كَلَّتْ عَضُدُهُ، وَخَارَتْ قُوَاهُ

شروع وکړه، خو ډېر وخت نه وو تېر سوی، چې د لاسونو ځواک يې

وَاَعْيَا، وَدَفَعَهُ الْمَاءُ بِقُوَّةٍ، فَجَعَلَ يَجْرِىْ فِىْ تَيَّارِهِ

ختم سو، اوبو په زور سره کشوی، نو د اوبو له جريان سره روان وو

لَا يَمْلِكُ مِنْ اَمْرِهِ شَيْئًا، وَاَيْقَنَ بِالشَّرِّ. فَجَعَلَ

پر هيڅ شي يې کنټرول نه درلودی، باوري سو چې په سخت حالت کې دئ، نو چيغې

يَصْرِخُ وَيَسْتَغِيْثُ، وَيَقُوْلُ: يَا رَجُلًا! خُذْ بِيَدِىْ،

او فرياد يې شروع کړ، او ويل يې: اې سړيه! زما لاس ونيسه

وَجَعَلَ يَذْكُرُ وَيَقُوْلُ: اَللّٰهُ! اَللّٰهُ! كَاَنَّهُ فِىْ اٰخِرِ

او همدا سي يې ذکر شروق کړ او ويې يل: الله! الله! لکه دی چې د دنيا

عَهْدِهِ بِالدُّنْيَا، وَجَعَلَ يَغْطِسُ وَيَطْفُوْ. فَسُقِطَ

په آخره زمانه کې وي، او همدا سي ډوبېده او پورته کېده، زموږ لاسونه

فِىْ اَيْدِيْنَا، وَخِفْنَا عَلَيْهِ الْغَرَقَ، وَكَانَ اَحَدُ اَقَارِبِنَا

ولوېدل (مړه سول) او موږ وبېرېدو چې غرق به سي، زموږ له خپلوانو څخه يو سړی وو

مِمَّنْ يُّحْسِنُوْنَ السِّبَاحَةَ يَغْتَسِلُ فِى النَّهْرِ فَقُلْنَا:

چې ډېره ښه آب بازي يې زده وه، هغه په ويالـه کې لمبېدی، نو موږ ورته وويل:

قَالَ: فَجِئْتُهُ فَزِعًا، فَقُلْتُ: يَارَسُوْلَ اللهِ! بِاَبِيْ اَنْتَ
هغه وويل: نو زه په ډېره بېره هغه ﷺ ته ورغلم او ورته ومي ويل: اې د الله رسوله! زما
وَاُمِّيْ رَدَدْتَ عَشَاءَكَ، وَلَمْ اَرَ فِيْهِ مَوْضِعَ يَـدِكَ،
مور او پلار دي ترتا قربان سي. تا ډوډۍ بيرته راوليږله او ما په هغه کي ستا د لاس نښه ونه ليدله
وَكُنْتَ اِذَا رَدَدْتَّـهُ عَلَيْنَا تَـيَمَّمْتُ اَنَا وَاُمُّ اَيُّوْبَ
او تا چي به کله هغه بيرته رالېږله، نو ما او د ايوب مور به په هغه کي
مَوْضِعَ يَـدِكَ، نَبْتَغِيْ بِذٰلِكَ الْبَرَكَةَ. قَالَ: اِنِّـيْ
ستا د لاس نښه لټوله، او په دې سره مو ر تبرک حاصلاوه. هغه ﷺ وويل: ما
وَجَدْتُ فِيْهِ رِيْحَ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ، وَاَنَا رَجُلٌ اُنَاجِيْ،
په هغه کي د دغه وني بوی وموندی، او زه داسي سړی يم چي له الله ﷻ سره مناجات کوم
فَاَمَّا اَنْتُمْ فَكُلُوْهُ. قَالَ: فَاَكَلْنَاهُ وَلَمْ نَصْنَعْ لَـهُ
مګر تاسو چي ياست، نو تاسو هغه وخورئ. ابو ايوب وويل: موږ هغه وخوړله، او تر هغه
تِـلْكَ الشَّجَـرَةَ بَـعْدُ. (سِيْرَةُ ابْنِ هِشَامٍ)
وروسته مو بيا هيڅکله د غه بوټی نه دی استعمال کړی.

الاسئلة (١)

(١) اين نزل رسول الله ﷺ فى بيت ابى ايوب؟

(٢) انكسر جب الماء، فماذا فعل ابو ايوب وزوجته؟

(٣) لِمَ ردَّ العَشاء؟

(٤) كان ابو ايوب وزوجته يتتبعان موضع يده فى قصعة الطعام. لماذا؟

(٥) لم احب الصحابة رسول الله ﷺ؟

اجعل المفعول به فى الجمل التالية نائب فاعل وغير صيغة الفعل وفقا لذلك:

كسر الرجل الجرّة.

نسجت المراة الغزل.

صنعت ام ايوب العشاء.

(١) محترم استاذ دې له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کې ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(٢٩)

اَلْاِمَامُ مَالِكُ بْنُ اَنَسٍ رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالٰى

امام مالک بن انس رحمة الله تعالى عليه

وُلِدَ الْاِمَامُ مَالِكُ بْنُ اَنَسٍ سَنَةَ ثَلَاثٍ وَّتِسْعِيْنَ
امام مالک بن انس په (٩٣) هجري کال په مدينه منوره کي
فِي الْمَدِيْنَةِ الْمُنَوَّرَةِ، وَسَمِعَ الزُّهْرِيَّ وَنَافِعًا مَوْلَى
زېږيدلى دئ. هغه د امام زهري او نافع (د عبدالله بن عمر ازاد سوى مريى) څخه حديثونه
ابْنِ عُمَرَ، وَاَخَذَ الْعِلْمَ عَنْ رَبِيْعَةَ الرَّاْيِ، وَقَالَ:
اوريدلي او له ربيعة الرأي څخه يې علم ترلاسه کړى دئ. او امام مالک وويل:
قَلَّ رَجُلٌ كُنْتُ اَتَعَلَّمُ مِنْهُ مَا مَاتَ حَتّٰى يَجِيْئَنِيْ
له چا څخه چي ما علم حاصل کړى دئ، په هغو کي داسي کم دي تر هغو نه دي مړه سوي
وَيَسْتَفْتِيَنِيْ. وَكَانَ لَهُ شَاْنٌ عَظِيْمٌ فِي الْعِلْمِ
چي ما ته راغلي وي او فتوى يې را څخه غوښتي وي. هغه په علم کي ستر شان درلودى
يَرْحَلُ النَّاسُ اِلَيْهِ مِنَ الْاٰفَاقِ، وَيَزْدَحِمُوْنَ
خلکو به له ليرو ليرو ځايونو څخه هغه سفرونه کول او د هغه پر دروازه باندي
عَلٰى بَابِهِ لِاَخْذِ الْحَدِيْثِ وَالْفِقْهِ كَازْدِحَامِهِمْ
به د حديثو او فقهي حاصلولو لپاره داسي ګڼه ګوڼه وه لکه څنګه چي د بادشاه

عَلٰى بَابِ السُّلْطَانِ، وَكَانَ النَّاسُ يَفْتَخِرُوْنَ

پر دروازه ګڼه ګوڼه وي. او له هغه په روايت کولو به خلکو

بِالرِّوَايَةِ عَنْهُ، وَكَانَ ذٰلِكَ شَرَفًا كَبِيْرًا فِىْ عَصْرِهِ

فخر کاوه. او د هغه په زمانه کي ستر شرافت وو.

فَاِذَا قَالَ اَحَدٌ: حَدَّثَنِىْ مَالِكٌ، رَفَعَ النَّاسُ اِلَيْهِ

کله چي به چا وويل: ما ته مالک حديث وو ايه، خلګو به د هغه طرفه خپلي ستر ګي

اَبْصَارَهُمْ. وَكَانَ اِلَيْهِ الْمُنْتَهٰى فِى الْفِقْهِ وَالْفَتْوٰى

ورپورته کړې. امام مالک د فقهې او فتوا وروستی مرجع وه.

قَالَ ابْنُ وَهَبٍ: سَمِعْتُ مُنَادِيًا يُّنَادِىْ بِالْمَدِيْنَةِ:

ابن وهب وايي: ما په مدينه کي له اعلان کوونکي شخه واوريده چي اعلان يې کاوه:

اَلَا لَا يُفْتِى النَّاسَ اِلَّا مَالِكُ بْنُ اَنَسٍ وَابْنُ اَبِىْ

خبر اوسئ! خلګو ته به فتوی نه ورکوي، پرته له مالک بن انس او ابن ابي

ذِئْبٍ، وَمِنَ الْاَمْثَالِ السَّائِرَةِ: لَا يُفْتِىْ وَمَالِكٌ

ذئب شخه. او يو له مشهورو متلونو شخه وو: چا ته دي فتوی نه ورکول کيږي چي مالک

فِى الْمَدِيْنَةِ. وَكَانَ كَثِيْرَ الْاَدَبِ، شَدِيْدَ التَّعْظِيْمِ

په مدينه وي. هغه ډېر ادبناک وو، د رسول الله ﷺ د احاديثو يې

لِحَدِيْثِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ، اِذَا اَرَادَ اَنْ يُّحَدِّثَ

سخت احترام درلودی. کله چي به يې وغوښتل چي حديث بيان کړي،

اغْتَسَلَ وَتَطَيَّبَ وَلَبِسَ ثِيَابًا جُدُدًا، وَتَعَمَّمَ
غسل به يې وکړ، عطر به يې ووهل، او نوي جامې به يې واغوستې او لنګوټه به يې وتړله

وَقَعَدَ بِخُشُوْعٍ وَّخُضُوْعٍ وَّوَقَارٍ، وَتَبَخَّرَ بِالْعُوْدِ
او په خشوع، عاجزۍ او درناوي به کښېنستی، او عود به يې ودودوله

مِنْ اَوَّلِهٖ فَلَا يَزَالُ يَتَبَخَّرُ اِلٰى فَرَاغِهٖ، وَقِيْلَ
له پيله څخه به عود همداسې دودېدله د ده تر فراغت پورې. هغه ته يو چا

لَهُ فِيْ ذٰلِكَ، فَقَالَ: اُحِبُّ اَنْ اُعَظِّمَ حَدِيْثَ
د دې په اړه ووېل. نو ده ووېل: زه خوښ ګڼم چې د رسول الله ﷺ د حديث

رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ، وَلَا اُحَدِّثَ بِهٖ اِلَّا مُتَمَكِّنًا
زيات احترام وکړم. او زه هغه نه بيانوم مګر دا چې پر پوره پاکۍ

عَلٰى طَهَارَةٍ، وَكَانَ يَكْرَهُ اَنْ يُّحَدِّثَ عَلَى الطَّرِيْقِ،
باندې يم. هغه په لاره کې خبرې کول ښه نه ګڼل

اَوْ مُسْتَعْجِلًا وَيَقُوْلُ: اُحِبُّ اَنْ اَتَفَهَّمَ مَا اُحَدِّثُ
يا په تلوارې سره، او ويل به يې: زه دا خوښوم چې په هغه حديث پوره پوه سم

بِهٖ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ. قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ الْمُبَارَكِ:
چې له رسول الله ﷺ څخه يې روايت کوم. عبد الله بن مبارک وايي:

كُنْتُ عِنْدَ مَالِكٍ، وَّهُوَ يُحَدِّثُنَا، فَلَدَغَتْهُ عَقْرَبٌ
زه له امام مالک سره وم، چې يې موږ ته حديث بيانوه، نو يوه لړم هغه (۱۶)

سِتَّ عَشَرَةَ مَرَّةً، وَمَالِكٌ يَتَغَيَّرُ لَوْنُهُ، وَلَا يَقْطَعُ

ځله وچيچي. د مالک رنګ تغير وکړ خو حديث يې

الْحَدِيْثَ . فَلَمَّا تَفَرَّقَ النَّاسُ قَالَ: اِنَّمَا صَبَرْتُ

ونه دروی. کله چي خلګ سره ولاړل، ويې ويل: ما يوازي د حديث

اِجْلَالًا لِلْحَدِيْثِ. وَكَانَ لَا يَرْكَبُ فِي الْمَدِيْنَةِ

د تعظيم لپاره صبر وکړ. هغه به په مدينه کي پر سپرلۍ نه سپرېدی

عَلٰى ضُعْفِهِ وَكِبَرِ سِنِّهِ، وَيَقُوْلُ: لَا اَرْكَبُ فِيْ مَدِيْنَةٍ

سره له دې چي کمزوری او عمر يې زيات وو. هغه به ويل: زه په مدينه کي نه سپرېږم

فِيْهَا جُثَّةُ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ مَدْفُوْنَةٌ. وَكَانَ مَجْلِسُهُ

په دې کي د رسول الله صلی الله عليه وسلم جسد پټ دئ. د هغه مجلس به

مَجْلِسَ وَقَارٍ وَحِلْمٍ، وَكَانَ رَجُلًا مُّهِيْبًا نَبِيْلًا،

د زغم او دناوي مجلس وو. هغه يو دروند او معظم سړی وو

لَيْسَ فِيْ مَجْلِسِهِ شَيْءٌ مِنَ الْمِرَاءِ وَاللَّغَطِ،

د هغه په مجلس کي به نه شخړه وه او نه بې ګټي خبري

وَلَا رَفْعُ صَوْتٍ، وَكَانَ الْغُرَبَاءُ يَسْئَلُوْنَهُ عَنِ الْحَدِيْثِ

او نه به لوړ آواز وو، مسافرو به له هغه څخه د حديث پوښتنه کوله

فَلَا يُجِيْبُ اِلَّا فِي الْحَدِيْثِ بَعْدَ الْحَدِيْثِ. سَئَلَ

نو هغه به په يوه حديث پسي د بل حديث جواب ورکاوه. هارون الرشيد

هَارُوْنُ الرَّشِيْدُ مَالِكًا اَنْ يَّاْتِيَ فَاَبٰى، فَاَتٰى هَارُوْنُ

له امام مالک څخه وغوښتل چې راسي، خو هغه انکار وکړ، نو هارون الرشيد پخپله امام

مَالِكًا، وَهُوَ فِيْ مَنْزِلِهِ، وَمَعَهُ بَنُوْهُ، وَسَئَلَ اَنْ

مالک ته ورغلی، او هغه په خپل کور کې وو، له هغه سره يې زامن وه او غوښتل يې چې

يَّقْرَاَ عَلَيْهِمْ فَقَالَ: مَا قَرَاْتُ عَلٰى اَحَدٍ مُّنْذُ زَمَانٍ

حديث ورته ولولي، نو هغه وويل: ما له ډېره وخته چا ته حديث نه دي لوستي

وَاِنَّمَا يُقْرَاُ عَلَيَّ، فَقَالَ هَارُوْنُ: اَخْرِجِ النَّاسَ

بلکې ما ته يې خلک لولي، نو هارون ورته وويل: خلک وباسه

حَتّٰى اَقْرَاَ اَنَا عَلَيْكَ فَقَالَ: اِذَا مُنِعَ الْعَامُّ لِبَعْضِ

ترڅو زه تا ته حديث ولولم. نو هغه وويل: که عام خلک د خاصو لپاره

الْخَاصِّ لَمْ يَنْتَفِعِ الْخَاصُّ. وَدَخَلَ مَالِكٌ عَلٰى اَمِيْرِ

منع کيږي، نو خاص هم ترې ګټه نه سي اخيستلای. او امام مالک امير المؤمنين

الْمُؤْمِنِيْنَ مَنْصُوْرٍ، وَهُوَ عَلٰى فِرَاشِهِ، اِذْ جَاءَ صَبِيٌّ

منصور ته ورغلی، هغه پر بستر ناست وو، کله چې يو ماشوم راغلی

يَّخْرُجُ ثُمَّ يَرْجِعُ، فَقَالَ لِيْ: اَتَدْرِيْ مَنْ هٰذَا؟

ووتی وروسته بيرته راوګرځېدی، نو منصور ما ته وويل: ايا ته پوهېږې چې دا څوک دئ؟

فَقُلْتُ: لَا! قَالَ: ابْنِيْ، وَاِنَّمَا يَفْزَعُ مِنْ هَيْبَتِكَ.

ما ورته و،يل: نه، ويې ويل: زما زوی دئ، او هغه ستا له دبدبې څخه سخت بېرېږي.

وَفِيْ سَنَةِ سَبْعٍ وَّاَرْبَعِيْنَ وَمِائَةٍ ضُرِبَ مَالِكٌ سَبْعِيْنَ
په (۱۴۷) هـ كال امام مالک او يا دُرې (چلاخي) ووهل
سَوْطًا لِاَجْلِ فَتْوَى لَّمْ تُوَافِقْ غَرَضَ السُّلْطَانِ،
سو، د يوې فتوا له امله چې د سلطان له خوښې سره موافقه نه وه
فَغَضِبَ وَدَعَا بِهِ، وَجَرَّدَهُ وَضَرَبَهُ بِالسِّيَاطِ،
نو سلطان په غوسه سو او دی يې راوغوښت، بدن يې ورلوڅ کړ او په دُرطيې وواهه
وَمُدَّتْ يَدُهُ حَتَّى انْخَلَعَتْ كَتِفُهُ. فَلَمْ يَزَلْ
د هغه لاس يې دومره کش کړ چې اوږه يې له بنده وختله، خو
بَعْدَ ذٰلِكَ الضَّرْبِ فِيْ عُلُوٍّ وَّرِفْعَةٍ، وَكَاَنَّمَا كَانَتْ
له دې وهلو وروسته، د امام مالک مقام نور هم لوړ سو، داسې سول لکه
تِلْكَ السِّيَاطُ حَلْيًا حُلِّيَ بِهِ. وَكِتَابُهُ الْمُوَطَّأُ
دغه چلاخه چې يوه ګېڼه وي او هغه پرې سينګار سوی وي، او د هغه کتاب (مؤطا)
مِنْ اَشْهَرِ كُتُبِ الْحَدِيْثِ، وَمِنَ الْكُتُبِ الْمَقْبُوْلَةِ
د احاديثو له مشهورو کتابونو څخه دئ، او په اسلام کې له منل سوو کتابونو
فِي الْاِسْلَامِ، رَزَقَكَ اللّٰهُ قِرَاءَتَهُ، وَالْاِنْتِفَاعَ بِهِ،
څخه دئ، الله تعالی دې تا ته د هغه لوستل او په هغه سره ګټه اخيستل در نصيب کړي،
وَسَيَكُوْنُ ذٰلِكَ (اِنْ شَآءَ اللّٰهُ) فِيْ بِضْعِ سِنِيْنَ
او دا به، که الله تعالی وغواړي، د څو کلونو وروسته وسي،

اِذَا تَقَدَّمْتَ فِي الْعِلْمِ. تُوُفِّيَ مَالِكٌ سَنَةَ تِسْعٍ
کله چي ته په علم کي پرمختګ وکړې، امام مالک د هجرت
وَسَبْعِيْنَ وَمِائَةٍ لِّلْهِجْرَةِ.
په (۱۷۹) کال کي وفات سو.

الاسئلة [1]

(۱) متى ولد مالك بن انس؟ واين؟

(۲) كان لمالك بن انس شأن عظيم في العلم. اشرح ذلك.

(۳) قيل: لا يفتى ومالك في المدينة. علام يدلُّ ذلك؟

(۴) عدد بعضًا من صفات مالك بن انس؟

(۵) ما اسم الكتاب الذى عرف لمالك بن انس؟

استخرج مما يلي الاسماء الممنوعة من الصرف:

سمعت من شعراء كبارٍ قصائد جميلة.

وضع سعيدٌ ملابسه في حقائب كبيرة.

سلم خالد على يوسف.

---

(۱) محترم استاذ دي له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کي ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ۱۲ ن

(۳۰)

اَلْقَاطِرَةُ [۱]

د اورګاډي ماشين (لوكوموټيف)

لومړۍ برخه

ذَهَبَ رَشِيْدٌ مَعَ اَبِيْهِ سَعِيْدٍ اِلَى الْمَحَطَّةِ يَسْتَقْبِلُ
رشيد له خپل پلار سعيد سره تمځاى ته ولاړى، خپل ورور محمود ته يې
اَخَاهُ مَحْمُوْدًا، وَكَانَ قَادِمًا مِّنْ دِيُوْبَنْدِ فِيْ مُسَامَحَةِ
استقبال وايه، او محمود له ديوبند څخه د لوى اختر په رخصتيو كي
عِيْدِ الْاَضْحٰى. وَكَانَ الْقِطَارُ مُتَاَخِّرًا، فَاَخَذَ سَعِيْدٌ
را روان وو، اورګاډي ځنډېدله، نو سعيد په تن ځاى كي
يَّتَجَوَّلُ عَلَى الْمَحَطَّةِ يُحَدِّثُ رَشِيْدًا عَنِ الْقِطَارِ
ګرځېدل شروع كړه، رشيد ته يې د اورګاډي او د تم ځاى د سيستم
وَنِظَامِ الْمَحَطَّةِ، وَانْتَقَلَ مَعَهُ اِلٰى رَصِيْفٍ اٰخَرَ.
په اړخ خبري كولې، او له هغه سره دوهم سرك ته ولاړى
وَكَانَ قِطَارٌ وَاقِفًا هُنَا تَصْفِرُ قَاطِرَتُهُ، وَيَخْرُجُ
او هلته اورګاډي ولاړه وه چي انجين يې شپېلى كاوه، او له هغه څخه

مِنْهَا بُخَارٌ كَثِيْفٌ مُتَصَاعِدٌ. قَالَ رَشِيْدٌ: حَدِّثْنِي
پورته کېدونکی چتڼل دود پورته کېدی، رشید وویل: اې پلاره!
الْيَوْمَ يَا اَبِيْ عَنِ الْقَاطِرَةِ كَيْفَ تَجُرُّ الْقِطَارَ،
ما ته نن د اورګاډي د ماشين په اړه خبر راکړه چي څنګه اورګاډي کشوي
وَكَيْفَ تُسْرِعُ فِي السَّيْرِ؟ قَالَ سَعِيْدٌ: لَقَدْ سَئَلْتَ
او څه ډول د ومره چټک تګ کوي؟ سعيد وويل: دا له يوه باخبره کس
بِهِ خَبِيْرًا فَقَدْ كُنْتُ مُوَظَّفًا فِي الْقِطَارِ، وَسَاُحَدِّثُكَ
څخه پوښتنه وکړه، زه مخکي په اورګاډي کي کارمند وم. او زه ژر تا ته
عَنْهَا فِيْ تَفْصِيْلٍ، فَقُمْ بِجَانِبِيْ اَمَامَ هٰذِهِ الْقَاطِرَةِ
په تفصيل سره خبر درکړم. نو راسه زما په څنګ کي دې ماشين ته ودرېږه
وَلَاحِظْهَا. اُنْظُرْ يَا رَشِيْدُ! اِلَى الْقَاطِرَةِ تَرَهَا
او ورته متوجې سه! وګوره اې رشيده! د اورګاډي ماشين ته، ته يې وينې
صُنِعَتْ مِنَ الْحَدِيْدِ، وَلَهَا سِتُّ عَجَلَاتٍ تَسِيْرُ
چي دا له وسپني څخه جوړ سوی دئ، دا شپږ ټايرونه لري چي پر هغه باندي
عَلَيْهَا وَهِيَ قَوِيَّةٌ جِدًّا كَاَنَّهَا عِفْرِيْتٌ مِنَ الْجِنِّ،
ځي، او دا ډېر قوي دي لکه دا چي د پېري طاقت وي.
تَجُرُّ قِطَارَ الْبِضَاعَةِ، وَهُوَ طَوِيْلٌ وَثَقِيْلٌ جِدًّا،
دا مال وړونکي اورګاډي کشوي چي هغه ډېره اوږده او درنه وي.

وَتَجُرُّ قِطَارَ الرُّكَّابِ وَفِيْهِ النَّاسُ وَاَثْقَالُهُمْ،
او د مسافرو اورګاډي کشي، چي هغه کي خلک او د هغوی بارونه وي،
وَتَجُرُّ الْقِطَارَ السَّبَّاقَ، وَهُوَ اَسْرَعُ الْقُطُرِ يَقْطَعُ
او تېزه اورګاډي کشوي، چي هغه تر ټولو تېزه وي چي په يوه ساعت کي
خَمْسَةً وَّاَرْبَعِيْنَ مِيْلًا فِي السَّاعَةِ. وَالْقِطَارُ السَّرِيْعُ
پنځه څلوېښت (۴۵) ميله مزل کوي. او چټکه اورګاډي
يَقْطَعُ نَحْوَ اَرْبَعِيْنَ مِيْلًا فِي السَّاعَةِ، وَالْقِطَارُ
په يوه ساعت کي شاوخوا څلوېښت (۴۰) ميله مزل کوي. او عادي
الْوَقَّافُ يَقْطَعُ نَحْوَ ثَلَاثِيْنَ مِيْلًا فِي السَّاعَةِ، تَجُرُّ
اورګاډي په ساعت کي شاوخوا دېرش (۳۰) ميله مزل کوي. دا اورګاډي
الْقِطَارَ مِنْ اَقْصَى الْهِنْدِ اِلٰى اَقْصَاهَا، مَثَلًا مِّنْ بَمْبَئ
د هندوستان له يوه سره تر بله سره کشوي. د مثال په ډول له ممبيي څخه
اِلٰى بِشَاوَرَ، وَمِنْ دِهْلِيْ اِلٰى مَدْرَاسَ. وَقُوَّةُ هٰذِهِ
تر پېښور پوري، او له ډهلي څخه تر مدراس پوري. او د دې انجن طاقت
الْقَاطِرَةِ اِنَّمَا هِيَ الْبُخَارُ الْحَقِيْرُ الَّذِيْ لَا تَعْبَاَ بِهٖ
يوازي همدا عادي بخار دئ چي نه څوک پرې سترې کيږي
وَلَا تُحَاسِبُ لَهٗ حِسَابًا، وَقَدِ اهْتَدٰى (استيفنسن)
او نه څوک ورته حساب کوي. خو استيفنسن د اورګاډي

مُخْتَرِعُ الْقِطَارِ اِلٰى قُوَّةِ هٰذَا الْبُخَارِ، وَاهْتَدٰى

اختراع کوونکي د بخار دغه قوت وپېژنده، او ورته معلومه سوه

اِلٰى تَسْخِيْرِهٖ وَالْاِنْتِفَاعِ بِهٖ فِي الْاَغْرَاضِ، وَعَلِمَ

چي له دې څخه کار واخلي او د مختلفو موخو لپاره ترې ګټه پورته کړي او هغه په خپل

بِعَقْلِهٖ وَدِرَاسَتِهٖ اَنَّهٗ بِقُوَّتِهٖ يَحْمِلُ الْاَثْقَالَ،

عقل او خپل ځيراکتسره د دې ماشين قوت معلوم کړ چي درانه بارونه وړلای سي

وَيَنْقُلُ الْجِبَالَ وَيَأْتِيْ بِالْعَجَائِبِ. وَذٰلِكَ هُوَ الْفَرْقُ

او غرونه انتقالولای سي او دا په عجائباتو کي راځي. او همدغه هغه فرق دئ

بَيْنَ الْجَاهِلِ وَالْعَالِمِ، وَبَيْنَ الْعَامِيِّ وَالْمُكْتَشِفِ،

د جاهل او عالم ترمنځ او د عامي او کشفوونکي ترمنځ

يَرَى الْاَوَّلُ كُلَّ شَيْءٍ فَلَا يَرْفَعُ بِهٖ رَاْسًا،

لومړی کس دا هر څهويني خو د هغه لپاره خپل سر نه پورته کوي

وَلَا يُلْقِيْ عَلَيْهِ بَالًا، وَيَرَاهُ الثَّانِيْ فَيَعْرِفُ قِيْمَتَهٗ

او هغه په هيڅ باک نه راوړي، خو دوهم کس هغه ويني نو د هغه قيمت پېژني

وَيَجْتَهِدُ فِيْهِ، حَتّٰى يُسَخِّرَهٗ لِغَرَضِهٖ.

او په هغه کي کوښښ کوي تر دې چي هغه د خپلي موخي لپاره وکاروي.

الاسئلة (١)

(١) لم ذهب رشيد مع ابيه الى المحطة؟

(٢) من اى شيء صنعت القاطرة.

(٣) ما صفة قطار البضاعة؟

(٤) من اين تستمد القاطرة قوتها؟

(٥) ما اسم مخترع القطار؟

تن الكلمات التالية:

الجاهل، قطار، متأخر، خبير، سابق

---

(١) محترم استاذ دي له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کې ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(٣١)

اَلْقَاطِرَةُ [٢]

د اورګاډي انجن (دوهمه برخه)

اُنْظُرْ يَا رَشِيْدُ اِلٰى هٰذَا الْمَوْقِدِ فِي الْقَاطِرَةِ، يُلْقِيْ
اې رشيده! ته په دې انجن کې دې بټۍ ته وګوره، په دې کې
فِيْهِ الرَّجُلُ الْفَحْمَ الْحَجَرِيَّ، وَفَوْقَ هٰذَا الْمَوْقِدِ
کله د ډبرې سکاره اچوي او پر دې بټۍ سربېره د اوبو
حَوْضٌ مِنْ مَّآءٍ مَّتِيْنٌ جِدًّا وَفِيْهِ اَنَابِيْبُ عَدِيْدَةٌ.
يو ډېر کلک حوض دئ او په هغه کې ګڼ شمېر پايپونه دي.
يَسْخَنُ هٰذَا الْمَاءُ بِالنَّارِ وَيَتَحَوَّلُ بُخَارًا،
دغه اوبه په اور باندې ايشي او په بخار بدلېږي
وَيَنْتَقِلُ هٰذَا الْبُخَارُ اِلَى الْاَنَابِيْبِ. وَتَعَالَ
او دغه بخار و پايپونو ته انتقالېږي، او ته راسه
مَعِيَ نَدْخُلْ فِي الْقَاطِرَةِ، فَاِنَّ سَائِقَهَا مِنْ اَصْدِقَائِيْ،
زما سره چې انجن ته دننه ورسو. د دې چلوونکی زما له ملګرو څخه دئ
وَهُنَا تَفْهَمُ تَرْكِيْبَ الْقَاطِرَةِ جَيِّدًا. اُنْظُرْ
او هلته به ته د انجن په جوړښت په ښه ډول پوه سې. ته وګوره

اِلَى الْاَنَابِيْبِ، اَنَّهَا مُتَّصِلَةٌ بِهٰذِهِ الْاٰلَاتِ الدَّقِيْقَةِ
دي پايپونو ته، دا له دغه نريو (باريكو) آلو سره وصل دي
الَّتِيْ تُدِيْرُ عَجَلَاتِ الْقَاطِرَةِ. فَاِذَا اجْتَمَعَ هٰذَا
هغه چي د انجين ټايرونو ته حركت وركوي، كله چي دغه په پايپونو كي
الْبُخَارُ فِي الْاَنَابِيْبِ دَفَعَ بِقُوَّتِهِ الْاٰلَاتِ، فَاَدَارَهَا
سره را يو ځاسى سي په خپل زور سره آلې پوري وهي، نو هغه څرخي
وَبِدَوَرَانِهَا تَدُوْرُ الْعَجَلَاتُ، وَتَسِيْرُ الْقَاطِرَةُ.
او په خپل څرخېدو سره ټايرونه ګرځوي، او انجن چلوي
وَهٰذَا هُوَ الْوَقَّادُ الَّذِيْ يُرَاقِبُ النَّارَ وَالْمَاءَ،
دا كس د بټې ساتونكى دى، چي تل د اور او اوبو څارنه كوي،
وَيُشْرِفُ عَلَيْهِمَا، وَهٰذَا صَدِيْقُنَا السَّائِقُ، وَاِذَا
او پر هغو پام كوي، او دا كس زموږ ملګرى چلوونكى دئ. او كله چي
كَانَتِ الْقَاطِرَةُ تَجُرُّ الْقِطَارَ، وَتُوْصِلُ الرُّكَّابَ
انجن اورګاډي كشوي او سپاريان له يوه ښاره ځخه
مِنْ دِيَارٍ اِلٰى دِيَارٍ، فَصَاحِبُنَا يَسُوْقُ الْقَاطِرَةَ. فَهُوَ
وبل ښار ته رسوي، نو زموږ ملګرى انجن چلوي، نو هغه
مِفْتَاحُ الْقِطَارِ، وَاِلَيْهِ يَرْجِعُ الْفَضْلُ فِيْ سَيْرِ
د اورګاډي كيلي ده، او د اورګاډي د تګ په وخت كي هغه ته

الْقِطَارِ وَهُوَ يَسْهَرُ عَلٰى عَمَلِهِ، وَيَقُوْمُ بِوَاجِبِهِ
اعتبار ورکول کيږي او هغه د خپل کار څارنه کوي، او خپه دنده په پوره هڅي
بِأَمَانَةٍ وَّجِدٍّ، وَكَذٰلِكَ أَمِيْنُ الْقِطَارِ يَسْتَحِقُّ
او امانتدارۍ سره ترسره کوي. او همدا رنګه د اورګاډي کنټرولوونکی هم د سپاريانو
الشُّكْرَ مِنَ الرُّكَّابِ، فَإِنَّهُ يُلَاحِظُ الطَّرِيْقَ وَيَلْحَظُ
له خوا د مننې کولو وړ دئ، ځکه چي هغه پر لاري پام کوي او د اورګاډي
وُقُوْفَ الْقِطَارِ وَسَيْرَهُ، وَالسَّائِقُ وَالْقَاطِرَةُ طَوْعُ
پر دريدلو او حرکت کولو باندي پام کوي، او چلوونکی او انجين د هغه د اشارې
إِشَارَتِهِ، فَإِذَا هَزَّ الْبَيْرَقَ الْأَحْمَرَ وَقَفَ الْقِطَارُ، وَإِذَا
تابع دي. نو کله چي هغه سور بيرغ پورته کړي، اورګاډي دريږي او کله چي
هَزَّ الْبَيْرَقَ الْأَخْضَرَ تَحَرَّكَ الْقِطَارُ. وَانْظُرْ
دی شين بيرغ پورته کړي، اورګاډي حرکت کوي. او ته وګوره
إِلٰى هٰذِهِ الْآلَةِ الَّتِيْ فِيْ يَدِ السَّائِقِ هٰذِهِ ... فَإِذَا
و دې آلې ته هغه چي د چلوونکي په لاس کي ده دغه ... کله چي
رَفَعَهَا السَّائِقُ إِلٰى فَوْقِ، انْدَفَعَ الْبُخَارُ وَسَارَتِ
چلوونکی دا پورته کړي نو بخار خوشي کيږي او اورګاډي
الْقَاطِرَةُ وَإِذَا ضَغَطَ عَلَيْهَا سَكَنَ الْبُخَارُ وَهَدَأَتِ
روانيږي او کله چي هغه ته فشار ورکړي، بخار دريږي او اورګاډي

الْقَاطِرَةُ، وَحِيْنَئِذٍ يَّضْغَطُ السَّائِقُ عَلٰى اٰلَةٍ اُخْرٰى
كراريږي، او په هغه وخت چي چلوونكى پر دغه بلي (دوهمي) آلې فشار راوړي
وَهِيَ هٰذِهِ وَتُسَمَّى الْمِصَدَّ، وَتَقِفُ الْقَاطِرَةُ
چي هغه دغه ده او مصد نوميږي، نو اوركاډي په هغه كړي كي
مِنْ سَاعَتِهَا، وَالْعَرَبَاتُ كُلُّهَا مُرَكَّبَةٌ بِالْقَاطِرَةِ
دريږي، او ټايرونه ټول له انجن سره تړل سوي دي
تَسِيْرُ بِسَيْرِهَا، وَتَقِفُ بِوُقُوْفِهَا. وَهٰذَا هُوَ الْخَطُّ
د هغه په حركت روانيږي او د هغه په دريدو سره دريږي، او دا هغه وسپنيزي
الْحَدِيْدِيُّ الَّذِىْ يَسِيْرُ عَلَيْهِ الْقِطَارُ، وَلَوْلَا هُوَ
ليكي دي چي پر هغه باندي اوركاډي چليږي، او كه چيري دا نه واى
لَغَاصَ الْقِطَارُ فِى الْاَرْضِ، لِاَنَّ التُّرْبَةَ لَا تَحْمِلُ
نو اوركاډي به په مځكي ننوتلي ولاى، ځكه چي خاوره د اوركاډي درونډوالى
ثِقْلَ الْقِطَارِ. هٰذِهِ هِيَ الْقَاطِرَةُ الَّتِىْ تَجُرُّ الْقِطَارَ،
نه سي زغملاى، دا هغه انجن دئ كوم چي اوركاډي كشوي
وَهٰذَا هُوَ الْقِطَارُ الَّذِىْ يُوْصِلُ الرُّكَّابَ مِنْ دِيَارٍ
او دا هغه اوركاډي ده كومه چي سپاريان له يوه ښاره
اِلٰى دِيَارٍ وَيَحْمِلُ اَثْقَالَ النَّاسِ اِلٰى بَلَدٍ لَمْ يَكُوْنُوْا
وبل ښار ته رسوي، او د خلكو درانه بالونه وښار ته وړي، چي نه سي كېداى

بَالِغِيْهِ اِلَّا بِشِقِّ الْاَنْفُسِ. اُنْظُرْ يَا رَشِيْدُ! كَيْفَ

د هغو رسېدل مګر د نفس په ختلو سره. وګوره اې رشيده! چې څه ډول

اَلْهَمَ اللّٰهُ الْاِنْسَانَ الْحِكْمَةَ وَالصَّنَاعَةَ، وَرَزَقَهُ

الله تعالى انسان ته حکمت او صنعت الهام کړى دئ او هغه ته يې عقل

الْعَقْلَ الَّذِىْ يُسَخِّرُ بِهِ الْحَدِيْدَ وَالْبُخَارَ،

ورکړى دئ، هغه عقل چې په هغه سره وسپنه او بخار کنټرولوي

اَفَلَا يَحِقُّ لَكَ اَنْ تَقُوْلَ اِذَا رَكِبْتَ الْقِطَارَ:

نو ستا لپاره دا مناسبه (حقه) نه چې کله ته په اورګاډي کې سپور سې او دا سي ووايې:

﴿سُبْحٰنَ الَّذِىْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُ

پاکي ده هغه ذات لره چې زموږ لپاره يې دا (سپرلۍ) مسخره کړې ده، حال دا چې موږ

مُقْرِنِيْنَ ۝ وَاِنَّا اِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ﴾.

هغه نه سواى قابو کولاى. او موږ تول به بالاخره خپل رب ته ورګرځو.

الاسئلة (١)

(١) ماذا يُلقى فى الموقد؟

(٢) كيف تدور عجلات القطار.

(٣) ما وظيفة الوقاد؟

(٤) ما تعريف المصدّ؟

(٥) عدد ثلاث فوائد للقطر؟

اجمع الكلمات التالية:

السائق، البخار، انبوب، آلة، النار

---

(١) محترم استاذ دې له شاگردانو څخه د دې سوالونو تر څنگه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاگردانو کې ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(۳۲)

جِسْمُ النَّبَاتِ [١]

د نبات بدن (لومړۍ برخه)

كَانَ اَمَامَ بَيْتِ عَبَّاسٍ حَدِيْقَةٌ فِيْهَا اَنْوَاعُ الشَّجَرِ
د عباس د کور مخې ته يو بڼ (باغ) وو چې پکښې ډول ډول ونې او
وَالنَّبَاتِ، قَالَ لَهُ اَبُوْهُ عُمَرُ مَرَّةً فِيْ يَوْمِ عُطْلَةٍ:
بوټي وو. د هغه پلار عمر يوه ورځ د رخصتۍ په ورځ هغه ته وويل:
هَلْ رَاَيْتَ يَا عَبَّاسُ! حَدِيْقَةَ الدَّارِ؟ قَالَ عَبَّاسٌ:
"اې عباسه! آيا د کور بڼ دې ليدلی دئ؟" عباس وويل:
كَيْفَ لَا يَا اَبِيْ وَهِيَ حَدِيْقَةُ دَارِنَا؟ اَلْعَبُ فِيْهَا
"څنګه به مې نه وي ليدلی، اې پلاره! دا خو زموږ د کور بڼ دئ." "زه هره ورځ
كُلَّ يَوْمٍ وَّاَتَرَدَّدُ اِلَيْهَا صَبَاحَ مَسَاءَ. قَالَ عُمَرُ:
په هغه کې لوبې کوم او سهار او ماښام ورباندې ګرځم." عمر وويل:
مَا اَظُنُّكَ رَاَيْتَهَا! فَتَعَالَ مَعِيَ نَتَمَسَّ فِي الْحَدِيْقَةِ
"زه فکر نه کوم چې تا دې ليدلې وي! نو راځه زما سره چې بڼ ته ولاړ سو،
وَنَدْرُسُ النَّبَاتَ، فَاِنَّهُ مِنْ عَجَائِبِ خَلْقِ اللهِ،
او د نباتات مطالعه کړو، ځکه چې دا د الله تعالى له عجايبو څخه دي."

وَكِتَابٌ يَجِبُ اَنْ تُطَالِعَهُ. خَرَجَ عُمَرُ وَعَبَّاسٌ

"او دا يو كتاب دئ چي ته يې بايد مطالعه كړې." عمر او عباس بڼ ته

اِلَى الْحَدِيْقَةِ، فَرَاٰى عَبَّاسٌ الْبُسْتَانِيَّ يُصْلِحُ

ووتل. عباس وليدل چي باغوان يوه ټوټه

قِطْعَةً مِّنَ الْاَرْضِ، وَيُنَجِّي الْحَجَرَ وَالْخَزَفَ،

مځكه سموي او هغه كاڼي او ماتي خښتي ليري كوي

وَيَقْلَعُ الْحَشَائِشَ وَالْاَعْشَابَ، فَسَئَلَ عَبَّاسٌ

او زيان رسوونكي واښه او بوټي كاږي. نو عباس له خپل پلار څخه

اَبَاهُ عَنْ ذٰلِكَ. قَالَ عُمَرُ: اَلرَّجُلُ يُصْلِحُ الْاَرْضَ

د هغه په اړه پوښتنه وكړه. عمر وويل: دا سړى مځكي اصلاح كوي

وَيُهَيِّئُهَا لِغَرْسِ الْاَشْجَارِ، فَاِذَا بَقِيَتِ الْاَحْجَارُ

او د ونو د كښېنولو لپاره يې چمتو كوي. خو كله چي ډبري او كودركي په مځكه كي

وَالْخَزَفُ لَمْ يَثْبُتِ الْفَسِيْلُ فِى الْاَرْضِ، وَلَمْ تَمْتَدَّ

پاته سي، نو نيالګي په سمه توګه نه ځاى پر ځاى كيږي. او خپلي ريښي

جُذُوْرُهُ فِيْ بَاطِنِ الْاَرْضِ، وَاِذَا تُرِكَتْ هٰذِهِ

په مځكه كي نه سي غځولاى. او كله چي دغه شيطاني واښه

الْحَشَائِشُ الشَّيْطَانِيَّةُ امْتَصَّتْ غِذَاءَ الْفَسِيْلِ

پرېښول سي، نو د نيالګيو غذا (خواړه) دوى خوري

وَذَوَى الْفَسِيْلُ، وَالْبُسْتَانِيُّ النَّاصِحُ الْمُجْتَهِدُ
او نيالګي وچيږي. او زيارکښ او هوښيار باغوان
يَحْرُثُ الْاَرْضَ كَمَا يَحْرُثُ الْفَلَّاحُ الْحَقْلَ،
مځکه دا ډول يوې کوې لکه څنګه چې بزګر کرونده يوې کوې.
وَيُلْقِيْ فِيْهَا السَّمَادَ وَيَسْقِيْهَا كُلَّ يَوْمٍ حَتّٰى
هغه په دې کې سره اچوي او هره ورځ هغه اوبه کوي تر دې چې
تُصْبِحَ الْاَرْضُ رِخْوَةً كَرِيْمَةً، تَقْبَلُ كُلَّ مَا
مځکه يو سهار په ښه ډول نرمه او حاصل خېزه سي او هر هغه څه ومني
يُلْقٰى فِيْهَا. ثُمَّ يَغْرِسُ الْفَسَائِلَ فِيْ مَكَانٍ تَصِلُ
چې پکښې اچول کيږي. وروسته په هغه ځای کې نيالګي ايږدي
اِلَيْهِ الشَّمْسُ كُلَّ يَوْمٍ. هُنَا قَاطَعَهُ عَبَّاسٌ وَقَالَ:
چې هغه ته هره ورځ لمر رسيږي. دلته عباس خبره ورپرې کړه او ويې ويل:
وَهَلْ يَحْتَاجُ النَّبَاتُ اَيْضًا اِلَى الشَّمْسِ؟ قَالَ عُمَرُ:
ايا نباتات هم لمر ته اړتيا لري؟ عمر وويل:
نَعَمْ يَا عَبَّاسُ! فَالنَّبَاتُ جِسْمٌ حَيٌّ نَامٍ يَّحْتَاجُ
هو اې عباسه! نبات هم يو ژوندی وده کوونکی جسم دئ چې و لمر،
اِلَى الشَّمْسِ وَالْهَوَاءِ وَالْمَاءِ وَاسْتَمَرَّ عُمَرُ فِيْ حَدِيْثِهِ:
هوا، او اوبو ته ضرورت لري. عمر خپلو خبرو ته دوام ورکړ:

ثُمَّ يَغْرِسُ الْفَسَائِلَ فِيْ صَفٍّ وَّيَتْرُكُ بَيْنَ
وروسته تيالګي په يوه قطار کي کښېنول کيږي او د دو نيالګيو
فَسِيْلَيْنِ فُسْحَةً يُّمْكِنُ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا اَنْ
په منځ کي يو څه خالي ګاه پرېښول کيږي تر څو هر يو نيالګی وکولای سي
يَّمْتَدَّ فِيْهَا، وَلَا يُضَايِقَ بَعْضُهَا بَعْضًا. وَيَحْسُنُ
چي په هغه کي وده وکړي. او يو نيالګی بل تنګ نه کړي. او ښه دا ده
اَنْ تَكُوْنَ الْفَسَائِلُ اَتْرَابًا فِيْ سِنٍّ وَّاحِدَةٍ، وَاِذَا
چي ټول نيالګي په يوه عمر کي سره همزولي وي. او کله چي
كَانَتْ ذَاتَ اَزْهَارٍ فَلِاَزْهَارِهَا مِيْعَادٌ وَّاحِدٌ، لِيَتِمَّ
دوی ګلان لرونکي وي، نو بايد ګلان يې ټا کلی وخت ولري، تر څو له قطارونو
جَمَالُ كُلِّ صَفٍّ مِنْ صُفُوْفِهَا. وَلَا يَسْتَرِيْحُ الْبُسْتَانِيُّ
څخه د هر قطار ښکلا بشپړه سي. وروسته تر دې نو
بَعْدَ ذٰلِكَ، بَلْ يَسْهَرُ عَلٰى هٰذِهِ الْفَسَائِلِ، فَلَا يَزَالُ
باغوان هيڅ آرام نه کوي، بلکي پر همدې نيالګيو پام کوي. نو همدا سي
يَسْقِيْهَا مَرَّةً اَوْ مَرَّتَيْنِ كُلَّ يَوْمٍ وَيَقْلَعُ الْحَشَائِشَ
هر ورځ يو يا دوه ځله اوبه ورکوي، او ضررمن واښه يې کاږي
وَيَعْزِقُ الْاَرْضَ حَوْلَهَا، فَيَجْعَلُ بَاطِنَهَا ظَاهِرَهَا.
او شاوخوا ځمکي ورته نرموي، نو هغه سره اړوي را اړوي

هُنَا فَرَغَ الْبُسْتَانِيُّ مِنْ إِصْلَاحِ الْأَرْضِ وَذَهَبَ
دلته باغوان د مځکي له جوړولو څخه فارغ سو. او ولاړی
يَنْقُلُ فَسِيلًا ، فَتَبِعَهُ عُمَرُ وَعَبَّاسٌ، وَوَقَفَا بِجَانِبِهِ.
چي نيالګي يوسي. عمر او عباس ورپسې ولاړل او د هغه تر څنګ ودرېدل.

الاسئلة (۱)

(۱) ماذا يفعل البستانى فى الحديقة؟

(۲) لم يزيل البستانى الحشائش من حول الفسيل؟

(۳) اين تغرس الفسائل؟

(۴) الى اى شىء يحتاج النبات؟

(۵) هل يكتفى البستانى بغرس الفسائل؟ و لماذا؟

ميز الاسماء المقصورة من المنقوصة و من الممدودة فيما يلى:

وادى، حى، مستوى، قاضى، سماء .

---

(۱) محترم استاذ دي له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کي ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ۱۲ ن

(٣٣)

جِسْمُ النَّبَاتِ [٢]

د نبات صورت (دوهم برخه)

حَفَرَ الْبُسْتَانِيُّ الْاَرْضَ حَوْلَ الْفَسِيْلِ بِاحْتِرَاسٍ،
باغوان په احتياط سره د نيالګي شاوخوا خاوره کيندله،
وَكَاَنَّهٗ يَخَافُ شَيْئًا، فَسَئَلَ عَبَّاسٌ وَّالِدَهٗ
داسي لکه له کوم شي چي ببريږي. نو عباس له خپل پلار د دې په اړه
عَنْ ذٰلِكَ، وَقَالَ: لِمَاذَا يَتَوَانٰى الْبُسْتَانِيُّ فِيْ شُغْلِهٖ،
پوښتنه وکړه او ويې ويل: باغواني ولې په خپل کار کې دومره ځنډ کوي
وَلَا يُعَجِّلُ؟ قَالَ عُمَرُ: هُوَ يَخَافُ اَنْ يَّقْطَعَ بَعْضَ
او تلوار نه کوي؟ عمر وويل: دی پر دې ببريږي چي د ځيني ريښې
الْجُذُوْرِ فَيَضُرَّ بِالْفَسِيْلِ، وَرُبَّمَا يَمُوْتُ، لِاَنَّ
پرې نه کړي، چي بيا نيالګي تاوان رسيږي او ډېری وختونه وچيږي دا ځکه چي
الْجُذُوْرَ لَازِمَةٌ لِّلشَّجَرَةِ وَبِهَا حَيَاتُهَا. قَالَ
ريښې د وني لپاره لازمي دي او په همدې ژوندۍ وي. عباس
عَبَّاسٌ: وَمَا فَائِدَةُ الْجُذُوْرِ وَمَا شُغْلُهَا حَتّٰى
وويل: عباس وپوښتل: "د ريښو ګټه څه ده، او دا څه کار کوي تر دې چي
لَا تَحْيَا الشَّجَرَةُ بِغَيْرِهَا. قَالَ عُمَرُ: النَّبَاتُ
ونه پرته له دې ژوند نه سي کولای؟" عمر وويل: نبات

اِنَّمَا يَثْبُتُ فِي الْاَرْضِ بِالْجُذُوْرِ، فَهِيَ الَّتِيْ تَمْتَصُّ
په مځکې کې يوازې په ريښو سره ولاړ وي نو همدا ريښې دي چې له مځکې څخه
الْغِذَاءَ مِنَ الْاَرْضِ، وَتَبْحَثُ عَنْهُ. اَلَا تَرَاهَا مُمْتَدَّةً
غذا ترلاسه کوي او لټون يې کوي، ايا ته هغه نه وينې چې غځيدلي دي
مُتَشَعِّبَةً فِيْ بَاطِنِ الْاَرْضِ، كَاَنَّهَا جَوَاسِيْسُ
د مځکې په نس کې سره پاشل سوي دي لکه دوی چې جاسوسان وي
وَعُيُوْنٌ قَدِ انْبَثَّتْ لِعَمَلِهَا. عَبَّاسٌ: وَمَا هِيَ
او لکه سترګې چې د خپل کار لپاره خلاصې وي. عباس وويل: او د نبات لپاره
الْاَجْزَاءُ اللَّازِمَةُ لِلنَّبَاتِ غَيْرُ الْجُذُوْرِ؟ قَالَ
له ريښو پرته بل کوم جزء لازمي دئ؟ عمر
عُمَرُ: مِنَ الْاَعْضَاءِ اللَّازِمَةِ لِلنَّبَاتِ السَّاقُ، وَهُوَ
وويل: د نبات لپاره له لازمي غړو څخه تنه ده. او هغه يې
الْجُزْءُ الْبَارِزُ عَلَى الْاَرْضِ، وَهُوَ الَّذِيْ يَحْمِلُ
پر مځکه ښکاره برخه ده. او دا هغه برخه ده چې څانګې
الْفُرُوْعَ وَالْاَوْرَاقَ، وَيَسِيْلُ فِيْهِ غِذَاءُ الشَّجَرَةِ،
او پاڼې لري او په دې کې د ونې غذا بهيږي
وَيَنْتَقِلُ اِلٰى اَجْزَائِهَا. وَالْاٰخَرُ اللَّازِمُ لِلنَّبَاتِ
او د هغې نورو برخو ته يې رسوي. او د نبات لپاره بل مهم څه
الْاَوْرَاقُ وَبِهَا يَتَنَفَّسُ النَّبَاتُ وَيَاْخُذُ مِنَ الْهَوَاءِ
پڼې دي چې په هغو سره نبات تنفس کوي او له هوا څخه هغه څه ترلاسه کوي

مَا يُصْلِحُ بِـهِ حَيَاتَهُ. وَهٰذِهِ الثَّلَاثَةُ: اَلْجُـذُوْرُ،	
چي په هغه سره يې ژوند سمېږي. او هغه درې شيان دي: ريښې	
وَالسَّاقُ، وَالْاَوْرَاقُ، هِيَ اَعْضَاءُ النَّبَاتِ اللَّازِمَةُ	
تنه او پاڼې، دا د نبات د ژوند او ودې لپاره	
لِحَيَاتِهِ وَنَمَائِهِ، وَيَكْفِيْكَ يَا عَبَّاسُ! هٰـذَا	
لازمي غړي دي. تا ته همدومره بسنه کوي اې عباسه! دا	
اَلدَّرْسُ الْاَوَّلُ عَنِ النَّبَاتِ. قَالَ عَبَّاسٌ: عَجَبًا	
د نبات اړوند لومړی درس دئ. عباس ويل: عجيبه ده	
يَا اَبِيْ! مَا كُنْتُ اَعْرِفُ مِنْ قَبْلُ اَنَّ النَّبَاتَ	
اې پلاره! زه مخکې په دې نه پوهېدلم چي نبات	
جِسْمٌ حَيٌّ نَامٍ، لَهُ تَرْكِيْبٌ دَقِيْقٌ. قَالَ عُمَرُ:	
يو ژوندی وده کوونکی جسم دئ چي ډېر باريک جوړښت لري. عمر وويل:	
وَكَذٰلِكَ كُلُّ شَيْءٍ فَاِذَا دَرَسْتَهُ كَكِتَابٍ تَعَجَّبْتَ	
همداسې هر شی دئ، کله چي ته هغه د يوه کتاب په شان ولولې نو حيران به سې	
مِنْ صُنْعِ اللّٰهِ الَّذِيْ اَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ، وَعَرَفْتَ اَنَّ	
د الله تعالی ودې جوړښت ته، هغه چي هر شی يې بشپړ کړی دئ. او ته په پوه سې چي	
فِيْ كُلِّ شَيْءٍ اٰيَةً لِلّٰهِ، وَفِيْ ذٰلِكَ يَقُوْلُ الشَّاعِرُ:	
په هر شي کي د الله تعالی د قدرت نښه سته، او په همدې اړه شاعر ويلي دي:	
وَاللّٰهِ فِيْ كُلِّ تَحْرِيْكَةٍ	وَفِيْ كُلِّ تَسْكِيْنَةٍ شَاهِدُ
په الله قسم! په هر حرکت کي	او په هر سکون کي يو شاهد دئ

وَفِيْ كُلِّ شَيْءٍ لَهُ اٰيَةٌ	تَدُلُّ عَلٰى اَنَّهُ وَاحِدُ
او په هر شي کې د هغه يوه نښه ده	چې د هغه پر يوازيتوب دلالت کوي

الاسئلة [1]

(۱) لم يحفر البستانى حول الفسيل بحيطة وحذر؟

(۲) ما فائدة الجذور؟

(۳) ما الاجزاء اللازمة للنبات غير الجذور؟

(۴) النبات جسم حى نام. اشرح ذلك؟

(۵) اذكر ثلاث فوائد للنبات.

ميز الاسماء المجردة من المزيدة فيما يلى:

الارض، فسيل، جذور، شغل، اوراق

---

(۱) محترم استاذ دې له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کې ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ۱۲ ن

(۳۴)

اَلْبَبْغَاءُ

طوطي

اَلِفْتُهَا صَبِيْحَةً مَّلِيْحَةً	نَاطِقَةً بِاللُّغَةِ الْفَصِيْحَةِ
ما هغې ته مينه ورکړه، ښکلې او ظريفه وه	په واضحه ژبه خبرې کوونکې وه
عُدَّتْ مِنَ الْاَطْيَارِ وَاللِّسَانُ	يُوْهِمُنِيْ بِاَنَّهَا اِنْسَانُ
له مرغانو څخه ګڼل کيږي، خو ژبه لري.	داسې ښکاري لکه چې انسان وي.
تُنْهِيْ اِلٰى صَاحِبِهَا الْاَخْبَارَا	وَتَكْشِفُ الْاَسْرَارَ وَالْاَسْتَارَا
خپل مالک ته خبرونه رسوي.	رازونه او پټې خبرې ښکاره کوي.
بَكْمَاءُ اِلَّا اَنَّهَا سَمِيْعَةٌ	تُعِيْدُ مَا تَسْمَعُهُ طَبِيْعَةٌ
ګونګه ده، مګر اوريدونکې ده.	څه چې اوري تکراروي يې دا يې فطرت دی
زَارَتْكَ مِنْ بِلَادِهَا الْبَعِيْدَةِ	وَاسْتَوْطَنَتْ عِنْدَكَ كَالْقَعِيْدَةِ
له خپلې ليرې ښاره څخه تا ته راغلې ده	ستا سره مېشته سوه، لکه يو هم ناستی
ضَيْفٌ قِرَاهُ الْجَوْزُ وَالْاَرُزُّ	وَالضَّيْفُ فِيْ اِتْيَانِهِ يُعَزُّ
مېلمه ده، چې مغزاو وريجې خوراک لري	او مېلمه چې راشي، عزت يې لازمي وي
تَرَاهُ فِيْ مِنْقَارِهِ الرَّقِيْقِ	كَلُؤْلُؤٍ يَّلْقُطُ بِالْعَقِيْقِ
ته يې په نازکه مشوکه کې (توتې) وينې	لکه ملغلرې چې په ياقوتو کې راټولې وي

تَنْظُرُ مِنْ طَرْفَيْنِ كَالْفَصَّيْنِ	فِي النُّوْرِ وَالظُّلْمَةِ بَصَّاصَيْنِ
په دواړو سترګو ګوري، لکه دوه ياقوتونه	رڼا او تياره دواړو کي ځېرک نظر لري
خَرِيْدَةٌ خُدُوْرُهَا الْاَقْفَاصُ	لَيْسَ لَهَا مِنْ حَبْسِهَا خَلَاصُ
ښکلا ده، خو قفس يې کور دی	د خپل بند څخه خلاصون نه لري
تَحْبِسُهَا وَمَالَهَا مِنْ ذَنْبٍ	وَاِنَّمَا ذَاكَ لِفَرْطِ الْحُبِّ
تا بندي کړې ده، خو د هغې ګناه څه ده؟	خو دا هر څه يوازي د زياتي ميني څخه دي

(اَبُوْ اِسْحَاقَ الصَّابِيُّ)

الاسئلة (١)

(١) لم توهم الشاعر ان الببغاء انسان؟

(٢) الببغاء بكماء، فكيف يصفها الشاعر بانها سميعة؟

(٣) ماذا ياكل الببغاء؟

(٤) شبه الشاعر منقار الببغاء بالؤلؤ بين موطن الجمال فى هذا التشبيه.

(٥) هل رأيت ببغاء؟ وهل احببته؟ ولما ذا؟

اكمل البيتين التاليين:

الفتها ...... مليحة ناطقة باللغة ....

بكماء الا انها ...... تعيد ما ...... طبيعة

(١) محترم استاذ دي له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کي ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(٣٥)

اَلْحَجَّاجُ وَالْفِتْيَةُ

حجاج او ځوانان

اَمَرَ الْحَجَّاجُ صَاحِبَ حَرَسِهِ اَنْ يَّطُوْفَ لَيْلًا،
حجاج خپل ساتونکي ته امر وکړ چې شپه ګزمه وکړي،
فَمَنْ رَاٰهُ بَعْدَ الْعِشَاءِ سَكْرَانَ ضَرَبَ عُنُقَهُ،
که څوک د ماښام لمونځ وروسته مست وموندل سو، نو دې يې غاړه پرې کړي.
فَطَافَ لَيْلَةً مِّنَ اللَّيَالِيْ فَوَجَدَ ثَلَاثَةَ فِتْيَانٍ
يوه شپه يې ګزمه کوله، نو درې ځوانان يې وموندل،
يَتَمَايَلُوْنَ، وَعَلَيْهِمْ اَمَارَاتُ السُّكْرِ، فَاَحَاطَتْ
چې زنګېدل او د مستۍ نښې پرې ښکاره وې، نو ساتونکو
بِهِمُ الْغِلْمَانُ وَقَالَ لَهُمْ صَاحِبُ الْحَرَسِ: مَنْ
هغوی راچاپېره کړل، او د ګزمې مشر ترې وپوښتل: تاسي
اَنْتُمْ حَتّٰى خَالَفْتُمْ اَمْرَ اَمِيْرِ الْمُؤْمِنِيْنَ وَخَرَجْتُمْ
څوک یاست؟ چې د اميرالمؤمنين د فرمان مخالفت مو کړی دئ او په داسي

فِيْ مِثْلِ هٰذَا الْوَقْتِ؟ فَقَالَ اَحَدُهُمْ:
يو وخت کي راوتلي ياست؟ نو يو له دوی څخه ځواب ورکړ:
اَنَا ابْنُ مَنْ دَانَتِ الرِّقَابُ لَهُ
زه د هغه چا زوی يم چي ټولي غاړي ورته ټيټي وي،
مِنْ بَيْنِ مَخْزُوْمِهَا وَهَاشِمِهَا
که له مخزومه وي او که له هاشمه
تَأْتِيْهِ بِالرَّغْمِ وَهِيَ صَاغِرَةٌ
خلک يې د زور له مخي راځي، پست او عاجز
يَأْخُذُ مِنْ مَّالِهَا وَمِنْ دَمِهَا
له دوی يې مال او وينه دواړه اخيستي دي
فَاَمْسَكَ عَنْهُ وَقَالَ: لَعَلَّهُ مِنْ اَقَارِبِ اَمِيْرِ الْمُؤْمِنِيْنَ.
نو ډلګۍ مشر چوپ سو او ويې ويل: ښايي د امير المؤمنين له خپلوانو څخه وي.
ثُمَّ قَالَ لِلْاٰخَرِ: وَاَنْتَ مَنْ تَكُوْنُ؟ فَقَالَ:
بيا يې دويم ته مخ کړ او ويې ويل: ته څوک يې؟ نو هغه وويل:
اَنَا ابْنُ مَنْ لَّا تَنْزِلُ الدَّهْرَ قِدْرُهُ
زه د هغه چا زوی يم چي هيڅ زمانه د هغه کټو (ديګ) نه کښته کيږي

وَاِنْ نَزَلَتْ يَوْمًا فَسَوْفَ تَعُوْدُ

که يو وخت کښته هم سي، نو ژر به بيرته پورته سي

تَرَى النَّاسَ اَفْوَاجًا اِلٰى ضَوْءِ نَارِهٖ

ته به خلک ووينې چي ډلي ډلي د هغه د اور رڼا ته راځي

فَمِنْهُمْ قِيَامٌ حَوْلَهَا وَقُعُوْدُ

نو له هغوی څخه ځيني ولاړ وي، ځيني ناست وي شاوخوا

فَاَمْسَكَ عَنْهُ وَقَالَ: لَعَلَّهُ ابْنُ اَشْرَفِ الْعَرَبِ.

نو له ده څخه هم چوپ سو او ويې ويل: ښايي د عربو د اشرافو زوی وي

ثُمَّ قَالَ لِلْاٰخَرِ: وَاَنْتَ مَنْ تَكُوْنُ؟ فَاَنْشَدَ قَائِلًا:

بيا يې دريم ته وويل: او ته بيا څوک يې؟ نو ويونکي ترانه وويل:

اَنَا ابْنُ مَنْ خَاضَ الصُّفُوْفَ بِعَزْمِهٖ

زه د هغه چا زوی يم چي په خپل عزم سره يې صفونه مات کړي دي

وقَوَّمَهَا بِالسَّيْفِ حَتّٰى اسْتَقَامَتِ

او د توري په زور يې هغوی سم کړي

رِكَابَاهُ لَا تَنْفَكُّ رِجْلَاهُ مِنْهُمَا

د آسونو رکابونه يې له پښو نه جلا کېدل

اِذَا الْخَيْلُ فِيْ يَوْمِ الْكَرِيْهَةِ وَلَّتِ
کله چې آسونه د جنګ په ورځ تېښته کوي
فَأَمْسَكَ عَنْهُ وَقَالَ: لَعَلَّهُ ابْنُ اَشْجَعِ الْعَرَبِ،
نو له ده څخه هم چوپ سو او ويې ويل: ښايي د عربو د يو زړور زوی وي،
وَاحْتَفَظَ بِهِمْ. فَلَمَّا كَانَ الصَّبَاحُ رَفَعَ اَمْرَهُمْ
او هغوی يې ونيول، کله چې سهار سو، د دوی قضيه يې وامير ته راپورته
اِلَى الْاَمِيْرِ، فَاَحْضَرَهُمْ وَكَشَفَ عَنْ حَالِهِمْ،
کړه، نو هغه حاضر کړل، او د دوی د حال څېړنه يې وکړه
فَاِذَا الْاَوَّلُ ابْنُ حَجَّامٍ، وَالثَّانِيْ ابْنُ خُضَرِيٍّ،
نو معلومه سوه چې لومړی د نايي زوی دی، دوهم د سبزي پلورونکي زوی دئ،
وَالثَّالِثُ ابْنُ حَائِكٍ، فَتَعَجَّبَ مِنْ فَصَاحَتِهِمْ،
او درېيم د يوه اوبدونکي زوی دئ، نو امير د دوی له فصاحت څخه حيران سو،
وَقَالَ لِجُلَسَائِهِ: عَلِّمُوْا اَوْلَادَكُمُ الْاَدَبَ، فَوَاللهِ
او خپلو ناستو کسانو ته يې وويل: خپلو اولادونو ته ادب وښوئ، قسم په الله،
لَوْلَا فَصَاحَتُهُمْ لَضَرَبْتُ اَعْنَاقَهُمْ.
که چيري د دوی دا فصاحت نه وای، ما به د دوی غاړي پري کړي وای!

الاسئلة (۱)

(۱) من وجد هم صاحب الحرس؟

(۲) اوهم السكارى صاحب الحرس بأن لهم شأنا فبم اوهم كل واحد منهم؟

(۳) مم تعجب الحجاج؟

(۴) ما ذا قال الحجاج لجلسائه.

(۵) ما مصير السكارى؟

صغ اسم فاعل من كل من الافعال التالية:

رفع، خاض، علم، طاف، خرج

(۱) محترم استاذ دي له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کې ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ۱۲ ن

(٣٦)

أَنَا تُرَابٌ

زه خاوري يم

أَنَا تُرَابٌ حَقِيْرٌ يَّطَؤُنِيْ النَّاسُ بِأَقْدَامِهِمْ
زه خاوري يم، ناچيزه، چي خلک ما په خپلو پښو او چوټو
وَنِعَالِهِمْ وَيَضْرِبُوْنَ بِيْ مَثَلًا فِي الْحَقَارَةِ وَالذُّلِّ.
وهي، او په ما سره په ذلت او سپکاوي کي مثالونه ورکوي.
اَلنَّاسُ يَنْتَفِعُوْنَ بِيْ فِيْ كُلِّ سَاعَةٍ، وَفِيْ كُلِّ مَكَانٍ
خلک په هر ساعت کي او په هر ځاى او په هر وخت کي
وَّزَمَانٍ، ثُمَّ يَحْتَقِرُوْنَنِيْ وَيَهْجُوْنَنِيْ كَالشَّعِيْرِ
له ما ګټه اخلي، خو وروسته زما سپکاوى کوي او په ما ملنډي وهي. لکه وربشي
يُؤْكَلُ وَيُذَمُّ. فَفِيْ مَنَاكِبِيْ يَمْشِي النَّاسُ، وَعَلٰى ظَهْرِيْ
چي خوړل کيږي او بد يې ويل کيږي. نو زما پر اوږو خلک تګ کوي او زما پر شا
يَبْنُوْنَ بُيُوْتًا وَمَبَانِيَ عَظِيْمَةً، وَمِنْ بَطْنِيْ تَخْرُجُ
کورونه او ستري ودانۍ جوړوي، او زما له نس څخه د خلکو لپاره
لِلنَّاسِ حُبُوْبٌ يَأْكُلُهَا النَّاسُ، وَجَنَّاتٌ مِّنْ أَعْنَابٍ
غلې داني راوزي چي خلک هغه خوري، او د انګورو باغونه

وَّالزَّيْتُوْنُ وَالرُّمَّانُ، وَالنَّخْلُ وَالزَّرْعُ مُخْتَلِفًا
او د زيتونو وني او د انارو باغونه او د خورما باغونه او بېلا بېل كښتونه
اُكُلُهُ. وَمِنْ بَطْنِىْ يَخْرُجُ ذٰلِكَ الْقُطْنُ الَّذِىْ بِهٖ
خوري، او زما له نس څخه دوى پنبه را باسي هغه پنبه چي په هغه سره
لِبَاسُكُمْ وَكِسْوَتُكُمْ فِى الصَّيْفِ وَالشِّتَاءِ، وَسَرَابِيْلُ
تاسو په ژمي او دوبي كي جامې او كالي جوړوئ، او سرابيل
تَقِيْكُمُ الْحَرَّ. وَفِىْ لِبَاسِ الْحَرِيْرِ اَيْضًا يَرْجِعُ اِلَىَّ
چي تاسو له ګرمۍ ساتي. او په ورېښمنو جامو كي هم ما ته د غوراوي
الْفَضْلُ فَاِنَّ دُوْدَةَ الْقَزِّ تَتَغَذّٰى مِنْ وَرَقِ التُّوْتِ،
رجوع كيږي ځكه چي د ورېښمنو چينجى د توت له پاڼو تغذيه كوي
وَمِنِّىْ تَتَغَذّٰى شَجَرَةُ التُّوْتِ، وَعَلَىَّ تَنْمُوْ وَتَعِيْشُ،
او د توت ونه زما څخه خپل خواړه ترلاسه كوي. او پر ما وده كوي او ژوند كوي
وَعَلٰى ظَهْرِىْ تَحْفِرُوْنَ الْبِئْرَ الَّتِىْ تَشْرَبُوْنَ مَاءَهَا
او زما پر شا كوهي كيندي هغه چي اوبه يې څښئ
وَعَلٰى ظَهْرِىْ تَجْرِى الْاَنْهَارُ الَّتِىْ تَسْقِيْكُمْ وَتَسْقِىْ
او زما پر شا وياله بهيږي هغه چي تاسو اوبه كوي او ستاسو كښتونه
زُرُوْعَكُمْ. وَمِنَ الطِّيْنِ يَبْنِى الْفَخَارِىُّ الْاَوَانِىْ
خړوبوي. له خټو څخه كوزې، د ښناك لوښي او د خوراک

وَالظُّرُوْفَ، الَّتِىْ تَأْكُلُوْنَ فِيْهَا وَتَشْرَبُوْنَ، وَاللُّعَبُ

لوښي جوړوي چي په هغو کي تاسو خوراک کوئ او څښاک کوي، او لوبتکي

وَالدُّمَى الَّتِىْ يَلْعَبُ بِهَا الْاَطْفَالُ. وَهَلْ تُصَدِّقُوْنَ

او د لوبو سامانونه چي په هغو باندي ماشومان لوبي کوي. او ايا تاسو به يې ومنئ

إِذَا اَخْبَرْتُكُمْ بِاَنِّىْ مَادَّةُ هٰذَا الْكِتَابِ الَّذِىْ

کله چي زه درته ووايم زه د دغه کتاب ماده يم چي تاسو يې

تَقْرَؤُوْنَهُ، وَمَادَّةُ كُلِّ كِتَابٍ وَّصَحِيْفَةٍ، فَاِنَّ مَادَّةَ

لولئ او د هر کتاب او ورځپاڼي ماده يم، ځکه چي د پاڼو

الْوَرَقِ الْحَشِيْشُ الَّذِىْ يَنْبُتُ فِى الْاَرْضِ، فَلِىَ

ماده د هغه واښه دي چي په مځکه کي شنه کيږي. نو زما

مِنَّةٌ عَلٰى كُلِّ عَالِمٍ وَّطَالِبٍ، وَلِىَ مِنَّةٌ عَلٰى كُلِّ مَنْ

پر هر عالم او هر طالب باندي احسان دئ، او زما پر هر هغه چا باندي احسان دئ

عَلَيْهِ مِنَّةُ الْعِلْمِ وَالدِّيْنِ. وَمِنْ بَطْنِىْ يَخْرُجُ

چي پر هغه د علم او دين احسان وي، او زما له نس څخه سره او سپين زر

الذَّهَبُ وَالْفِضَّةُ، وَالنُّحَاسُ وَالْحَدِيْدُ، الَّذِىْ فِيْهِ

او مس او وسپنه را وزي، هغه چي په هغه کي

بَأْسٌ شَدِيْدٌ وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَالزَّيْتُ الَّذِىْ يُضِيْءُ

سخت طاقت دئ او د خلکو ګټي دي زه هغه تېل ورکوم چي هغه رڼا کوي

وَالْفَحْمُ الْحَجَرِيُّ الَّذِیْ تَسِيْرُ بِـهِ الْقَاطِرَةُ،

او د ډبرین سکاره ورکوم چي په هغه سره د اور ګاډي ماشين چليږي

وَالْبِتْرَوْلُ الَّذِیْ تَسِيْرُ بِهِ السَّيَّارَاتُ وَالطَّائِرَاتُ

او همدا سي پټرول ورکوم چي په هغه سره متړونه او الوتکي چليږي

اِنَّكُمْ تُفْسِدُوْنَ اَطْيَبَ الاَشْيَاءِ، فَكُلُّ مَا تَلَبَّسَ

تاسو تر ټولو ښه شيان خرابوي، نو هر هغه شی چي ستاسو سره تماس

بِكُمْ فَسَدَتْ رَائِحَتُهُ، وَذَهَبَتْ نَضَارَتُهُ، وَاَنَا

پيدا کړي، نو د هغه بوی خراب سي، او ښايسته يې ختم سي، او زه

اُعِيْدُهُ غَضًّا طَرِيًّا وَبِهٰذَا السَّمَادِ الَّذِیْ تُلْقُوْنَهُ

هغه بيرته تازه او زرغون کوم، او په هغه سره (انبار) سره چي تاسي يې په کروندو

فِي الْحُقُوْلِ وَالْفَسَائِلِ اُنْبِتُ لَكُمْ حَبًّا صَحِيْحًا

او نيالګيو کي غورځوئ، زه ستاسو لپاره سمي غلې داني او خوندوري

وَفَاكِهَةً لَّذِيْذَةً، وَزُهُوْرًا جَمِيْلَةً. اَنَا اَمِيْنُ اَجْسَادِ

ميوې او ښايسته ګلونه شنيه کوم، زه د انبياؤ د جسدونو

الْاَنْبِيَاءِ، اَنَا مَرْقَدُ الشُّهَدَاءِ، اَنَا مُسْتَوْدَعُ

امانت ساتونکې يم، زه د شهيدانو آرام ځای يم، زه د اولياؤ

الْاَوْلِيَاءِ، اَنَا مَضْجَعُ الْعُلَمَاءِ وَالصُّلَحَاءِ، اَنَا

پټنځای يم، زه د علماؤ او نېکانو بستريم. زه

مَدفَنُ الاُمَّهَاتِ وَالاٰبَاءِ، فَلَا تَمْشُوا عَلَىَّ مَرَحًا،
د مېندو او پلرونو مدفن (مقبره) يم، نو پر ما باندې په فخر تګ مه کوئ
وَاذْكُرُوا قَولَ صَاحِبِكُمْ:
او د خپل صاحب (شاعر) دا خبرې ياد ولرئ:
خَفِّفِ الْوَطْءَ مَا اَظُنُّ اَدِيمَ الْـ
ګامونه نرم کړه، زه ګمان نه کوم چې پوستکی د
اَرْضِ اِلَّا مِنْ هٰذِهِ الاَجْسَادِ
مځکې دې پرته له جسدونو بل څه وي
وَقَبِيحٌ بِنَا وَاِنْ قَدُمَ الْعَهْـ
زموږ لپاره بد کار دی، که څه هم زمانه تېره
دُ هَوَانُ الاٰبَاءِ وَالاَجْدَادِ
سوې ده، چې د پلرونو او نيکونو سپکاوی وسي
سِرْ اِنِ اسْتَطَعْتَ فِي الْهَوَاءِ رُوَيْدًا
که دې په وسع پوره وي، نو په هوا کې ورو ورو لاړ سه
لَا اخْتِيَالًا عَلٰى رُفَاتِ الْعِبَادِ
نه دا چې د بندګانو پر هډوکو مغروره ګرځې

الاسئلة (١)

(١) بأى شيء يضرب المثل فى الحقارة والذل؟

(٢) عدد منافع التراب؟

(٣) من اى شيء يصنع الورق؟

(٤) من اين يُستخرج البترول؟

(٥) لم دعا الشاعر لتخفيف الوطء على الارض؟

ضع اسم مفعول من كلّ من الافعال التالية:

وَطِئَ، اكل، شرب، قرا، بُعثِر

---

(١) محترم استاذ دې له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کې ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(٣٧)

اَلسُّلْطَانُ مَحْمُوْدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْكُجْرَاتِيُّ

سلطان محمود بن محمد گجراتي

اَلسُّلْطَانُ الْعَادِلُ الْمُجَاهِدُ، اَبُو الْفَتْحِ سَيْفُ
عادل او مجاهد سلطان، ابو الفتح سيف
الدِّيْنِ مَحْمُوْدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْكُجْرَاتِيُّ، كَانَ
الدين محمود بن محمد گجراتي د
مِنْ خِيَارِ السَّلَاطِيْنِ، وُلِدَ بِكُجْرَات فِيْ عَاشِرِ
غوره بادشاهانو څخه وو. هغه په گجرات کي د رمضان
رَمَضَانَ سَنَةَ (٨٤٩) هـ وَقَامَ بِالْمُلْكِ بَعْدَ دَاوُوْدُ شَاهُ
په لسمه په سنه (٨٤٩) هـ کي وزيږېدى. او باچاهۍ ته تر داوود شاه وروسته په سنه
سَنَةَ (٨٦٢) هـ وَكَانَ يَوْمًا مَّشْهُوْدًا. اِسْتَقَلَّ بِالْمُلْكِ
(٨٦٢) هـ کي ورسېدى چي هغه يوه پام وړ ورځ وو. هغه په خپلواکه توگه
خَمْسًا وَّخَمْسِيْنَ سَنَةً، وَجَاهَدَ فِي اللهِ حَقَّ الْجِهَادِ،
پنځه پنځوس کاله باچاهي وکړه. او هغه د الله تعالی په لاره کي حق جهاد وکړ.
وَوَسَّعَ حُدُوْدَ مُلْكِهِ اِلٰى مَالْوَهْ، وَاِلٰى بِلَادِ السِّنْدِ،
د خپل سلطنت حدود يې تر مالوه او د سند تر ښارونو پوري پراخ کړل

وَلٰكِنَّهُ فِيْ تِلْكَ الْمُدَّةِ الطَّوِيْلَةِ لَمْ يَطْمَحْ اِلٰى بِلَادِ

خو د دې اوږدې مودې په جريان کې، هغه د مسلمانانو سيمو ته طمع ونه کړه

الْمُسْلِمِيْنَ وَلَمْ يَسْتَشْرِفْ لَهَا وَاِذَا اسْتَوْلَى الْقَوِيُّ

او د هغو سيمو (اشغال) ته يې لېوالتيا ونه ښوده، او کله چې به کوم قوي شخص

مِنْهُمْ عَلَى الضَّعِيْفِ قَامَ بِنُصْرَةِ الضَّعِيْفِ

پر يوه کمزوري باندې تېری کاوه نو د کمزوري مرستې ته به يې وردانګل

وَكَانَ قَائِمًا بِالْعَدْلِ وَالْاِحْسَانِ يُنَفِّذُ اَمْرَ

هغه د عدل او احسان پلي کوونکی وو. په سياست کې يې د شريعت

الشَّرْعِ فِي السِّيَاسَةِ، وَيُمْضِيْ حُكْمَ الْقِصَاصِ،

احکامو پلي کول، او د قصاص حکم يې عملي کاوه

وَلَا يَمْنَعُ كَوْنُ اَحَدٍ مِّنْ عُظَمَاءِ الْمُلْكِ الْخَاصَّةِ

که به يو څوک د سلطنت له لويانو (مقربينو) څخه وو، پر هغه يې هم

بِهٖ اَنْ لَّا يَعْمَلَ بِالشَّرِيْعَةِ وَمِنْ مَّكَارِمِهٖ قِيَامُهٗ

د شريعت د تطبيق مخه نه نيوله. د هغه له سترو ښېګڼو څخه

بِتَعْمِيْرِ الْبِلَادِ وَتَأْسِيْسِ الْمَسَاجِدِ، وَالْمَدَارِسِ

د ښارونو ابادول او د مسجدونو، مدارسو، او خانقاؤ

وَالزَّوَايَا، وَتَكْثِيْرِ الزِّرَاعَةِ وَغَرْسِ الْاَشْجَارِ

جوړول او د کښتونو زياتول، د مېوه لرونکو ونو کښېنول

الْمُثْمِرَةِ وَبِنَاءِ الْحَدَائِقِ وَالْبَسَاتِيْنِ، وَتَحْرِيْضِ
او د باغچو او باغونو جوړول وه. او پر همدې کارونو باندې
النَّاسِ عَلٰى ذٰلِكَ، وَإِعَانَتُهُمْ بِحَفْرِ الْاٰبَارِ وَإِجْرَاءِ
د خلکو باعث کول (هڅول) او له هغوی سره د څاهانو په کيندلو او د چينو په جاري کولو
الْعُيُوْنِ، وَلِذٰلِكَ أَقْبَلَ عَلَيْهِ النَّاسُ إِقْبَالًا كُلِّيًّا،
کې مرسته کول وه. له همدې امله خلک ټول په پوره مينه ورسره يو ځای سول.
وَوَفَدَ عَلَيْهِ الْبَنَّاءُوْنَ وَالْمُهَنْدِسُوْنَ وَأَهْلُ الْحِرَفِ
معماران او انجنيران او د کسب او صنعتونو څښتنان يې
وَالصَّنَائِعِ مِنْ بِلَادِ الْعَجَمِ، فَقَامُوْا بِحِرَفِهِمْ
له عجمي ښارونو څخه دربار ته راغلل. نو هغوی پر خپلو کسبونو او هنرونو باندې
وَصَنَائِعِهِمْ فَصَارَتْ كُجْرَاتُ رِيَاضًا مُّخْضَرَّةً
ودرېدل، نو ګجرات يو د يوې شنې باغچې په شان سو
بِكَثْرَةِ الْحِيَاضِ وَالْاٰبَارِ، وَالْحَدَائِقِ وَالزُّرُوْعِ
د کارېزونو او څاهانو په ډېرېدلو سره او د باغونو او کښتونو
وَالْفَوَاكِهِ الطَّيِّبَةِ، وَصَارَتْ بِلَادُ كُجْرَاتَ مَتْجَرَةً
او پاکو مېوو په سبب. او د ګجرات ښارېو تجارتي مرکز وګرځېدی
تُجْلَبُ مِنْهَا الثِّيَابُ الرَّفِيْعَةُ إِلٰى بِلَادٍ أُخْرٰى
له دې ځايه به ګران بيه جامې نورو ښارونو ته وړل کېدلې

وَذٰلِكَ كُلُّهُ بِمَيْلِ سُلْطَانِهَا مَحْمُوْد شَاهْ اِلٰى مَا
دا ټول د سلطان محمود شاه د هغه لېوالتيا په برکته وو چي و هغه څه ته
يَصْلُحُ بِــهِ الْمُلْكُ وَالدَّوْلَةُ، وَيَتَرَفَّهُ بِــهِ رَعَايَاهُ.
يې درلوده چي ملک او دولت پرې اصلاح کيږي او خلک يې په هغه سره خوشحاله کيږي
وَمِنْ مَّكَارِمِهِ قِيَامُهُ بِتَرْبِيَةِ الْعُلَمَاءِ وَالصَّالِحِيْنَ
او د هغه له غوره ښېګڼو څخه يوه د علماوو او صالحينو پالني ته توجه وه.
لِمَا كَانَ مَجْبُوْلًا عَلٰى حُبِّ الْعِلْمِ وَاَهْـلِهِ فَاجْتَمَعَ
څنګه چي دی د علم او عالمانو پر محبت باندي پيدا سوی وو، نو د ده په مجلس کي به
فِيْ حَضْرَتِهِ خَلْقٌ كَثِيْرٌ مِّنْ اَفَاضِلِ الْعَرَبِ، حَـتّٰى
له عربو څخه ډېر د ستر شان لرونکي اشخاص را ټولېدل، تر دې چي
صَارَتْ بِلَادُ كُجْرَاتَ عَامِرَةً اٰهِلَةً بِالْعُلَمَاءِ، وَوَفَدَ
د ګجرات ښارونه له علماوو څخه ډک سول. او د عربو
عَلَيْهِ الْمُحَدِّثُوْنَ مِنْ بِلَادِ الْعَرَبِ، وَاَقْبَلَ النَّاسُ
له ښارونو څخه به پر ده باندي محدثين را ټولېدل او خلکو د حديث شريف
عَلَى الْحَدِيْثِ الشَّرِيْفِ، فَتَشَابَهَتْ كُجْرَاتُ بِالْيَمَنِ
علم ته مخه کړه، نو ګجرات له يمن مبارک سره ورته والی
الْمَيْمُوْنِ وَفَـاقَتْ سَـائِرَ بِـلَادِ الْهِـنْدِ فِيْ ذٰلِكَ.
پيدا کړ او په دې سره د هندوستان نورو ښارونو هم فضيلت پيدا کړ.

وَكَانَ غَـايَةً فِي الْعِفَّةِ وَالْحَيَاءِ، حَسَنَ الْاَخْلَاقِ،

دی په عفت او حیا کي تر ټولو لوړ وو، د ښو اخلاقو خاوند وو،

وَعَظِيْمَ الْهِمَّةِ، كَرِيْمَ السَّجِيَّةِ، شَرِيْفَ النَّفْسِ

ستري همت لرونکی وو، د کرم او سخا څښتن وو، د شریف نفس خاوند وو،

كَثِيْرَ الْبِرِّ وَالْاِحْسَانِ، اَطَالَ الْمُؤَرِّخُوْنَ فِيْ مَنَاقِبِهِ

ډېر نېکي کوونکی او خیرات ورکوونکی وو، تاریخ لیکونکو د ده په مناقبو او فضیلتونو

وَفَضَائِلِهِ. فِيْ سَنَةِ (٩١٦) هـ تَوَجَّهَ اِلٰى نَهْرِ وَالَهْ بَتَنْ،

کي ډېره څه لیکلي، په ۹۱۶ هـ کال کي ده د "نهر واله" ښار ته مخه کړه،

وَزَارَ اَئِمَّةَ الدِّيْنِ بِهَا اَحْيَاءً وَّاَمْوَاتًا، وَعَقَدَ

او د دین د ژوندیو او وفات سوو امامانو زیارتونه یې وکړل، او د تفسیر

مَجْلِسًا خَاصًّا لِمُذَاكَرَةِ التَّفْسِيْرِ وَالْحَدِيْثِ،

او حدیثو د مذاکرې لپاره یې یو خاص مجلس جوړ کړ.

وَاَكْثَرَ مِنَ الْجَوَائِزِ، وَاَعْمَالِ الْبِرِّ وَالْوَظَائِفِ،

او ډېري جایزې، نېک عملونه او د خیر وظیفې یې تقسیم کړې،

وَالْتَمَسَ الدُّعَاءَ، وَكَانَ اَنْشَاَ مَضْجَعَهُ فِيْ جِوَارِ

او له خلکو یې دعا وغوښته. او ده خپل قبر د مولانا شیخ احمد

قَبْرِ مَوْلَانَا الشَّيْخِ اَحْمَدَ فِيْ سَرْكَهِيْجَ، يَتَعَهَّدُهُ

د قبر تر څنګ په سرکهیج کي تیاکلی وو، چي کله ناکله به

اَحْيَانًا، وَقَبْلَ وَفَاتِهِ بِاَيَّامٍ فَتَحَ الْقَبْرَ وَجَلَسَ
هلته ورتلی، د وفات څو ورځي مخکښي يې خپل قبر خلاص کړ، او هلته
عِنْدَهُ وَقَالَ: اَللّٰهُمَّ اِنَّ هٰذَا اَوَّلُ مَنَازِلِ الْاٰخِرَةِ
کښېنستی، او ويې ويل: "ای الله! دا د آخرت لومړی استوګنځی دئ،
فَسَهِّلْهُ وَاجْعَلْهُ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ. ثُمَّ مَلَاَهُ فِضَّةً
نو دا اسانه کړه او د جنت له باغونو څخه يې وګرځوه. بيا يې قبر له سپينو زرو ډک کړ
وَتَصَدَّقَ بِهَا. وَكَانَتْ وَفَاتُهُ عَصْرَ يَوْمِ الْاِثْنَيْنِ
او هغه يې صدقه کړه. د ده وفات د دوشنبې د ورځې په ماښيګر
ثَانِيَ شَهْرِ رَمَضَانَ سَنَةَ (٩١٧) هـ وَلَهُ تِسْعٌ وَّسِتُّوْنَ
د رمضان د مياشتې په دوهمه وو، د ٩١٧ هـ کال، په داسې حال کې چې عمر يې ٦٩
سَنَةً، وَمُدَّةُ سَلْطَنَتِهِ خَمْسٌ وَّخَمْسُوْنَ سَنَةً.
کاله وو، د ده د سلطنت موده ٥٥ کاله وه.
(نزهة الخواطر للشيخ عبد الحی الحسنی)
(د شيخ عبد الحي الحسني له نزهة الخواطر څخه)

الاسئلة (١)

(١) متى واين ولد السلطان محمود؟

(٢) من خلفه السلطان فى الحكم وكم عاما استقل به؟

(٣) ما هى مكارم السلطان؟ اذكر اربعة منها؟

(٤) لماذا توافد علماء الدول وافاضل العرب الى السلطان؟

استعمل الكلمات التالية اسماءً للافعال الناقصة بذكر اخبارها:

الحدائق، المهندسون، العيون، السلطان محمود، التلميذان.

---

(١) محترم استاذ دي له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کي ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(۳۸)

اَلْبَاخِرَةُ [۱]

سمندري بېړۍ (لومړۍ برخه)

كَانَ النَّاسُ فِيْ قَدِيْمِ الزَّمَانِ يُسَافِرُوْنَ
خلګو به په پخوا زمانو کې له يوه ځايه څخه
مِنْ مَّكَانٍ اِلٰى مَكَانٍ عَلَى الْاِبِلِ وَالْبِغَالِ، وَعَجَلَاتِ
بل ځاى ته پر اوښانو، پر قچرو، د آسونو
الْخَيْلِ وَعَجَلَاتِ الثِّيْرَانِ، فَتَرَاهَا غَادِيَةً رَّائِحَةً
پر ګاډيو او د غويانو پر ګاډيو سفر کاوه. نو تا به دا ګاډي ليدل چې پر سړکونو
عَلَى الطُّرُقَاتِ وَالشَّوَارِعِ تَحْمِلُ الرُّكَّابَ وَالْبَضَائِعَ.
او کوڅو کې به روان وه، چې سپرلي او سوداګريز توکي به يې لېږدول.
وَكَانَ النَّاسُ يَخَافُوْنَ السَّفَرَ فِي الْبِحَارِ وَيَتَحَامَوْنَهُ
خلک به د سمندرونو له سفرونو څخه بېرېدل او له هغو څخه يې ډډه کوله.
وَلٰكِنْ اَلْجَاَتْهُمُ الضَّرُوْرَةُ اِلَى السَّفَرِ فِيْهَا لِاَنَّهُ
خو اړينو ضرورتونو دوى دې ته اړ کړل، چې په دې کې سفر وکړي، ځکه چې
يَحْمِلُ الْاَثْقَالَ الْعَظِيْمَةَ وَلَا يُكَلِّفُ نَفَقَةً فَوَصَلُوا
دا ډېر بارونه وړلاى سي او ډېر لګښت نه غواړي. نو دوى وياليې

الْاَنْهَارَ وَالْبُحَيْرَاتِ بِالتُّرَعِ، وَصَارُوْا يُسَافِرُوْنَ
د سيندونو او کوچنيو جهيلونو سره وصل کړې، او په هغو کي به يې د باد
فِيْهَا عَلَى السُّفُنِ الشَّرَاعِيَّةِ، وَيَنْقُلُوْنَ بَضَائِعَهُمُ
پر مخ تلونکو بېړيو کي سفر کاوه، او خپل سوداګريز توکي به يې
التِّجَارِيَّةَ مِنْ مَّكَانٍ اِلٰى مَكَانٍ بَعِيْدٍ. وَكَانَتْ هٰذِهِ
لهيوه ځايه څخه بل ليري ځای ته انتقالول. او دغه بادي
السُّفُنُ الشَّرَاعِيَّةُ تَسِيْرُ ثَلَاثَةَ اَمْيَالٍ فِيْ سَاعَةٍ
بېړيو په يوه ساعت کي درې ميله مزل کاوه.
وَّاحِدَةٍ، وَكَانَتْ هٰذِهِ السُّفُنُ تَحْتَ حُكْمِ الرِّيَاحِ،
دا بېړۍ د بادونو تر واک لاندي وې،
فَاِنْ وَافَقَتْ وَصَلَتِ السَّفِيْنَةُ فِيْ وَقْتٍ قَرِيْبٍ،
که به چيري باد ورسره موافق وو، بېړۍ به په لنډ وخت کي خپل منزل ته رسېدله،
وَاِنْ عَارَضَتْ وَقَفَتْ اَسَابِيْعَ وَشُهُوْرًا، وَاِنْ عَانَدَتْ
او که به يې مخالف وو، نو بېړۍ به اونۍ او مياشتي ولاړه وه، او که به يې سخت مخالفت
صَدَمَتْهَا بِصَخْرَةٍ فَكَسَرَتْهَا، اَوْ قَلَبَتْهَا، وَهَلَكَ
کاوه، نو دا به يې پر کومه ډبره ووهله او ماته به يې کړه، يا به يې واړوله او سپاريان به يې
الرُّكَّابُ وَغَرِقَتِ الْبَضَائِعُ وَكَانَ هٰذَا يَقَعُ كَثِيْرًا
مړه سول او سامانونه به يې غرق سول، او دا حادثي ډېري پيښېدې،

حَتّٰى ذَهَبَ مَثَلًا، وَقَالَ الشَّاعِرُ:

تر دې چې دا يو متل وګرځېدى، او شاعر وويل:

مَا كُلُّ مَا يَتَمَنَّى الْمَرْءُ يُدْرِكُهُ

"هر څه چې انسان يې غواړي، هغه ته نه رسيږي،

تَجْرِي الرِّيَاحُ بِمَا لَا تَشْتَهِي السُّفُنُ

باد و نه هغه شان نه چليږي لکه څنګه چې بېړۍ يې غواړي."

وَكَانَ السَّفَرُ خَطِرًا لَّا يَدْرِي الْاِنْسَانُ اَيَصِلُ

سفر ډېر خطرناک وو، انسان نه پوهېده چې ايا منزل ته به

اِلَى الْمَنْزِلِ اَمْ يَمُوْتُ فِي الطَّرِيْقِ، فَكَانَ الْوَاحِدُ

رسيږي يا که به په لاره کې مري. نو هر چا به چې

اِذَا اَرَادَ اَنْ يُّسَافِرَ فِيْ سَفِيْنَةٍ شِرَاعِيَّةٍ اَوْصٰى

غوښتل چې په بادي بېړۍ کې سفر وکړي، خپلو خپلوانو

اَقَارِبَهُ وَاَصْدِقَاءَهُ بِدُيُوْنِهِ وَبِمَا عَلَيْهِ، وَكَانَ

او ملګرو ته به يې د خپلو پورونو او واجباتو وصيت کاوه. او

الْاِنْسَانُ لَا يَقْدِرُ اَنْ يَّقُوْلَ: اِنَّهُ يَصِلُ فِيْ شَهْرٍ

انسان نه سواى کولاى چې وو ايي چې په يوه مياشت کې به رسيږي

اَوْ عَامٍ، فَاِنَّهُ يُسَافِرُ فِيْ ظُلُمَاتِ الْبَحْرِ، وَكَانَ دُوْدًا

يا په يوه کال کې، ځکه چې ده به د سمندر په تيارو کې سفر کاوه، او داسي به وو لکه

عَلٰى عُوْدٍ، لَا يَدْرِيْ اَيَمُوْتُ فِي الطَّرِيْقِ اَمْ يَصِلُ
چینجی پر لرګي باندي، نه پوهېدی چي په لاره به مري يا که به روغ رمټ
سَالِمًا وَيَعُوْدُ. وَكَانَ النَّاسُ رَغْمَ ذٰلِكَ كُلِّهٖ
بيرته راستنېږي. سره له دي ټولو خطرونو، خلګو
يُخَاطِرُوْنَ بِاَنْفُسِهِمْ وَاَمْوَالِهِمْ، وَكَانَ الْمُسْلِمُوْنَ
بيا هم خپل ځانونه او مالونه په خطر کي اچول. او مسلمانانو به
يُسَافِرُوْنَ لِلْحَجِّ مِنْ كُلِّ بِلَادٍ، وَلَا يَمْنَعُهُمْ خَطَرٌ
له هر ښاره څخه د حج لپاره سفر کاوه، او دوی به هيڅ خطر او بيري
اَوْ خَوْفٌ مِنَ السَّفَرِ اِلٰى بَيْتِ اللّٰهِ، وَاَدَاءِ فَرِيْضَةِ
د الله تعالی و کور ته له سفر کولو او د حج د فريضې له اداء کولو څخه
الْحَجِّ، فَكَانَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنَ الْهِنْدِ، وَالصِّيْنِ،
نه منعه کوله. نو مسلمانانو به له هندوستان، چين،
وَجَزَائِرِ بَحْرِ الْهِنْدِ، وَكَذٰلِكَ مِنْ مَرَّاكِش وَبِلَادِ
د هندوستان له سمندري ټاپوګانو، او همدارنګه له مراکش او د اندلس
الْاَنْدُلُسِ يُسَافِرُوْنَ كُلَّ عَامٍ لِلْحَجِّ، وَقَدْ يَسْتَغْرِقُ
له ښارونو څخه هر کال د حج لپاره سفر کاوه. او د دوی سفر به
سَفَرُهُمْ عَامًا كَامِلًا اَوْ اَكْثَرَ. وكَانَ الْجَوَّابُوْنَ
يو پوره کال يا زيات وخت نيوی. او ځيني مسافر به

يَسِيْحُوْنَ فِي الْاَرْضِ وَيَرْكَبُوْنَ الْبَحْرَ مِنَ الْمَغْرِبِ
په مځکه کي ګرځېدل او د مغرب له پای څخه به يې د مشرق
الْاَقْصٰى اِلَى الْمَشْرِقِ الْاَقْصٰى، وَكَانَ الْعَالَمُ الْاِسْلَامِيُّ
تر پایه پوري سمندري سفرونه کول. او اسلامي نړۍ داسي وه
كَبَيْتٍ وَّاحِدٍ، وَالْمُسْلِمُوْنَ كَاُسْرَةٍ وَّاحِدَةٍ، يَنَالُ
لکه يو کور، او مسلمانان لکه د يوې کورنۍ غړي. مسافر ته به
الْجَوَّابُ فِي السَّفَرِ كُلَّ مَا يَجِدُهُ فِي الْوَطَنِ. اَهْلًا بِاَهْلٍ
هر هغه څه رسېدل چي په خپل وطن کي به يې کورنۍ په کورنۍ او ګاونډی
وَّجِيْرَانًا بِجِيْرَانٍ. وَقَدْ سَافَرَ ابْنُ بَطُوطَةَ الْمَغْرِبِيُّ
په ګاونډي پيدا کول، او ابن بطوطه مغربي، او ابن جبير
وَابْنُ جُبَيْرٍ الْاَنْدُلُسِيُّ، وَسُلَيْمَانُ التَّاجِرُ، اِلٰى مُعْظَمِ
اندلسي، او سليمان تاجر، په همدي بادي بېړيو کي
الْمَعْمُوْرَةِ بِهٰذِهِ السُّفُنِ.
ډېرو سيمو ته سفرونه کړي دي.

الاسئلة [۱]

(۱) كيف كان الناس يسافرون قديماً؟

(۲) ما فوائد البواخر؟

(۳) شبه الكاتب المسافر فى ظلمات البحر كدود على عود. ما رايك فى هذا التشبيه؟

(۴) سم بعض الرحالة الذين سافروا بالسفن؟

(۵) كان السفر عن طريق البحر مخاطرة. لماذا؟

استخرج المعارف من الجمل التالية:

كان الناس يخافون السفر فى البحار ويتحامونه.

هذه السفن الشراعية تسير ثلاثة اميال فى ساعة

واحدة. اوصى سعد اخاه بالسفر عن طريق البحر.

---

(۱) محترم استاذ دي له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کي ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ۱۲ ن

(۳۹)

اَلْبَاخِرَةُ [۲]

سمندري بېړۍ (دوهمه برخه)

مَضٰى عَلٰى ذٰلِكَ قُرُوْنٌ ثُمَّ بَدَاَ النَّاسُ يُفَكِّرُوْنَ
پر دې باندې ډېرې پېړۍ تېرې سوې، وروسته خلکو فکر کول او اختراعات کول
وَيَخْتَرِعُوْنَ حَتّٰى تَوَصَّلُوْا اِلٰى سَفِيْنَةٍ تَسِيْرُ بِالْبُخَارِ
پیل کړل. تر دې چې دوی هغه بېړۍ ته ورسېدل چې په بخار چلېږي
وَكَانَ ذٰلِكَ بِالتَّدْرِيْجِ، وَفِيْ عِدَّةِ قُرُوْنٍ. كَانَتِ
او دا هر څه په تدريجي ډول او د څو پېړيو په اوږدو کي وسو. مخکي به
السُّفُنُ الشَّرَاعِيَّةُ تَسِيْرُ بِالْمَجَادِيْفِ، وَتَقَدَّمَ
بادي کښتيو د پاروګانو په واسطه حرکت کاوه، او بيا يو هوښيار
بَعْضُ الْاَذْكِيَاءِ فَرَكَّبَ فِيْ سَفِيْنَةٍ عَجَلَةً رَبَطَ بِهَا
سړی را وړاندي سو نو په کښتۍ کي يې دا سي څرخ ولګاوه چې هغه له پاروګانو سره
الْمَجَادِيْفَ، فَاِذَا دَارَتِ الْعَجَلَةُ بَدَاَتِ الْمَجَادِيْفُ
تړل سوی وو. نو کله چي به څرخ وڅرخېدی پاروګانو به حرکت
تَعْمَلُ وَتَمْخُرُ الْمَاءَ. ثُمَّ اهْتَدٰى بَعْضُ الْاَذْكِيَاءِ
شروع کړاو او به يې پوري وهلې. وروسته يو بل هوښيار شخص دا وموندله

اِلٰى اِدَارَةِ الْعَجَلَةِ بِالْبُخَارِ، وَالْاِسْتِغْنَاءِ عَنِ الْيَدِ
چي چي دا څرخ د بخاز په وسيله وڅرخوي، او د كاريګرو له لاسه
الْعَامِلَةِ، وَلَمْ تَزَلِ الصَّنَاعَةُ تَرْتَقِيْ، حَتّٰى ظَهَرَتْ
ځان خلاص كړي، او صنعت (تخنيک) همداسي پرمختګ وکړتر دې چي لومړی
اَوَّلُ سَفِيْنَةٍ بُخَارِيَّةٍ، صَنَعَهَا رَجُلٌ اَمْرِيْكِيٌّ
بخاري كښتۍ رامنځ ته سوه، چي هغه يوه امريكايي سړي جوړه كړه
(اِسْمُهٗ هِلْتَنْ كِلَرْ مَاوُنْت قَطَعَتْ مِائَةَ مِيْلٍ فِيْ اَرْبَعٍ
چي د هغه نوم هلتر كلر ماونټ وو، دې بېړۍ ۱۰۰ ميله سفر
وَّعِشْرِيْنَ سَاعَةً. وَلَمْ تَزَلِ السُّفُنُ الْبُخَارِيَّةُ
په ۲۴ ساعتونو كي وكړ. بخاري بېړيو همداسي
تَتَقَدَّمُ فِي السُّرْعَةِ وَالْقُوَّةِ، حَتّٰى اَصْبَحَتْ تَعْبُرُ
په سرعت او ځواک كي پرمختګ وكړ. تر دې چي اوس د اطلس سمندر
الْبَحْرَ الْاَطْلَانْتِيْكِيَّ بَيْنَ اِنْكِلْتَرَةَ وَاَمْرِيْكَةَ
د انګلستان او امريكا ترمنځ په پنځو ورځو كي
فِيْ خَمْسَةِ اَيَّامٍ، وَكَانَ السَّفَرُ فِيْ هٰذَا الْبَحْرِ يَاْخُذُ
قطع كوي. حال دا چي پخوا به په همدې سمندر كي سفر دوې مياشتي
شَهْرَيْنِ. وَالْبَاخِرَةُ كَالْقَاطِرَةِ تَسِيْرُ بِقُوَّةِ الْبُخَارِ،
وخت نيوى. بخاري بېړۍ لكه د اورګاډي انجن د بخار په وسيله حركت كوي.

فَاِنَّـهُ يُـدِيْرُ الْعَجَلَةَ، وَالْعَجَلَةُ مُتَّصِلَةٌ بِـاٰلاتٍ

بخار څرخونو ته حرکت ورکوي، او دا څرخونه له هغو آلو سره وصل دي،

تَتَحَرَّكُ الْبَاخِرَةُ بِدَوَرَانِهَا وَتَسِيْرُ. وَكَذٰلِكَ هُنَالِكَ

چې بېړۍ د هغو په څرخېدلو حرکت کوي او چلېږي. او همدا ډول هلته

اٰلاتٌ تُوَجِّهُ الْبَاخِرَةَ مِنْ جِهَةٍ اِلٰى جِهَةٍ، وَتُسَخِّرُهَا

نور آلات هم سته، چې بېړۍ له يوې خوا بلې خوا ته اړوي. او هغه بېړۍ چلوونکي ته

لِلرُّبَّانِ يَسِيْرُ بِهَا كَيْفَ يَشَاءُ. وَقَدْ تَقَدَّمَتِ

دا واک ورکوي چې څه ډول يې خوښه وي، بېړۍ هغسې وچلوي، او سوداګري

التِّجَارَةُ تَقَدُّمًا عَظِيْمًا، وَاَصْبَحَ النَّاسُ يُسَافِرُوْنَ

په ډېر پرمختګ سره مخ ته ولاړه، خلګ اوس په سمندر کې

فِي الْبَحْرِ عَلٰى مَتْنِ الْبَاخِرَةِ كَاَنَّهُمْ يُسَافِرُوْنَ

په بخاري بېړيو کې داسې سفر کوي لکه دوی چې په وچه کې

فِي الْبَرِّ عَلَى الْقِطَارِ، اَوْ مُطْمَئِنُّوْنَ فِي الْبَلَدِ وَجَالِسُوْنَ

اورګاډي کې سفر کوي، او داسې آرام وي لکه په ښار کې چې په خپل کور کې

فِي الدَّارِ. وَكَبُرَتِ الْمَرَاكِبُ وَتَوَسَّعَتْ، حَتّٰى كَاَنَّهَا

ناست وي. بېړۍ غټې سوې او پراخې سوې، تر دې چې دا بېړۍ داسې سوې لکه دا چې

حَارَةٌ مِّنْ حَارَاتِ الْبَلَدِ، اَوْ قَرْيَةٌ صَغِيْرَةٌ، فِيْهَا

د ښار له ناحيو (کليو) څخه يوه ناحيه وي او يا يو کوچنی کلی وي، په هغو کې

اَلْمَطْعَمُ وَالْمَلْعَبُ وَمُنْتَزَهَاتٌ، وَتَحْمِلُ مِنَ الرُّكَّابِ
خوړنځايونه، لوبغالي او تفريحي پاركونه سته، او له پنځو سوو څخه
مِنْ خَمْسِ مِائَةٍ اِلٰى اَلْفٍ. وَاِذَا رَاَى الْاِنْسَانُ السُّفُنَ
ترزرو تنو پورې سپارايان لېږدوي، او كله چې انسان بادباني
الشَّرَاعِيَّةَ وَالْمَرَاكِبَ الْبُخَارِيَّةَ تَجْرِیْ فِي الْبَحْرِ
كښتۍ او بخاري بېړۍ ويني چې په سمندر كې
رُخَاءً تَعَجَّبَ، وَرَاٰى تَصْدِيْقَ قَوْلِهٖ تَعَالٰى:
آرامې چلېږي، حيران به سي، او د الله تعالی د دې قول رښتينولي به ويني چې:
﴿وَسَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ لِتَجْرِیَ فِي الْبَحْرِ بِاَمْرِهٖ،
او الله تاسو ته بېړۍ مسخرې كړې دي، چې د هغه په حكم په سمندر كې چلېږي،
وَسَخَّرَ لَكُمُ الْاَنْهٰرَ﴾. (ابراهيم: ٣٢)
او تاسو ته يې سيندونه تابع كړې دي.

الاسئلة [١]

(١) بای شیء تسیر السفن الشراعیة؟

(٢) ما فوائد ادارة العجلة بالبخار؟

(٣) ما اسم مخترِع اول سفینة بخاریة؟

(٤) ماذا یسمی قائد السفینة؟

(٥) شبه الكاتب المراكب الحديثة كأنها حارة من حارات البلد ما رأيك فی هذا التشبيه؟

بين احرف الزيادة فی كل من الافعال التالية:

توصلوا، تقدم، ظهرت، تسخرها، صالح.

---

(١) محترم استاذ دي له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کي ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(٤٠)

جِسْمُ الطُّيُوْرِ

د مرغانو بدن

اِنَّ اللّٰهَ وَهَبَ لِكُلِّ حَيَوَانٍ صَغِيْرٍ وَكَبِيْرٍ جِسْمًا
بېشکه الله تعالی هر کوچني او لوی حيوان ته داسي بدن ورکړی دئ،
لَائِقًا، وَاَعْضَاءً يَسْتَعِيْنُ بِهَا عَلٰى قَضَاءِ حَوَائِجِهٖ،
چي مناسب وي، او داسي غړي چي په هغو سره خپل ضرورتونه پوره کړي،
وَتَحْصِيْلِ قُوْتِهٖ، وَسِلَاحًا يُّدَافِعُ بِهٖ عَنْ نَّفْسِهٖ،
او خپل خوراک په ترلاسه کړي، او داسي وسلې چې په هغو سره خپل ځان وساتي،
فَهُوَ الَّذِىْ اَعْطٰى كُلَّ شَىْءٍ خَلْقَهٗ ثُمَّ هَدٰى.
نو الله هغه ذات دئ، چي هر څه ته يې د هغه پيدا ايښت ورکړ، بيا يې لار وروښوده.
اُنْظُرُوْا اِلَى الْفِيْلِ كَيْفَ مَدَّ اللّٰهُ فِىْ اَنْفِهٖ لِيَسْتَخْدِمَهٗ
تاسو فيل ته وګورئ! الله تعالی څنګه د هغه پوزه اوږده کړې، ترڅو هغه د خپلو اړتياؤ
فِىْ حَوَائِجِهٖ، وَيَتَنَاوَلَ بِهِ الطَّعَامَ وَالْمَاءَ، وَيُوَجِّهَهٗ
لپاره وکاروي، او په هغه سره خوراک او اوبه واخلي، او هري خوا ته يې
حَيْثُ شَاءَ، وَفِىْ طَرَفِهٖ زَائِدَةٌ يَلْتَقِطُ بِهَا الْاَشْيَاءَ
چي خوښه سي، ويې ګرځوي، او د هغه په طرف کي اضافه برخه ده چي په هغه سره باريک

الدَّقِيْقَةَ، وَقَدْ قَرَأْتُمْ اَنَّ الْجَمَلَ رَقَبَتُهُ طَوِيْلَةٌ،
شيان راټول کړي، او تاسو لوستي دي، چې د اوښ غاړه اوږده ده،
لِاَنَّهُ كَبِيْرُ الْجِسْمِ، طَوِيْلُ الْاَرْجُلِ فَلَوْ كَانَتْ
ځکه چې د هغه بدن غټ دئ، او پښې يې اوږدې دي، نو که چيرې د هغه
رَقَبَتُهُ قَصِيْرَةً لَمْ يُمْكِنُهُ اَنْ يَّرْعَى الْكَلَاَ مِنَ الْاَرْضِ
غاړه لنډه وای، نه يې سوای کولای چې له مځکې شخه واښه وخوري،
حَتّٰى يَبْرُكَ، وَفِيْ ذٰلِكَ تَعَبٌ عَظِيْمٌ، وَشُغْلٌ كَثِيْرٌ،
ترڅو چې تيټ نه سي، او په دې کې لوی تکليف او زيات مصروفيت وو،
فَمَدَّ اللهُ فِيْ عُنُقِهِ، وَرَاْسُهُ صَغِيْرٌ، فَكَانَ خَفِيْفَ
نو الله تعالی د هغه غاړه اوږده کړه، او د هغه سر کوچنی دی، نو دا د هغه پر غاړه
الْحَمْلِ عَلٰى رَقَبَتِهِ وَلَمَّا قَدَّرَ اللهُ اَنْ يَّكُوْنَ الْجَمَلُ
باندې سپک بار دئ، او کله چې الله تعالی دا پريکړه وکړه، چې اوښ دې
سَفِيْنَةَ الصَّحْرَاءِ جَعَلَ اَرْجُلَهَا مُنَاسِبَةً لِّذٰلِكَ،
د صحرا بېړۍ وي، نو د هغه پښې يې د همدې لپاره مناسبې وګرځولې
فَلَا تَسُوْخُ فِي الرِّمَالِ، وَخَلَقَ فِيْ جَوْفِهِ كُرُوْشًا
نو هغه په ريګو کې نه ننوځي، او د هغه په نس کې يې داسې ذخيرې او ځايونه
وَّاَزْقَاقًا يَّخْزُنُ فِيْهَا الْغِذَاءَ وَالْمَاءَ، لِاَنَّ السَّفَرَ
پيدا کړل، چې په هغو کې خوراک او اوبه ذخيره کړي، ځکه چې په صحرا کې

فِي الصَّحْرَاءِ يَحْتَاجُ اِلٰى ذٰلِكَ كَثِيْرًا. اُنْظُرُوْا
سفرو دې ته ډېر زيات ضرورت لري. تاسو وګورئ
اِلَى الْقَنْغَرِ وَالْاَرْنَبِ، تَرَوْا رِجْلَيْهِمَا الْخَلْفِيَّتَيْنِ
کانګرو او سوسۍ ته، تاسو به ووينئ، چې د دوی د شا دوې پښې
طَوِيْلَتَيْنِ وَكَبِيْرَتَيْنِ، وَرِجْلَيْهِمَا الْاَمَامِيَّتَيْنِ
اوږدې او غټې دي او د دوی د مخ دوې پښې
صَغِيْرَتَيْنِ وَقَصِيْرَتَيْنِ، لِيُمْكِنَهُمَا الْجَرْيِ قَفْزًا،
کوچنۍ او لنډې دي، ترڅو دوی وکولای سي په ټوپ وهلو سره منډې ووهي،
وَفِيْ قَدَمَيِ الرِّجْلَيْنِ الْخَلْفِيَّتَيْنِ لِلْقَنْغَرِ ظِلْفٌ
او د کانګرو د شا دوو پښو په تلو کې نوک دئ،
حَادٌّ جِدًّا، هُوَ سِلَاحُهُ يَبْقَرُ بِهِ بَطْنَ عَدُوِّهِ
چې ډېره تېره دئ، دا د هغه وسله ده، چې د هغه په يوه ضربه سره د خپل دښمن
بِطَعْنَةٍ وَّاحِدَةٍ. كَذٰلِكَ الطُّيُوْرُ، فَفِيْ جِسْمِهَا
نس څيروي، همدا ډول مرغان هم دي، د دوی په بدن
وخِلْقَتِهَا اٰيَاتٌ لِلّٰهِ فَقَدْ كَسَا اللّٰهُ جِسْمَهَا بِالرِّيْشِ
او پيدايښت کې د الله تعالی نښې دي، الله تعالی د دوی بدن په بڼکو پوښلی دئ
لِاَنَّهُ اَخَفُّ لِلطَّيَرَانِ، وَجَعَلَ عِظَامَ الطَّائِرِ رَقِيْقَةً
ځکه چې دا د الوتلو لپاره سپکې دي، او د مرغانو هډوکي يې نرې او منځونه يې

جَوْفَاءَ فَلَا يَعُوْقُهُ ثِقْلُ رِيْشٍ اَوْ جِسْمٍ عَنِ الطَّيَرَانِ

تش پيدا کړي دي، نو د بڼکو يا بدن دروند والی يې د الوتلو څخه نه منع کوي،

ثُمَّ وَهَبَ اَنْوَاعَ الطُّيُوْرِ اَنْوَاعًا مِّنَ الْمَنَاقِيْرِ تَخْتَلِفُ

بيا الله تعالی مختلفو مرغانو ته مختلف ډوله مشوکي ورکړې دي، چې د مرغانو

بِاخْتِلَافِ طَبِيْعَةِ الطَّيْرِ وَغِذَائِهِ وَعَادَاتِهِ، وَكَذٰلِكَ

د طبيعت، خوراک او عادتونو سره سم توپير لري، همدا ډول

يَخْتَلِفُ تَرْكِيْبُ اَقْدَامِهِ اُنْظُرْ اِلَى الْعَصَافِيْرِ وَالْحَمَامِ

د دوی د پښو جوړښت هم فرق لري، ته وګوره وچوغکو، کوترو،

وَالْيَمَامِ وَالْغِرْبَانِ، لَيْسَتْ اَجْسَامُهَا عَالِيَةً وَاَنَّهَا

ګوګو کوترو او کارغانو ته، د دوی بدنونه لوړ نه دي، او دوی

تَلْقُطُ حَبًّا صَغِيْرًا مِّنَ الْاَرْضِ، فَلَمْ تَكُنْ فِيْ حَاجَةٍ

له مځکې څخه وړې دانې ټولوي، نو د دوی و اوږدو

اِلٰى طُوْلِ الْاَعْنَاقِ، وَمَنَاقِيْرُهَا مُسْتَقِيْمَةٌ وَّقَصِيْرَةٌ

غاړو ته اړتيا نه سته، او د دوی مشوکي مستقيمي (سيده) او لنډې دي،

تُعِيْنُهَا فِيْ حَاجَاتِهَا. اُنْظُرْ اِلَى الطُّيُوْرِ الَّتِيْ تَعِيْشُ

چې د دوی سره په حاجتونو کې مرسته کوي. وګورئ هغه مرغانو ته چې په اوبو کې

فِي الْمَاءِ وَتَبْحَثُ عَنْ قُوْتِهَا فِي الْمَاءِ كَالْبَطِّ وَاللَّقْلَقِ

ژوند کوي، او خپل خوراک په اوبو کې لټوي، لکه هيلۍ او لک لک مرغه،

تَرَ اَعْنَاقَهَا وَمَنَاقِيْرَهَا طَوِيْلَةً لِاَنَّهَا تُرْسِلُ مَنَاقِيْرَهَا

ته به د دوی غاړي او مشوکي اوږدي ووينې، ځکه چي دوی خپلي مشوکي

فِيْ اَعْمَاقِ الْاَنْهَارِ وَالْبِرَكِ، وَتَسْتَخْرِجُ قُوْتَهَا

د سيندونو او ډنډونو تل ته ليږي، او له هغه ځايه خپل

مِنْ اَحْشَائِهَا، فَخَلَقَ اللّٰهُ لَهَا اَعْنَاقًا طَوِيْلَةً،

خوراک راباسي، نو الله تعالى دوی ته اوږدې غاړي پيدا کړې

وَمَنَاقِيْرَ مُسْتَقِيْمَةً وَطَوِيْلَةً كَذٰلِكَ. وَانْظُرْ

او همدا راز يې مشوکي هم سيده او اوږدې دي، او وګوره

اِلَى الطُّيُوْرِ الَّتِيْ تَقْتَاتُ بِاللَّحْمِ وَالْفَاكِهَةِ وَتَاْكُلُهَا

هغه مرغانو ته چي غوښه او ميوه خوري، او هغه ټوټه ټوټه کوي

نَهْشًا كَالْحِدَاءِ وَالنُّسُوْرِ وَالصُّقُوْرِ لَا تَجِدُ مَنَاقِيْرَهَا

او خوري يې، بازان، عقابان او ټپوسان، د هغوی مشوکي مستقيمې

مُسْتَقِيْمَةً، لِاَنَّهَا لَا تُغْنِيْ عَنْهَا وَلَا تَقْضِيْ حَاجَتَهَا،

نه مونډل کيږي، ځکه چي هغه دوی ته ګټه نه رسوي او نه يې پرې اړتياوي پوره کيږی

فَخَلَقَ اللّٰهُ لَهَا مَنَاقِيْرَ مُتَقَوِّسَةً حَادَّةَ الطَّرْفِ،

نو الله تعالى دوی ته قوسي (کږې)، تېرې څوکې مشوکي پيدا کړې،

وَيَكُوْنُ طَرْفُهَا الْاَعْلٰى مُتَقَدِّمًا مُتَقَوِّسًا، فَيُعِيْنُهَا

او د دوی د مشوکي پورته اړخ مخکي وتلي تېرې تاو سوي وي، نو هغه له دوی سره

فِيْ نَهْشِ اللُّحُوْمِ وَقَرْضِ الْفَوَاكِهِ وَفِي الْعَضِّ عَلَيْهَا.

د غوښو په ټوټه ټوټه کولو، د مېوو په چيچلو او په ژوولو کي مرسته کوي.

كَذٰلِكَ اِذَا نَظَرْنَا اِلٰى اَرْجُلِ الطُّيُوْرِ وَمَخَالِبِهَا،

همدا ډول کله چي د مرغانو پښو او د هغوی پنجو ته وګورو،

رَاَيْنَا بَيْنَهَا فَرْقًا بِحَسَبِ اَنْوَاعِ الطُّيُوْرِ وَطَبَائِعِهَا

نو موږ به د هغو تر منځ د مرغانو د اقسامو، د هغوی د طبيعتونو، د هغوی د عادتونو

وَعَادَاتِهَا، وَغِذَائِهَا. فَالطُّيُوْرُ الَّتِيْ تَعِيْشُ عَلَى الْبَرِّ،

او د هغوی د غذا ګانو له مخي فرق ووينو. نو هغه مرغان چي پر وچه ژوند کوي،

وَتَلْتَقِطُ الْحَبَّ لَيْسَتْ اَرْجُلُهَا طَوِيْلَةٌ وَاَنَّهَا تَرْفَعُ

او دانه ټولوي، د هغو پښې اوږدې نه دي، او دوی دواړې پښې

رِجْلَيْهَا فِيْ وَقْتٍ وَاحِدٍ، وَتَمْشِيْ وَثْبًا. وَاَمَّا الطُّيُوْرُ الَّتِيْ

يو ځای (په يوه وخت کي) پورته کوي او په غورځېدو تګ کوي. او هغه مرغان

تَعِيْشُ فِي الْمَاءِ وَتَصِيْدُ السَّمَكَ وَهَوَامَّ الْمَاءِ

چي په اوبو کوي ژوند کوي او ماهيان او د اوبو ژوي ښکار کوي

فَاِنَّهَا تُقَدِّمُ رِجْلًا فِي الْمَشْيِ وَتُؤَخِّرُ اُخْرٰى

نو هغوی خپله يوه پښه په تګ کي مخکي کوي او بل وروسته کوي

كَالْاِنْسَانِ وَتَمْشِيْ رُوَيْدًا. فَاِنَّهَا اِذَا وَثَبَتْ وَثَبَاتٍ

لکه انسان او په آرمه تګ کوي، دا ځکه چي کله دوی څو ځله ټوپونه ووهي

اَوْ قَفَزَتْ اَفْلَتَهَا الصَّيْدُ. كَذٰلِكَ الطُّيُوْرُ الَّتِيْ تَسْبَحُ

او وغورځي نو ښكار يې تښتي، همدا راز هغه مرغان چې په اوبو كې

فِي الْمَاءِ وَتَصِيْدُ فَلَهَا جِلْدٌ رَقِيْقٌ فِيْ مَخَالِبِهَا يَصِلُ

لامبو وهي او ښكار كوي، نو د دوى په منګولو كې يو نرى پوستكى وي چې د ګوتو

بَيْنَ اَصَابِعِهَا، فَتَنْتَشِرُ مَخَالِبُهَا كَالْمِظَلَّاتِ اِذَا

تر منځ يې نښتى وي، نو دوى خپلې منګولې غوړوي لكه سايوان، كله چې

نُشِرَتْ وَتُسَاعِدُهَا فِي السَّبَاحَةِ مُسَاعَدَةً عَالِيَةً

وغوړيږي او په لامبو وهلو (آب بازي كولو) كې په لوړه كچه مرسته كوي.

وَالطُّيُوْرُ الَّتِيْ تَقْتَاتُ بِاللَّحْمِ لَهَا اَرْجُلٌ قَوِيَّةٌ

او هغه مرغان چې غوښه خوري، د دوى پښې قوي دي،

وَمَخَالِبُ كَبِيْرَةٌ، وَفِيْ اَصَابِعِهَا اَظْفَارٌ مُتَقَوِّسَةٌ حَادَّةٌ

او د دوى پنجې غټې دي، او د دوى په ګوتو كې تاو سوي نوكان وي چې ثوكې يې

الْاَطْرَافِ تُسَاعِدُهَا فِيْ نَهْشِ اللُّحُوْمِ، وَتَقُوْمُ

تېرې وي، چې له دوى سره د غوښې شيرلو كې مرسته كوي، او د دوى پښې

اَرْجُلُهَا وَمَخَالِبُهَا مَقَامَ الْاَرْجُلِ وَالْاَيْدِيْ،

او د دوى پنجې د پښو او لاسونو پر ځاى دريږي (د پښو او لاسو كار كوي).

فَاِذَا مَشَتْ كَانَتْ لَهَا اَرْجُلًا تَمْشِيْ بِهَا، وَاِذَا

نو كله چې دوى تګ كوي، د دوى پښې وي او تګ پرې كوي، او كله چې

طَارَتْ اَوْ اَرَادَتْ اَنْ تَأْكُلَ كَانَتْ لَهَا اَيْدِيًا تَبْطِشُ
دوی الوزي يا غواړي چي خوراک وکړي، نو دا د دوی لاسونه وي چي نيول پرې کوي
وَهٰذَا النَّوْعُ مِنَ الطَّيْرِ قَدْ يُمْسِكُ عُوْدًا اَوْ قِطْعَةَ
او دا ډول مرغان يو لرګی يا د غوښې يوه ټوټه
لَحْمٍ وَيَطِيْرُ فِي الْجَوِّ وَيَسْتَقِلُّ بِهِ فَلَا يَسْقُطُ مِنْ
نيسي او په هوا کي الوت کوي، او له دې څخه خپلواک وي، نو د دوی له لاسه څخه
يَدِهِ وَكَثِيْرًا مَّا رَاَيْنَا الْبَازِيَّ قَدْ قَبَضَ
نه لوېږي، او موږ ډېر کله وينو چي يو بازيو غټ مرغه
عَلٰى طَائِرٍ كَبِيْرٍ بِمَخَالِبِهِ وَطَارَ بِهِ اِلٰى عُشِّهِ
په خپلو پنجو کي نيولی وي او هغه الوزوي او خپلي ځالي ته يې وړی
وَاَكَلَهُ هُنَالِكَ اٰمِنًا مُّطْمَئِنًّا.
او هلته يې ښه په بې غمی او آرامتيا سره خوري.

الاسئلة [١]

(١) ما فائدة المنقار للطائر؟

(٢) لم طالت اعناق ومناقير الطيور المائية؟

(٣) ما صفة ارجل ومخالب لطيور آكلة اللحوم؟

(٤) ما فائدة المناقير المتقوسة والحادة الطرف عند النسور والصقور؟

(٥) لم كانت عظام الطائر رقيقة جوفاء؟

ميز فيما يلي انواع الافعال الثلاثية الصحيحة والمعتلة:

وجد، سقى، صدق، نضح، شد.

(١) محترم استاذ دې له شاگردانو څخه د دې سوالونو تر څنگه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاگردانو کې ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(۴۱)

شِيْرُ شَاهِ السُّوْرِيُّ سُلْطَانُ الْهِنْدِ [١]

شېر شاه سوري، د هندوستان سلطان

(لومړۍ برخه)

كَانَ شِيْرُ شَاه مِنْ خِيَارِ السَّلَاطِيْنِ، عَادِلًا بَاذِلًا رَحِيْمًا
شېر شاه له غوره سلاطينو (بادشاهانو) څخه وو، عادل، سخي، مهربان،
شُجَاعًا مِّقْدَامًا وَكَانَ اَبُوْهُ مِنْ اَوْسَاطِ النَّاسِ وَكَانَ
زړور او مخکښ وو. د هغه پلار له عامو خلکو څخه وو. او
شِيْرُ شَاهُ يَتَعَلَّمُ فِيْ جَوْنْ بُوْرَ وَيَقْرَاُ الْكُتُبَ الدَّرْسِيَّةَ
شېر شاه په جوانپور کې زده کړې کولې او درسي کتابونه يې لوستل.
وَلَمْ يَزَلْ يَجْتَهِدُ وَيَرْتَقِيْ حَتّٰى نَالَ الْمُلْكَ. وَكَانَ
هغه دوامداره هڅه وکړه او پرمختګ يې وکړ ترڅو چې باچاهۍ ته ورسېد. او
وَزَّعَ اَوْقَاتَهُ مِنْ يَّوْمٍ وَّلَيْلَةٍ، شَطْرًا مِنْهَا لِلْعِبَادَةِ
هغه د خپلې ورځې او شپې وخت داسې ويشلي وو: يوه برخه د عبادت لپاره وه
وَشَطْرًا لِّلْعَدْلِ وَالْقَضَاءِ، وَبَعْضَهَا لِاِصْلَاحِ الْعَسْكَرِ
يوه برخه يې د عدالت او قضاء لپاره وه، او يوه برخه يې د پوځ د اصلاح لپاره وه.

فَكَانَ يَنْتَبِهُ مِنَ النَّوْمِ فِيْ ثُلُثِ اللَّيْلِ الْاٰخِرِ،

هغه به د شپې په وروستی دريمه برخه کې له خوبه راپاڅېده،

وَيَغْتَسِلُ وَيَتَهَجَّدُ وَيَشْتَغِلُ بِالْاَوْرَادِ اِلٰى اَرْبَعِ

غسل يې کاوه او تهجد يې کاوه او تر څلورو ساعتونو پورې به په اذکارو

سَاعَاتٍ، ثُمَّ يَنْظُرُ فِيْ حِسَابَاتِ الْاِدَارَاتِ الْمُخْتَلِفَةِ،

بوخت وو، وروسته به يې د مختلفو ادارو حسابونه کتل،

وَيُرْشِدُ الْاُمَرَاءَ فِيْ مَا يُهِمُّهُمْ مِنَ الْاُمُوْرِ فِيْ ذٰلِكَ

او اميرانو ته به يې د هغو شيانو لارښوونه کوله چې په نن ورځ کې به ورته

الْيَوْمِ وَيَهْدِيْهِمْ اِلٰى بَرْنَامَجِ الْعَمَلِ لِئَلَّا يُشَوِّشُوْا

مهم وه، او د هغوی لپاره به يې د کاريو پلان (پروګرام) چمتو کاوه د دې لپاره چې

اَوْقَاتَهُ بَعْدَ ذٰلِكَ بِالْاَسْئِلَةِ، ثُمَّ يَقُوْمُ وَيَتَوَضَّأُ

تر هغه وروسته په پوښتنو سره وخت ضايع نه کړي، بيا به ولاړېدی او د سهار د لمانځه

لِصَلٰوةِ الْفَجْرِ وَيُصَلِّيْهَا بِالْجَمَاعَةِ، ثُمَّ يَقْرَأُ

لپاره به يې اودس کاوه او لمونځ به يې په جماعت سره کاوه، وروسته به يې مسبعات

الْمُسَبَّعَاتِ الْعَشَرَ وَغَيْرَهَا مِنَ الْاَوْرَادِ، ثُمَّ يَحْضُرُ

العشر (لس سورتونه) او نور اذکار لوستل، وروسته به د اميرانو

لَدَيْهِ الْاُمَرَاءَ فَيُسَلِّمُوْنَ عَلَيْهِ، ثُمَّ يَقُوْمُ وَيُصَلِّيْ

په وړاندې حاضرېدی او سلام به يې ورته وايه، بيا به ولاړ،سو او د اشراق

صَلٰوةَ الْاِشْرَاقِ، ثُمَّ يَسْئَلُ النَّاسَ عَنْ حَوَائِجِهِمْ

لمونځ به يې اداء کړ، وروسته به يې له خلکو څخه د هغوی ضرورتونه پوښتل

وَيُعْطِيهِمْ مَّا يَحْتَاجُوْنَ اِلَيْهِ، مِنْ خَيْلٍ، وَاَقْطَاعٍ،

او هغوی به يې هغه څه ورکول چې اړتيا يې ورته درلوده، لکه آسونه، ځمکې،

وَاَمْوَالٍ، وَغَيْرِ ذٰلِكَ، لِئَلَّا يَسْئَلُوْهُ فِيْ غَيْرِ ذٰلِكَ

پيسې او داسې نور ... د دې لپاره چې هغوی ترې له دغه وخته څخه ماسپوا بل وخت

مِنَ الْاَوْقَاتِ ثُمَّ يَتَوَجَّهُ اِلَى الْمَظْلُوْمِيْنَ وَالْمُسْتَغِيْثِيْنَ

غوښتنه ونه کړي، وروسته به يې مظلومانو او کومک غوښتونکو ته مخه کوله

وَيَجْتَهِدُ فِيْ اِغَاثَتِهِمْ. وَمِنْ عَوَائِدِهٖ بَعْدَ الْاِشْرَاقِ

او د هغوی په فريادونو کې به يې کوښښ کاوه، او د هغه له عادتونو څخه وو چې تر اشراق

اَنَّهٗ اَلْزَمَ نَفْسَهٗ اَنْ يُّعْرَضَ عَلَيْهِ الْعَسَاكِرُ فَيَنْظُرُ

وروسته يې پر ځان لازمه کړې وه چې پوځيانو ته به ورتلی، نو هغوی او

اِلَيْهِمْ وَاِلٰى اَسْلِحَتِهِمْ، ثُمَّ يُعْرَضُ عَلَيْهِ مَنْ يُّرِيْدُ

د هغوی وسلې به يې کتلې، وروسته به هغوی کسانو ته ورتلی چې غوښتل يې

اَنْ يَّثْبُتَ فِي الْعَسْكَرِيَّةِ، فَيَتَكَلَّمُ مَعَهٗ وَيَخْتَبِرُهٗ،

په پوځيانو کې شامل کړل سي، له هغوی سره به يې خبري کولې او ازمويل به يې.

ثُمَّ يَأْمُرُ اَنْ يُّثْبَتَ اسْمُهٗ فِي الْعَسْكَرِيَّةِ ثُمَّ يُعْرَضُ

وروسته به يې امر کاوه چې د هغه نوم په پوځيانو کې شامل سي، وروسته به هغه ته

عَلَيْهِ الْجِبَايَاتُ الَّتِيْ تُوْرَدُ عَلَيْهِ مِنْ بِلَادِهٖ كُلَّ يَوْمٍ
هغه ماليات وړاندي کېدل چي هره ورځ به له ښارونو څخه ورته راتولېدله
ثُمَّ يَتَمَثَّلُ بَيْنَ يَدَيْهِ الْأُمَرَاءُ وَالْمَرَازِبَةُ، وَسُفَرَاءُ
وروسته به د هغه په حضور کي اميران، سرحدي ساتونکي، د دولتونو سفيران
الدُّوَلِ وَالْوُكَلَاءُ، فَيَتَحَدَّثُ مَعَهُمْ ثُمَّ تُعْرَضُ
او وکيلان حاضرېدل، له هغوی سره به يې خبري کولې، وروسته به هغه ته
عَلَيْهِ عَرَائِضُ الْأُمَرَاءِ وَالْعُمَّالِ، فَيَسْمَعُهَا وَيُمْلِيْ
د اميرانو او کاريګرو عريضې وړاندي کېدلې، نو هغه به يې اورېدلې او جوابونه به يې
جَوَابَهَا، ثُمَّ يَقُوْمُ وَيُقْبِلُ إِلَى الطَّعَامِ، وَعَلٰى مَائِدَتِهٖ
ورته ليکله، وروسته به ولاړېدی او ډوډی به يې خوړله او د هغه پر سترخان به
جَمَاعَةٌ مِّنَ الْعُلَمَاءِ وَالْمَشَايِخِ، ثُمَّ يَشْتَغِلُ نَحْوَ
د علماء او شيخانو ډله ناسته وه، وروسته به دوه ساعته قدر په خپلو
سَاعَتَيْنِ بِأُمُوْرٍ خُصُوْصِيَّةٍ، وَيَقِيْلُ إِلٰى وَقْتِ الظُّهْرِ
شخصي چارو مصروفه وو، تر ماپښينه به يې قيلوله (آرام) کاوه.
ثُمَّ يَقُوْمُ وَيُصَلِّيْ بِجَمَاعَةٍ، وَيَشْتَغِلُ بِتِلَاوَةِ
بيا به ولاړ سو او د ماپښين لمونځ به يې په جماعت وکړ، او د قرآن کريم
الْقُرْاٰنِ الْحَكِيْمِ ثُمَّ بِمُهِمَّاتِ الْأُمُوْرِ لِلدَّوْلَةِ وَكَانَ
په تلاوت به بوخت سو. وروسته به د دولت په مهمو چارو بوخت سو. او هغه به

لَا يَتْرُكُ شَيْئًا مِّنْ ذٰلِكَ فِيْ ظَعْنٍ وَّلَا اِقَامَةٍ، وَكَانَ

له دي عادتونو څخه هيڅ شی نه په سفر کي پرېښاوه او نه په کور کي. او هغه به

يَقُوْلُ: اَلرَّجُلُ الْكَبِيْرُ مَنْ يَّصْرِفُ اَوْقَاتَهُ فِي الْاُمُوْرِ

ويل: "لوی انسان هغه دئ چي خپل وختونه په مهمو کارونو کي مصرف

الْمُهِمَّةِ. وَكَانَ يَتَوَجَّهُ اِلَى الْمُهِمَّاتِ وَيُبَاشِرُ الْاُمُوْرَ

کړي." او هغه به مهمو چارو ته توجه او د کارونو څارنه

بِنَفْسِهِ، وَيَقُوْلُ: لَا يَنْبَغِيْ لِصَاحِبِ الْاَمْرِ اَنْ

پخپله کوله، او ويل به يې: يو صاحب امر (چارواکی) ته مناسبه نه ده چي

يَّسْتَصْغِرَ مَا يُهِمُّهُ مِنَ الْاُمُوْرِ نَظَرًا اِلٰى عُلُوِّ

خپل يو مهم کار و خپلي لوړي مرتبې ته په کتلو سره کوچنی وګڼي

مَرْتَبَتِهِ فَيُلْقِيَهَا عَلٰى مَنْ حَوْلَهُ مِنْ رِّجَالِهِ، لِاَنَّهُمْ

نو هغه کار و يو داسي سړي ته وسپاري چي د ده پر شا وخوا وي، ځکه چي هغوی

لَا يَجْتَهِدُوْنَ فِيْهَا، وَرُبَّمَا يَتَغَافَلُوْنَ عَنْهَا طَمَعًا

په دي کار کي کوښښ نه کوي، او ډېر ځله په هغه کار کي د يوې طمعي او رشوت لپاره

وَارْتِشَاءً. وَكَانَ يُعَاقِبُ الْبُغَاةَ وَقُطَّاعَ السُّبُلِ

بې پروايي کوي، او هغه به باغيانو، لار شکوونکو او ظالمانو ته

وَالظَّلَمَةَ اَشَدَّ عُقُوْبَةٍ، وَيُعَزِّرُهُمْ اَشَدَّ تَعْزِيْرٍ،

ډېره سته سزا ورکوله، او په ډېري سختۍ سره به يې تعزير وله

وَكَانَ لَا تَأْخُذُهُ بِهِمْ رَأْفَةٌ وَّاِنْ كَانُوْا مِنْ اَصْهَارِهِ
او له هغوی سره به يې هيڅ نرمي نه کوله که څه هم هغوی به يې له نږدې کسانو
وَاَقْرِبَائِهِ.
او خپلوانو څخه وه.

الاسئلة (١)

(١) اين تعلم شير شاه السورى؟

(٢) كيف نال الملك؟

(٣) ما هى الاعمال التى وزع فيها اوقاته؟

(٤) ما هى الصفات التى امتاز بها السورى عن اقرانه؟

(٥) حول المركبات الآتية الى الجمل الاسمية

وادخل عليها الحروف المشبهة بالفعل؟

ابوه الكريم، اوساط الناس، صاحب الامر والنهى، السفراء الكرام، دول ثرية، موارد الحكومة، السلطان العادل.

---

(١) محترم استاذ دې له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کې ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(۴۲)

شِيْر شَاهِ السُّوْرِیُّ سُلْطَانُ الْهِنْدِ [۲]

شېر شاه سوري، د هندوستان سلطان (دوهمه برخه)

وَمِنْ مَّاثِرِهِ اَنَّهُ اَسَّسَ شَارِعًا كَبِيْرًا مِّنْ سُنَارْ
او د هغه له کارنامو څخه دا وو چې هغه يو لوی سړک جوړ کړ چې له سنار
كَاوُنْ اَقْصٰى بِلَادِ بَنْگَالَهْ اِلٰى مَاءِ نِيْلَابَ مِنْ اَرْضِ
کاون څخه، چې د بنګال د ښارونو پای دئ، بيا تر د سند د مځکې د نيلاب
السِّنْدِ، مَسَافَتُهَا اَلْفٌ وَّخَمْسُ مِائَةِ كُرُوْهٍ، وَالْكُرُوْهُ
تر اوبو پورې وو، د دې سړک مسافت يو زر او پنځه سوه کروهه وو او کروه
فِيْ عُرْفِ اَهْلِ الْهِنْدِ مِيْلَانِ، وَاَسَّسَ فِيْ كُلِّ كُرُوْهٍ
د هنديانو په اصطلاح دوه ميله ته وايي. او په هر کروه کې يې يو کاروان سرای
رِّبَاطًا، وَرَتَّبَ بِهِ طَعَامًا لِاَهْلِ الْاِسْلَامِ خَاصَّةً
جوړ کړ، او په هغه کې يې په خاص ډول د مسلمانانو لپاره او په خاصه توګه د هنديانو
وَلِلْهَنَادِكِ خَاصَّةً. وَاَسَّسَ مَسْجِدًا فِيْ كُلِّ كُرُوْهٍ
لپاره خواړه ترتيب کړل، او په هر کروه (دوه ميله) کې يې له پخو خښتو او ګچو څخه
مِّنَ الْاٰجُرِّ وَالْجَصِّ، وَوَظَّفَ الْمُؤَذِّنَ، وَالْمُقْرِئَ
يو مسجد جوړ کړ، او په هر مسجد کې يې مؤذن، قاري

وَالْاِمَامَ فِيْ كُلِّ مَسْجِدٍ، وَعَيَّنَ فِيْ كُلِّ رِبَاطٍ فَرَسَيْنِ
او امام وټاكى، او په هر كاروان سراى كي يې دوه آسونه د بيړني خبر رسولو لپاره
لِلْبَرِيْدِ فَكَانَتْ تُرْفَعُ اِلَيْهِ اَخْبَارُ نِيْلَابَ اِلٰى اَقْصٰى
وټاكل، نو هره ورځ به د نيلاب څخه د بنګال د ښارونو تر پايه پوري
بِلَادِ بَنْكَالَهْ كُلَّ يَوْمٍ، وَغَرَسَ الْاَشْجَارَ الْمُثْمِرَةَ
خبرونه ورته رسول كيدل. او د پراخ سړک پر اړخونو يې
بِجَانِبَيِ الشَّارِعِ الْكَبِيْرِ، فَيَسْتَظِلُّ بِهَا الْمُسَافِرُ
مېوه لرونكي وني وكرلې، تر څو مسافر د هغو په سايه كي استراحت وكړي
وَيَاْكُلُ مِنْهَا. وَكَذٰلِكَ غَرَسَ الْاَشْجَارَ الْمُثْمِرَةَ
او خوراک ترې وكړي. او همدا ډول يې له آګرې څخه تر مندو پوري پر لارو باندي
عَلَى الطَّرِيْقِ مِنْ اٰكْرَهْ اِلٰى مَنْدُوْ، وَبَيْنَهُمَا مَسَافَةُ
هم مېوه لرونكي وني وكرلې، چي د هغو تر منځ مسافت
ثَلَاثِ مِائَةِ كُرُوْهٍ، وَاَسَّسَ الرِّبَاطَاتِ وَالْمَسَاجِدَ،
درې سوه كروه وه، او كاروان سراونه او مسجدونه يې پر ط جوړ كړل.
وَبَلَغَ الْاَمْنُ وَالْاَمَانُ فِيْ عَهْدِهٖ مَبْلَغًا لَّا يَسْتَطِيْعُ اَحَدٌ
او د هغه په عصر كي امن او امنيت دې حد ته ورسېدى چي هيڅ يو كس نه سواى كولاى
اَنْ يَّمُدَّ يَدَهٗ فِي الصَّحْرَاءِ اِلٰى عَجُوْزٍ تَحْمِلُ مَتَاعَهَا.
چي په صحراء كي يوې سپين سرې ته لاس وروړي چي هغه خپل سامانونه انتقالوي.

وَكَانَ شِيْرُ شَاهُ يَتَاَسَّفُ عَلٰى اَنَّهُ نَالَ السُّلْطَةَ فِيْ كِبَرِ
او شير شاه به پر دې افسوس کاوه چې هغه واک ته د عمر په وروستيو کې
سِنِّهِ، وَيَقُوْلُ: اِنْ سَاعَدَنِي الزَّمَانُ اَبْعَثُ رِسَالَةً
ورسېد، او ويل به يې: که ما ته وخت فرصت راکړي نو زه به د روم ستر امپراتور
اِلٰى عَظِيْمِ الرُّوْمِ وَاَسْئَلُهُ اَنْ يَّرْكَبَ بِعَسَاكِرِهِ
يو پيغام ولېږم او ترې وبه غواړم چې خپل پوځيان
اِلٰى بِلَادِ الْفُرْسِ، وَنَحْنُ نَرْكَبُ مِنْ هَاهُنَا اِلٰى تِلْكَ
د فارس ښارونو ته راولي او موږ له دې ځای څخه و هغه ښار ته
الْبِلَادِ، فَنَدْفَعُ بِمُسَاعَدَةِ مَلِكِ الرُّوْمِ شَرَّ الْاَوْبَاشِ
ورسو، نو موږ به د روم د باچا په مرسته د هغو ناوړو اوباشانو (بد معشانو)
الَّذِيْنَ يَقْطَعُوْنَ طَرِيْقَ الْحُجَّاجِ، وَنُحْدِثُ شَارِعًا
خلکو مخه ونيسو چې د حاجيانو لارې وهي (چورويي يې) او تر مکې مبارکې پورې
اٰمِنًا اِلٰى مَكَّةَ الْمُبَارَكَةِ وَلٰكِنَّ الْاَجَلَ لَمْ يُمْهِلْهُ
به يو امنيتي سړک جوړ کړو، ليکن اجل (د مرګ نېټې) هغه ته مهلت ورنه کړ،
فَمَاتَ قَبْلَ بُلُوْغِهِ اِلٰى تِلْكَ الْاُمْنِيَّةِ وَكَانَ ذٰلِكَ
نو هغه مخکې تر دې چې دا هيلې يې پوره سي، وفات سو. او د هغه وفات
فِيْ ثَانِيْ عَشَرَ مِنْ رَبِيْعِ الْاَوَّلِ سَنَةَ (۹۵۲) هـ
د ربيع الاول په (۱۲) په کال (۹۵۲) هجري کې وسو.

(نزهة الخواطر للشيخ عبد الحي الحسنى ملهي)

د شيخ عبد الحي الحسني ملهي له نزهة الخواطر څخه

الاسئلة (١)

(١) ما هو من اعظم مآثر السورى؟

(٢) ماذا اسس فى كل كروه؟

(٣) كيف كانت ترفع اليه الاخبار كل يوم؟

(٤) كم مسافة بين اكره ومندو؟

(٥) ميز بين اقسام الكلمة الثلاثة فى الجمل الآتية

واستخرج كلا منها الى عمود خاص به؟

كان السورى يتأسف على انه نال السلطة فى كبر سنه.

غرس الاشجار المثمرة بجانبى الشارع.

لكن الاجل لم يمهله فمات قبل بلوغه الى تلك الامنية.

تمت

(١) محترم استاذ دې له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کې ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

د مفتي ابو الاخلاص الفقهي صاحب نور چاپ سوي آثار

۱. فيض الحقانية شرح كافيه / تصحيح او تشريح / انبياء كتب خانه
۲. الفهم القريب شرح شرح التهذيب / انبياء كتب خانه
۳. تقريب الكريمي شرح بيضاوي / انبياء كتب خانه
۴. قدوري: تصحيح، تشريح او صحيح متن / مكتبه رحمانيه
۵. التحفة الكريميه حاشية على الهداية / انبياء كتب خانه
٦. كشف التحريفات / مكتبة الحراء
۷. معلم التجويد: تصحيح او تشريح / انبياء كتب خانه
۸. علم الصرف: تصحيح او تشريح / مكتبة الحراء
۹. فتاوى حنفيه نقشبنديه كريميه / زير طبع
۱۰. فتاوى فقهيه مجلسيه پښتو / زير طبع
۱۱. الارشادات في مباحث البدعات / مكتبه رحمانيه
۱۲. فوائد كريميه في معلومات مذهب الحنفيه / مكتبه رحمانيه
۱۳. فوائد اخلاصيه في معلومات قرآنيه / مكتبه رحمانيه
۱۴. شروط الصلوة، پښتو: / مكتبه رحمانيه
۱۵. الفقه الاكبر: تحقيق، تشريح، وضاحت / مكتبة الحراء
۱٦. البدر الجلي شرح ايساغوجي، تحقيق تصحيح / انبياء كتب خانه
۱۷. معرفة الفقه وصاحب الهداية والهداية / كريميه مدرسه
۱۸. صلوة حفظ القرآن پښتو / كريميه مدرسه

١٩. خير الاصول في حديث الرسول: ژباړه، تصحيح وتشريح / انبياء كتب خانه
٢٠. علم النحو: ژباړه او تشريح / مكتبة الحراء
٢١. تسهيل الادب: ژباړه او تصحيح / انبياء كتب خانه
٢٢. مجموعة الرسائل التسعة العشرة / كريميه مدرسه
٢٣. اكمال الاطمينان بر هامش تكميل الايمان فارسي / كريميه مدرسه
٢٤. رساله: وهابيان د اسلام له نظره پښتو ژباړه / كريميه مدرسه
٢٥. تيسير المنطق: ژباړه، تشريح او تصحيح / مكتبة الحراء
٢٦. تسهيل النحو: ژباړه، تشريح او تصحيح / مكتبة الحراء
٢٧. الطريقه العصرية اول: ژباړه، تشريح او تصحيح / مكتبة الحراء
٢٨. الطريقه العصرية دوهم: ژباړه، تشريح او تصحيح / مكتبة الحراء
٢٩. صرف بهائي: ژباړه، تشريح، تصحيح او تعليقات جديده
٣٠. عجائب كريميه في معلومات عجيبه / مكتبه رحمانيه
٣١. ميزان الصرف: ژباړه، تشريح او تصحيح / انبياء كتب خانه
٣٢. معلم الانشاء اول: ژباړه، تشريح او تصحيح / مكتبة الحراء
٣٣. معلم الانشاء دوهم: ژباړه، تشريح او تصحيح / مكتبة الحراء
٣٤. القراء الراشدة اول: ژباړه، تشريح او تصحيح / مكتبة الحراء
٣٥. القراء الراشدة دوهم: ژباړه، تشريح او تصحيح / مكتبة الحراء
٣٦. مفيد الطالبين: ژباړه ژباړه، تشريح او تصحيح / مكتبة الحراء
٣٧. زاد الطالبين: ژباړه، تشريح او تصحيح / مكتبة الحراء
٣٨. اخلاص الكريمي شرح فصول الاكبري پښتو /

۳۹. علم اليقين: پښتو شرح د نور اليقين / مكتبة الحراء

۴۰. مخزن الاسرار: پښتو شرح د كتاب الآثار / انبياء كتب خانه

۴۱. تهذيب الاخلاق: تعليق، تشريح او تصحيح / مكتبة الحراء

۴۲. تيسير مصطلح الحديث: تعليق او تصحيح / مدينه كتب خانه

۴۳. فوز الكبير: تعليق او تشريح / مدينه كتب خانه

۴۴. التبيان في علوم القرآن: تخريج تعليق او حواشي/ مكتبه اسلاميه

۴۵. المهند على المفند: تعليق او تخريج / مكتبه اسلاميه

۴٦. تحقيق الكريمي: پښتو شرحه د حُسامي / انبياء كتب خانه

۴۷. معلم الادب پښتو شرح د نفحة العرب / تصحيح او تشريح / مدينه كتب خانه

۴۸. معلم الراشده پښتو شرح د قرائت راشده / تصحيح او تشريح / مدينه كتب خانه

۴۹. تحقيق الطالبين پښتو شرح د مفيد الطالبين / تصحيح او تشريح / مدينه كتب خانه

۵۰. ۷۰ منتخبي دعاګاني: جمع، وترتيب وتصحيح / مدينه كتب خانه

د يادوني وړ ده چي د مفتي ابو الاخلاص الفقهي صاحب ګڼ شمېر نور تأليفات، تعليقات، ژباړي او تشريحات هم تر كار لاندي دي او ژر تر ژره به چاپ سي ان شاء اللّٰه تعالى.